# د مینې جادو

محمد آصف عمر

د افغانستان د فضايي څېړنو د مرکز ساعت وکړنګېد. د تالار په منځ کې میزونه تش شول. عینکۍ پېغله لا هم په کمپیوټر پسې نښتې وه. مامورین د غرمنۍ لپاره ویترین ته ودرېدل. پاس پر سپین دېوال په طلایي کرښو لیکل شوي وو «وخت مو له ځان سره بیایي. څوک چې نه ځي په کشېدو یې هڅه ونه ماتېږي» هېڅا سترګې ورجګې نه کړې. د پاخه عمر سړي او ښځې په قابونو کې خواړه واخېستل. د دېوال په لوی سکرین کې د غشي په شان د نوي فضايي بېړۍ پر تصویر غږېدل. د تالار په پای کې سپین ماشینونه لکه صندقان قطار ولاړ وو. په تورو ښیښو کې یې لیکنې ښکته پورته کېدلې. مخ ته یې ببر سري او ببرېيري ځوان شخوالي باسه. غټه پزه یې په سوک ټېل وهله. د ویترین تر څنګ همکارانو ته یې عینکۍ پېغله وښودله:

– ای په ارین مینه ګورئ؟ د مورمړې بیا نس هېر دی. زنې به یې وترل شي خو ارین به پیدا نکې.

ټولو هغې ته وکتل. هررر په خندا شول. هغې نه اورېدل. د کمپیوټر په ټچ سکرین باندې یې ګوتې ځغلولې. یو دم یې منډه واخیستله. د مېز په پښه کې بنده شوه. تیندک یې وخوړ. نارې یې کړې:

– الئ الئ! وشو، وشو.

ټولو مخونه ورواړول. هغه په اوږدې لمنې کې په لنډو قدمونو خپل ځای ته راغله. په کمپیوټر کې یې ټنۍ ووهله. په لوی سکرین کې تصویرونه ورک شول. د [illegible] متن راغلو «۶ [illegible] ۲۰۲۲ کال» [illegible] تونل [illegible] خبر بېرۍ پیدا شوه. په ملا یې ارین لیکل شوی و. د عینکۍ لپوتتوب نورو ته لاره وکړه. د خوښۍ چیغې شوې. ټول کمپیوټرونو ته کېناستل. ارین بېړۍ نااشنا ستوري ته نژدې کېدله. وچه یې په اوبو کې لکه ټاپو ښکارېدله. ختیځ او لوېدیځ ته یې دوه نور ستوري وو. د ځمکې د سپوږمۍ څلور برابره برېښېدل. د هغوئ وچه نسبتاً زیاته وه. چاغ سړی تالار ته راغی. لاسونه یې وښورول:

– بلاوهلو! مه پرېدئ چې بیا ورکه شي! دا سبیلمړې دا دوه کاله چېرته وه؟

نرۍ ښځې قاب ټېل واهه. له کمپیوټر څخه یې مخ وګرځاوه. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مشره! ما نه ویلې چې د اړیکو په سیستم کې ستونزه ده؟ نه دې منله.

– امم. ای التـه باید ژوند وي. اکسیجن او نایتروجن یې ۹۹٪ دي. لکه د ځمکې د اتموسفیر.

ارین بېړۍ د ستوري د وچې دپاسه ودرېدله. د توتکیو په شان کمرې ترې کېوتلې. له ژوندیو توتکیو سره یې فرق نه کېده. یو ازې وزرونه یې نه رپېدل. په وچه کې ښارونه څرګند شول. د مامورینو سترګې غټې غټې راووتلې. کمرې د لوی ښار په سر ټیټې شوې. په سرکونو ګاډي ځغلېدل. په مرکز کې جموجوش و. ښځې لرې لیدل کېدې. په اوږدو جامو او ټیکریو کې په خپلو سرېو پسې تللې. نارینه په کمیس او پرتوګ کې وو. ماشومانو د خلکو په منځ کې د نیولو لوبه کوله. کلسری هلک په پکولي ځوان ولګېد. هغه په سپېره وواهه. ماشوم په ژړا شو. د جګې شملې سپینږیري د ځوان کار وستایه. دلته په تالار کې د مامورینو خولې نورې هم وازې شوې. عینکۍ پېغلې غږ کړ:

– وی! پښتو وایي.

د شنې دریشۍ ښځې سر وښوراوه:

– اها، داسې ښکاري لکه د یوویشتمې پېړۍ پښتانه.

د غټې پزې ځوان ببره بېره وخوځېدله:

– ای ابل تصویر کې وزه وګورئ وزه! توت ته یې پښې اچولي.

یوې کمرې له لېرې څخه څلور خړې ماڼۍ ښودلې. د ښار له ودانیو څخه یې هم په بڼه، هم په تنه کې فرق درلود. د فضایي څېړنو چاغ مشر ورته ګوته ونیوله:

– بلاوهلو! امدا ګردې ماڼۍ وڅارئ ګردې ماڼۍ!

عینکۍ پېغلې پر کمپیوټر ګوتې وټکولې. ددې کمرې تصویر ټول سکرین ونیو. کمره د لوی حلقوي دېوال لویې دروازې ته نژدې کېدله. پر سر یې غټ لیکل شوي وو «شاهي حصار» هغه د دېوال له سره سمسورې ساحې ته ننوتله. په څنډه کې یې له میدان څخه الوتکه نېغه والوتله. کمره یوې ماڼۍ ته سیخه شوه. مخ ته یې د لمن په شان ګرده زینه وه. د دروازې پر سر د «۱» عدد ښکارېده. شاته درې نورې ماڼۍ لکه مقتدیان ولاړې وې. د «۲، ۳، ۴» شمېرې یې لرلې. د دریمې ماڼۍ ګرد چاپېر عسکر ګرځېدل. کمره د دویم منزل په کړکۍ ننوتله. د تالار د لوی قندیل ترڅنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودرېدله. لاندې سرې چوکۍ نیمې په خلکو ډکې وې. د دریځ په وړې طلایي څپرې کې پلن پاچا ونښورېد. په غوټۍ شکله طلایي تاج کې الماس وځلېد. پاچا له ګیلاس څخه غړپ وکړ. زنه یې د غاړې په غوښې کې ننوتله. ویې ویل:

– زما پلار به ویل د ناریالین ستوري سره دوستي کوئ. امروتین د دوستۍ ندی.

تر څنګ یې په شنې څپرې کې زېږور سړي د سپینې لونګۍ شمله شاته کړه. د پاچا خبرې ته یې سر وښوراوه. مخ ته یې لوحه وه «عالي قدر ستر ملا» په بې څپرو چوکیو کې وزیرانو په کتابچو کې یاداشت اخېست. د پاچا شاته د شپږو ملکو له منځه شاهزادګۍ تورې غټې سترګې وروستي قطار ته نیولې وې. هلته ځانته ناست غنمرنګی ځوان ناآرامه برېښېده. په شنو سترګو یې غلي غلي د وتلو اشاره کوله. شاهزادګۍ ورسره نه منله. ګرد مخ یې وځنډه. وړوکی تاج یې وښورېد. ځوان تریپ شو. منګوله یې پر ښویه وېښتانو څټ ته کش کړه. پاچا خپلې وینا ته دوام ورکړ:

– اصل کې پلار مې په حقه و. دادی امروتین ستوری زموږ په غنمین ستوري کې لاسوهنه کوي. غله او داړه ماریې پاڅولي. نوم یې مقدسپال ورکړی. موږ ته کافر وایي. دلته عالي قدر ستر ملا شته. د قانون له مخې دی کولی شي ما له پاچایۍ لرې کي. که زه د دین لږ خلاف وکم اول مې دی نه پرېدي. خو مقدسپال وایي ما د پښتو د قرآن احکام ندي پلې کړي. او کمقلان یې مني. تاسې قومي مشران خلک وپوهوئ! که موږ او تاسې یو لاس یو خامخا کامیابېږو.

چکچکې شوې. شینسترګي ځوان بیا بیا شهزادګۍ ته د وتلو اشارې وکړې. هغې پر له پسې ردوله. پاچا قومي مشرانو ته د خبرو وار ورکړ. د تالار له منځه په خړ واسکټ کې پوخ سړی پاڅېد. په ببرې شناوئ ږیرې یې لاس راکاږه:

– اعلی حضرته! تاسې او ستر ملا دې خدای زموږ د سره نه کموي. زموږ د سپین ساحل ښار کې ځوانان دي. شعرونه او د دروغو کیسې لیکي. زموږ بچي مینې ته تشویقوي. دا لا څه، ځینې خلک ولور د قانوني اندازې نه کم تاکي. داسې ام شته، سړی ووژل شي. جرګه په بدو کې د جینۍ د ورکولو فیصله وکي. خو اغوئ پیسې ورکي. بل، اصیل خلک د کسبیانو سره خپښې کوي. دغسې د دین خلاف کارونه دي چې خلک د دولت په ضد مقدسپالو ته ځي.

پاچا په نظامي یونیفورم کې د کورنیو چارو برېتور وزیر ته مخ کړ:

– وینې؟ بیا وانه ورم.

شینسترګي ځوان تېره زنه په ګوته وګروله. په هماغه ګوته یې شاهزادګۍ ته ګوابن وکړ. هغې د سترګو تر کونجونو ملکو ته وکتل. وروسته ځوان ته برګه شوه. له سر قطار څخه د جګې شملې والا پاڅېد. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اعلی حضرته! زه د دین پرست د ښاره یم. الته ځوانان اسلامي لباس ته سپکاوی کوي. کله کمیس او پرتوګ اوږد کي، کله لنډ، کله تنګ. بل قانون وايي د یوې نه زیاتې ښځې وکړ. یا یې ښځې مه کوئ. مګر الته د یوې ښځې والا بې غمه ګرځي. بانه کوي چې ښځې نشته. که د نورو ښارونو خلک لوڼې ورکي دا بانه به یې ام ختمه شي.

پاچا سر وخوځاوه. زنه یې په غاړې کې ننوتله. د شینسترګي ځوان زړه تنګ شو. لاس او سر ته یې ټکان ورکړ چې ولې نه وځې؟ شاهزادګۍ ترې مخ واړاوه. برېتور سرې جګ شو. څنګ ته د تنکي ځوان په اوږه یې لاس کېښود. ویې ویل:

– اعلی حضرته! موږ چې ښځې کمې وي الکان ساتو. دوئ دې ام وساتي. زموږ په غیرت آباد ښار کې بل غم دی. خلک په ودونو کې پټ ساز غږوي، سندرې وايي. دې نه مو خلاص کئ! د خدای په غضب به اخته شو.

پاچا وزیر ته د یاداشت اخېستو اشاره وکړه. د تالار له منځه د ننګر سپینږیری پاڅېد. د شینسترګي ځوان ټول پام هغه ته شو. شاهزادګۍ ته هم جالبه وه. سپینږیري عمیق نفس واخیست. لکه پهلوان چې برید ته ځان چمتو کوي. ویې ویل:

– اعلی حضرته! دا ډېر وخت مې په زړه کې خبرې غوټه دي. نور نه کېږي. نیکه مې ویل موږ درې سوه کاله مخکې د لرې ستورې نه راغلي یو. ځمکه یې باله. الته ډېر هېوادونه وو. زموږ هېواد افغانستان نومېده. بل اینګلیستان و. اغه موږ د طلاوو او الماسو د کیندلو دپاره دلته راوستلو. دوو بېړیو امروتین او ناریالین ستورو ته د نورو غریبو هېوادو کارګر بوتلل. میاشت وروسته څه خبره شوه. اینګلیسان په بېړیو کې لاړل. امغسې ورک شول.

د پاچا په غټ ځان کې یوازې لاندینۍ ژامه وخوځېدله. ویې ویل:

– ددې نه خبر یو. که خاصه خبره نه لرې چې بل چاته وار ورکو.

– لرم یې. نو د اینګلیسانو سره په بېړیو کې د خوړو ذخیرې ام لاړې. زموږ خلک اریان دریان پاتې شول. بچي یې وږي وو. په سابو او ښکار یې ګوزاره کوله. دې کې چالاکانو ځمکې ونیولې. ځانونه یې د قبیلو مشران کړل. په ګډه یې پاچایي جوړه کړه. قرآن ورسره و. مګر یو یې نه پوېېده. د ځانه یې نوی قرآن په پښتو ولیکه. خپل رواجونه او نفساني غوښتنې یې پکې واچولې. ولور یې جګ وټاکه. ډېرې ښځې کول یې جبري کړل. چې غریب یې وس ونلري. چې دوئ ته پاتې شي. مینه، هنر، ادبیات، پرمختګ او نوښت یې ګوناه وګڼل. ځکه خو په دونه کالو کې زموږ ژوند خاص تغیر ونکه. نیکه مې ویل دا قرآن ندی. نه دا د اسلام اصول دي. اعلی حضرته! زه وایم د پښتو په قرآن د سره غور وکو.

شینسترګي ځوان ژر پاچا ته وکتل. هغه په آرامه د کورنیو چارو پر وزیر امر وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اصل کې دا سړی کافر دی. اعدام یې کئ!

عسکر ننوتل. سړی یې ونیو. هغه چیغې وهلې:

– زه کافر نه یمه. زه رښتیا وایمه. وه د خدای دپاره. دا څه احمقان دي...

عسکرو په کشولو له تالاره وویست. د یو قومي مشر آواز راغی «ښه سو. چې بیا د خلکو د بې لارې کولو کوشش ونکي» شاهزادګۍ د تالار وروستۍ لیکې ته وکتل. شینسترګی ځوان نه و. دا هم تېزه ووتله. په تالار کې شور و. پاچا د غلي کېدو او د غونډې د دوام اشاره وکړه. چوپتیا شوه. د پکول والا سړی پاڅېد:

– اعلی حضرته! تاسې او سترملا دې خدای زموږ د سره نه کموي. موږ ام یوه ستونزه لرو. زموږ ښار کې ډېر خلک د ناریالین څخه دي. پښتو ګوډه ماته وایي. موږ وایو چې مکتبونه او دفترونه د اغو په ژبه کو.

– بده نده. زما مور ام د ناریالین وه. ښه نو ستاسې په ښار کې به اغوئ څو کورنۍ وي؟

– تر څلورسوو ام ډېرې دي.

– پښتانه څو کورنۍ دي؟

– دونه ندي. زیاتو کم یو لک به وي. زموږ خلک تکړه دي. بله ژبه زر یادوي.

پاچا د سر په خوځولو ومنله. دباندې په پراخ دهلېز کې سپینږیري ځان شاته شاته کاوه. دوو عسکرو ډیکې ورکولې. بالاخره یې له تخرګونو لکه جوال کش کړ. په زینه کې یې زنګنونه ولګېدل. نارې یې کړې:

– اخ اخ ټوک ټوک شومه. وه تاسې خو د کمال شاه پاچا نه ام کمقله یئ...

خو عسکرو یې خبرې نه اورېدلې. نابېره درب درب شو. د دواړو بې هوښه جسدونه وکولېدل. شینسترګي ځوان سوټی تر تور څادر لاندې کړ. سپینږیري ته یې وویل چې د ماڼۍ له شاتنۍ دروازې وځو. هغه ورسره ګوډ ګوډ په زینه کېوت. دواړه د اول منزل په دهلېز کې روان وو. سا یې سوزېدله. له یوې دروازې څخه غږ شو:

– میونده! دېخوا راشه! میونده!

ځوان شټ وهل، ودرېد. سوټی یې جنګ ته تیار کړ. په نیمکښه دروازه کې یې شاهزادګۍ ولیدله. دده شخې اوږې بېرته سستې شوې. تېز ننوت. هغې په لوی مېز ځان تکیه کړ. پزه یې جګه ونیوله. ویې ویل:

– نه پوهېږم اعصاب دې د لاسه ورکړي څه بلا. دباندې نه ګورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند شنې سترګې کړکۍ ته واړولې. هرچېرته عسکران وو. شاهزادګۍ سپینږیري ته ګوته ونیوله:

– دا څوک دی؟

میوند د مېز له قطارو چوکیو څخه یوې ته تس ورکړ. ویې ویل:

– اینسان دی. ته تحقیق کوې که کومک؟ موږ وخت نلرو.

شاهزادګۍ سوړ اسویلی وکړ. سپینږیري ته یې الماری وښودله:

– په دې کې د ملایانو جامې دي! چټک یې واغونده!

شېبه پس هغه له طلایي ستنې راتاو شو. په سپینو جامو، تور واسکټ، سپینې لونګۍ کې بېخي بل سړی ښکارېده.

ګوډ ګوډ هم نه کېده. شاهزادګۍ د هلېز ته ووتله. سړی یې دروازې ته برابر کړ. ویې ویل:

– څادر په سر راکش که! زړور ځه! ملایانو نه څوک پوښتنه نه کوي.

عسکرو سپینږیری ونه ګرځاوه. میوند د هوسایۍ سا واخېستله. له ډېرې خوشحالۍ یې مخ آسمان ته ونیو. غبرګې

منګولې یې په ښویه وېښتان شاته کشې کړې. سترګې یې شاهزادګۍ ته واړولې:

– ته څو نه ښه جینۍ یې.

هغې په هسکه غاړه مرموز وکتل. ویې پوښتل:

– قار دې سوړ شو؟

د میوند غنمرنګی مخ له خجالته سوربخن شو. شاهزادګۍ ژوره سا واخېستله. عسکرو ته یې لاس ونیو:

– خدای خدای به کوو چې راباندې پوه نشي. که نه نو...

میوند یې هم د بدې پایلې اټکل کاوه. ځکه یې مړاوي وکتل. هغې بېرته مخ راوګرځاوه. برګه شوه:

– لېونیه! یو خو ته په لوبو نه مړېږې. په غونډه کې څوک ایشارې کوي؟

میوند موسکی شو. سر یې ښکته واچاوه. دواړه بهر د لوبو ځای ته روان وو. موټر ودرېد چې دوئ تېر شي. په باډۍ

کې د یو ځوان غټ غټ عکسونه وو. په منځ کې بېل شویو وېښتانو یې غوړونه او څټ پټهول. میوند وپوښتل:

– دا څوک دی ماما؟

موټروان وچ ګنجی سر له ښیښې راووېست. آسمان ته یې سترګې جګې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د امروتین ستوري شازاده راځي. وایي اصل کې ځان ته جینۍ ګوري.

شاهزادګۍ وبنګېدله «ښایسته ځوان دی» میوند کړېږ وکتلې. هغې مخ واړاوه. خندا یې پټه کړه. د پاچا او قومي مشرانو غونډه ختمه شوه. خلک ډله ډله وتل. د کورنیو چارو د برېتور وزیر رنګ زېړ اوښتی و. پاچا ته یې د مجرم د تېښتې خبر ورکړ. د هغه مخ تک سور شو. ګوته یې وښنډله:

– که دې اغه سپینږیری د ملګرو سره رانه وست خپله استعفا ولیکه!

وزیر تعظیم وکړ. روان شو. میوند او شاهزادګۍ د لوبو په ساحه کې د نښې ویشتلو میدان شاته پرېښود. د بلیارد او پینګ پانګ له میزونو او د لامبو له ډنډه تېر شول. تالونو ته وختل. شاهزادګۍ له زانګلو خوند اخېست. له هر کش سره یې نارې وهلې« های، ههای» میوند هغې ته خوشحاله و. لاس یې په ښویه وېښتانو څټ ته یوړ. نابره یې بل لاس خوشې شو. په چمن کې یې کلک درب وخوړ. ښي زنګون یې درد کاوه. ګوډ ګوډ چوکۍ ته لاړ. پښه یې کله قاتوله، کله سیخوله. شاهزادګۍ په منډه راغله:

– مه مه مه! مه یې خوځوه! زه دستي ډاکټر راولمه.

– نه، پرېده! دو نه ژوبله نده.

شاهزادګۍ راوګرځېدله. سترګې یې تېرې کړې:

– ویمه دا څټ ته د لاس وړلو څه عادت دی؟ بند یې که!

میوند موسکی شو. زنه یې لاتېره راووتله. په ژوبله پښه ودرېد. ویې ویل:

– منې دا عادت ام د تال د لاسه پیدا شوی دی.

شاهزادګۍ ورځیر شوه. هغه شونډې کېکاږلې:

– اته کلن وم. زموږ کډه د لته نوې راغلې وه. وزیرانو مېله جوړه کړه. موږ یې بچیانو سره مستي کوله. غټو غټو الکانو موږ غوندې تال نشو خوړلی. دې کې یو ته قار ورغی. زما د ورور سره غېږ په غېږ شو. ما د پښې نه ونیو. چپه مو که. ایسته وزیر راغی. موږ ته یې سپېرې بندې کړې. زه یې تېل وهلم. څټ مې په تېره او سپنه ولګېد. بر بر بر وینه لاړه. بیا مې مورپټۍ پې کېښودله. چې په ښه کېدو شو خارښت یې شروکه. ما پې ګوتې سولولې. امدا سې مې عادت شو.

شاهزادګۍ د هغه د سپین پرتوګ د خاورو چاپونه تک وهل. میوند په ګوډه پښه وګرځېد. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– منې چې بېخي درد نه کوي.

– شوکر چې درد نه کوي! په ما دې ډار تېر که.

– څه! ته وزانګه!

– نه ایسته که! ټال دې ورک شي! راځه الته د ماشومانو غوندې پټېټونی وکو!

میوند جګو لوخو ته وکتل. رنګ یې سپین واوښت. ژر یې مخ وګرځاوه. هغې کټ کټ وخندل:

– مه ډارېږه! لوخو کې ایڅ شی نشته.

میوند بلې خوا ته روان شو. دواړه د شطرنج مېز ته کېناستل. ده پیاده مخ ته کړ. ویې ویل:

– ته ام د مکتب د ټیم غړې وې زه ام. اوس به مالومه شي.

شاهزادګۍ آس میدان ته وباسه. غټې سترګې یې ورجګې کړې:

– تا خو یو میډال ام ندی ګټلی.

– د پاچا ماما لور نه ومه کنه.

شاهزادګۍ کټ کټ وخندل:

– ښه څه، دلته خو واسطه نشته.

لوبه حساس پړاو ته ورسېدله. د میوند څېره ژور چورت تروه کړې وه. شاهزادګۍ ورته موسکۍ شوه:

– جالبه ده. اوس ته اېڅکله نه پرېدې چې بل څوک یې وګټي؟

میوند د هغې د مخ نازک پوست او ګردو شونډو ته ځیر شو. ویې ویل:

– زه تا ګټمه.

– که یې بایلې؟

– که دې بایلمه اغه ورځ به مې وروستۍ وي.

شاهزادګۍ سمدلاسه خپل پاچا د تسلیمۍ په معنا سملاوه. سترګې یې پټې او لاس یې جګ کړ:

– هیله کوم! دا خبرې مکوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځل ميوند کټ کټ وخندل. له لېرې عسکران را روان وو. شاهزادګۍ وارخطا شوه. سترګې يې ميوند ته واړولې.

هغه وپسېد:

– که ته ځان آرام نکې نو ربښتيا ګيرېږو.

عسکرانو د لوبو ساحه کونج په کونج ولټوله. د لوخو ساحې ته لاړل. دوئ هم روان شول.

ميوند د شاهي حصار په څنډه کې وړوکي شين کور ته ننوت. د سالون په تور او سپين کوچ کې ډنګره ښځه پرته وه.

تلوېزون يې کوت. سر يې جګ کړ. د زنې تېره څوکه يې وسولوله. ميوند وپوښتل:

– څنګه يې مورې؟

– وی زويه، ستا سات تېر دی. ما څه کوې؟

– داه! دې ته نو څه وايې؟

ميوند له دريو کوټو څخه منځنۍ ته ننوت. مور يې ورپسې نارې کړې:

– که زما غم درسره و د شازادګۍ نه به لرې ګرځېدې.

ميوند راووت. د آسماني جامو د تنېو په تړلو لګيا شو. تېره زنه يې وخوځېدله:

– اغه چا ويلې؟ لکه د کويې قاف بلبله، لکه د چين ماچين ښاپېرۍ. منې زه خو امدغو خبرو مين کړم.

– لېونی لېونی مه کېږه! ستا واده مې آرمان دی، بس.

ميوند يې څنګ ته کېناست. له تش قاب څخه يې دکېک خڅوڅکی خولې ته کړ. تېره زنه يې وخوځېدله:

– خو زه امدا غمه درته خورم کنه.

کټ کټ يې وخندل. هغې د زوی غومبوري په ورغوو کې ونيول. سپېرې شونډې يې ورپېدلې:

– صدقه دې شمه! مور ته غريبان لور نه راکوي، دا خو پاچايان دي.

– غم مکوه مورې! د مينې جادو ته څوک نشي ټينګېدلی. پاچا به ام غاړه ږدي.

– وه ته څونه کمقل يې زويه. تر اوسه دې د ډم حيثيت ندی پېژندلی.

په ميوند ښه ونه لګېدله. له شوخۍ کېناست. مخ يې ځمکې ته کړ:

– زه د اعلی حضرت د شخصي شيفرونو ترجمان ام يم. منې د وزيرانو نه په ما ډېر باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موريې له غرېدجګولو سره بېرته په بالښت سر کېښود:

– چې آسمان شي بيا ام ډم يې.

ميوند په ښويه وېښتانو لاس کش کړ. د څټ په زخم يې کلک وسولاوه. کړکۍ ته ودرېد. د سرک په غاړه يې د امروتين شاهزاده عکس وليد. ډاربده چې هغه ورځخه شاهزادګۍ بو نه ځي. مخ يې له قهره وپړسېد. مګر مورته يې هم پام و. ډاکټر ويل هغه بايد خوشحاله وساتل شي. ده ځان ښه آرام کړ. بېرته راوګرځېد. موسکى و:

–منې امغسې به کېږي چې ته غواړې. ته ودرېستا د خوښې کېک راوړم.

تېز ووت چې موريې ونه دروي. د هغې سترګې ډکې شوې. وبنګېدله «کاش چې دې پلار يا ورور ژوندى واى. اغوئ به پوى کړى وې»

ګردکۍ پېغلې د مغازې په اوږد ويترين کې خواړه کتل. د تور حجاب څنډه يې په تندي راکشه کړه. د اوږدې بڼېرې او لنډو وېښتانو نرى ځوان ورسره ولاړو. غلى غلى د واده په باب بنګېده. پېغلې نه منله. ځوان غرېدجګ کړ:

– بيا به دې کوزده ام راسره نه کوله.

د پېغلې غټې اوږدې سترګې تېرې شوې. ځوان يې لېرې د الماري څنګ ته بوت. ويې ويل:

– خداى شته ما بېخي مېړه نه کوه. قانون دى. څه وکمه؟

– اخله نو. ته قانون پرېده! خلک مردار دي. چې مجرده جينۍ يې خوښه شي لاس اچوي.

– دونه چورام ندى نو.

– دى کنه. زما خورته الک لاس واچوه. مشران يې د دښمنۍ له ډاره په ننواتې راغلل. ويلې جينۍ کوو. موږ ويل بدنامه شوه نو. ورکوو يې. د خور مې اغه د سپي نه بدې شو. بانه يې وکړه چې بده مريضي لرمه. ناسته ده.

پېغلې سوړ اسويلى وکړ:

– خداى شته، د بنې د نوم نه مې کانګې کېږي.

ځوان په اسويلي مخ بلې خواته وګرځاوه. پېغلې راکش کړ:

– ته دېخوا ګوره! زما پلار سترملا دى سترملا. پاچا د چوکۍ نه لرې کولى شي. شي که نشي؟ ښه نو، د ښځو يې هره ورځ جنګ وي. چې موږ واړه وو مور مې د ځانه لرې نه پرېښودو. بنو يې په زامنو وهلو. خداى شته اغوئ به مې مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسې د دروغو خبرې ترلې. یو ځل خو یې د یارانې تورپې ولګوه. نژدې مې پلار روژلی وه. خواره، هرکله به په سرو سترګو ناسته وه. چې مړه شوه ایسته مې د پلار سرکار وکه. موړ ته یې بېل کور جوړ که!

– ربښتیا، مور دې څنګه مړه شوه؟

– موړ تېرېدلو. د الکانو جنګ شو. چې تا ولې زما دخور نوم واخېست. ډزې شوې. مور مې ولګېدله.

دواړه غلي شول. پیغلې نرۍ پزه په ګوتو کېکاږله. غټې اوږدې سترګې یې جګې کړې:

– ځه امغه د ماما لور دې وکه کنه!

– اخله نو. څنګه یې وکمه؟ پیسې مې بندې دي.

– چې ما واده کې بیا به څنګه شي؟ په شپږو میاشتو کې باید بله ښځه وکې.

– دونه به مې تندی سپېره نه وي. پیسې به پیدا شي.

– که نشي؟ څه خبره ده؟ د غریبانو غوندې بې ښځې ګرځه کنه!

پیغلې پخ وهل. کوژدن یې خفه ووت. میوند راغی. سر یې پیغلې ته نژدې کړ. وپسېد:

– سرتاجې خورې! منې په بادام ډېره ګرانه یې.

د سرتاجې شونډې په خندا کشې شوې. ګرد مخ یې له شرمه تک سور واوښت. ویې ویل:

– څه پې وکمه؟ دا پرېده! مور کی دې څنګه ده؟

څو میوند خبره کوله ګردکی ځوان په سپین پټکي او سپینو جامو کې راورسېد. له قهره پشېده. ګردې وړې سترګې یې په سرتاجې برګې کړې:

– بادام دلته څه کول؟ آ؟ زر وایه! اغه څه کول؟

– زه څه خبره یمه. تصادفي راغلی و. دادی میوند وروړشته.

ځوان مخ میوند ته کړ:

– ښه. دغه حال دی.

بېرته پیغلې ته وګرځېد:

– ښه یې واوره ګوره! بل وار مو یو ځای ووینمه دواړه په قبر ننباسمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتاجې شا واړوله. هلک د دروازې په لور ټېل وهله. هغه نژدې لوېدلې وه. د میوند ماغزه وخوټېدل. ځوان یې له متې ونیو. په زوره یې ټکان ورکړ:

– اشرفه! شرمول مه کوه! مشره خور دې ده.

اشرف له بنګېدو سره ټېز ووت. سرتاجې له سورکي پلورونکي څخه کڅوړه واخېستله. میوند غږ کړ:

– ماته نیم چارک کېک وتله!

پلورونکي وپوښتل چې د کوم ډول څخه یې وتلم. په میوند بده ولګېدله. برګ شو:

– ته عقل لرې که نه؟ ولې تاته مالوم ندی؟ هره ورځ کوم یو اخلم؟

سورکي ځان کنټرول کړ چې مشتري خفه نه شي. سرتاجې غټې اوږدې سترګې میوند ته واړولې:

– دا غریب څه کړي؟ ماغزه دې اشرف خراب کړه. غوصه په ده باسې؟

میوند شنې سترګې پټې کړې. ژوره سا یې واخېستله:

– منې ایچېرته به دې زړه ښه نشي. دلته اشرف ګوره! الته مور راته بنګېږي.

– د شازادګۍ په موضوع؟

میوند سر وخوځاوه. د راوتو غابښونو نوکره راغله. سرتاجې کڅوړه ورکړه. دروازې ته په تګ کې یې وویل:

– خدای شته مور دې ښه وایي. ځان ته غم ګورې. دغه ځای دې ننښه.

ده ترې مخ وګرځاوه. د الماریو له منځه د سپورتي اندام سړی په سوربخنو جامو کې راغی. له خندا سره یې نرې برېتونه او د زنې ماشین شوی ږیره ارته وه. غېږه یې ورکړه. د میوند تېره زنه وخوځېدله:

– شېوه ګله اندېیواله! نن لکه چې ټول دلته رارروان دي. خو منې ستا په لیدو ډېر خوشاله شوم.

شېوه ګل اولین سړی و چې میوند ترې د ډمانو په اړه سپکه خبره اورېدلې نه وه. هغه وپوښتل:

– اې خانه! سرتاجه خور درته ولې په قاره وه؟

– د اغې بله موضوع شته؟ خوشې مې ورته راز ووایه. په غم واوښتلم.

– هههه. پوه شوم. ربښتیا وایي. د شازادګیانو چې چېرته ښه وي التهشپه وي ګوره.

میوند پلورنکي ته وکتل چې اورېدلي یې نه وي. هغه په خپل کار کې مصروف و. ده غږ تېټ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ټول په يوه تله مه تله کنه! د رياضي نوم دې اورېدلی؟ الته همجنسه سره جمع کېږي.

شېوه ګل کړس کړس وخندل:

– هو، خانان او غريبان نه جمع کېږي. ځکه چې غريبان د خانانو سيال ندي، وسايل دي.

د ميوند غړي بيا ځوړند شول. مخ يې بلې خوا ته وګرځاوه. شېوه ګل غبرګه کړه:

– ښه ځه، دا يې مينه. نور ودونه خو به کوې کنه؟ ښه نو؟

ميوند د کېک کڅوړه واخېستله. د دروازې خوا ته روان شو. ويې ويل:

– بل واده نه کوم.

– اوهو، اوهو! دين او قانون نه منې؟ بيا نو زندان دی. مينه خو بيا پاتې شوه.

دواړه دباندې ووتل. ميوند په آسمان کې نژدې ستورو ته وکتل. تېره زنه يې وخوځېدله:

– شوکر تا غوندې پيلوټ انډيوال لرم. يو ستوري ته به مو پټ بوځې کنه.

– هه، دا موږ ټول چټي لګيا يو؟ ای ماغزه وکاروه! که پاچا خبر شي بې پراشوټه دې ټېل وهي.

– منې ابخ نشي کولی. زه د مينې په جادو باور لرم.

– ههههه اغه د پاچا مخه نيسي؟

– که مخه نه نيسي، ما ته سمه لاره خامخا ښيي.

– د هديرې؟

ميوند کاږه ور وکتل. شېوه ګل له موسکا سره د لاس ساعت سترګو ته ونيو. خوله يې شپېلۍ کړه:

– اووو! لږ وخت مې پرواز ته پاتې. زه به دا کڅوړه کور ته ورسومه.

– ځه ځه! ښه خبره خو درنه وانه ورې.

شېوه ګل کټ کټ وخندل. روان شو.

مازيګر ميوند د ټالونو ځای کې پر چوکۍ ناست و. شاهزادګۍ رانغله. ماښۍ ته پسې لاړ. ساتونکو پرې ننبود. دده سو دا بلې خبرې ته شوه «اعلی حضرت خو خبر شوی ندی چې اغه سړی موږ د اعدامه بچ که؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار يې د پاچا ږيره خرييله. په هنداره کې ور ځير شو. هغه په غصه نه و. ميوند لا وارخطا شو «شازادگۍ د شازاده واوربدل. اوس زما ليدل نه غواړي څنگه؟» ځو ځله د ماڼۍ شاته تېر شو. سترگې يې د هغې کړکۍ ته وې. ټليفون يې له جيبه وويست. په قانون کې ښځو ته د موبايل اجازه نه وه. د کور ټليفون ته يې زنگ وواهه. نوکرې الو کړ. ويې ويل چې شاهزادگۍ له چاسره نه غږېږي. دده غړي لا سست شول.

سور دېوال تر غونډۍ راتاو و. ميوند دننه کوټه په کوټه شاهزادگۍ لټوله. په منځ ميدان کې عسکري قطعه ولاړه وه. دی د قوماندان په ژبه نه پوهېده. هغه عاشقان درولي وو. يو يو يې دار ته خېږوه. دده وار ورسېد. هڅه يې وکړه چې په لويې دروازې ښارته ووځي. هلته ټول خلک دده خپلوان وو. خو يو قدم يې هم اخيستی نه شو. عسکرو ونيو. د دار حلقه يې غاړې ته ور واچوله. دی په چيغه کېناست. موريې په تياره کې له بل تخت څخه غږ کړ:

– خير کې خدايه خير! ولې زويه ولې؟

– نه پوهېږم. پېنځه ځايونه دي. په خوشالۍ او خفگان کې يې په خوب کې وينم.

– کوم ځايونه دي؟

– منې ابځکله مې ندي ليدلي. خو زړه مې وايي پکې اوسېدلی يم. دا اوس چې مې ليده غونډۍ ده. لوی سور دېوال تې راتاو شوی. څنگ ته يې امدا رنگه روغتون دی. لاندې بازار نه د پېښور پېښور غږ راځي. بل يو غر دی. په ملا يې پلگۍ پلگۍ دېوال لکه د اژدها شاپر ښکاري. سر يې سيند ته ټيټ شوی. د سيند پورې غاړه د ځناورو ځای دی. په لوحه يې د کابل ژوبڼ ليکل شوی. دريم غټ زيارت دی. د سخي صيب مزار يې بولي. جيگه جنډه پکې ولاړه ده. بل په لوی ښار کې غر دی. زينه ورختلې ده. چل زينې ورته وايي. او پېنځم د سيند په غاړه ښار دی. اوړی ژمی شين وي. همېشه بهار يې بولي.

– قوربان دې شم زويه. نيا نه به دې په کيسو کې اورېدلي وي. نو خفه په څه يې؟

ميوند په تياره کې سترگې ور واړولې. خبره يې پټه کړه:

– نه پوهېږم. چې ويده کېدلم سر مې درد کاوه.

– بېگا خو دې غږونکه. ځه ښه خوب دې ليدلی! سمله! سبا وختي کار ته ځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند کوشش وکړ چې ښې خاطرې فکر ته راوړي، چې خوب ورشي. مګر هغه هم له شاهزادګۍ سره تړلې وې. زړه یې لا ناآرامه شو. بدن یې سست پست و. لکه چا چې یې د زړه زور وېستلی وي.

سهار یې د شاهي حصار د قطعې د قوماندان سر جوړ اوه. هغه ته تلیفون راغی چې د امروتین شاهزاده راتګ ته تیاری ونیسي. قوماندان ځواب ورکړ «صیب! وبه شي» د میوند زړه لا نا آرامه شو. ویې پوښتل چې هغه دلته څه کوي؟

قوماندان غاړه نېغه کړه. غټې برېتونه یې وخوځېدل:

– څه چل به یې زړه کې وي نو. اغوئ د مقدسپالو د ملاتړ نه لاس ناخلي. د اعلی حضرت هم نه خوښېږي. خو مېلمه دی. څه ورته نشي ویلی. الکه! پوېږې چې ولې دا ستورو ته امروتین، ناریالین او غنمین وایي؟

– هو، اینګلیسان چې دلته وو، د یو ستوري نه به یې امروت راوړل، د بل نه ناریال. او زموږ ستوري ته یې ګولډلنډ ویل. چې زموږ خپله پاچایي جوړه شوه غنمین نوم یې کېښود. چې د امروتین او ناریالین سره برابر شي.

– نه بله فلسفه ام لري. زموږ زړه د خپلو د لاسه لکه غنم چاودلی دی. امروتینیان لکه امروت اسې سم ښکاري. دننه چینجن وي. ناریالینیان نورو ته زیږ او ببر دي. خو په خپلو کې بیا صفا او خواږه دي لکه د ناریال منځ.

قوماندان په غټو برېتو ګوتې تېرې کړې. ویې ویل:

– ما په یو مضمون کې ولوستل چې د امروتین پاچا د عسکرۍ نه پاچایۍ پورې رسېدلی دی.

– دا څنګه؟

– هرځل یې خپل امر وژلی، د اغه ځای یې نیولی. اخېر کې یې پاچا وواژه. پوه شوې؟

میوند پیشبند لېرې کړ. قوماندان پاڅېد. له الماریۍ څخه یې قیمتي عطر پر ځان وشیندل. میوند وپوښتل:

– نو چې خلک یې وژل پولیسو نه نیوه؟

– ما درته وویلې کنه. امروتین دغسې خوسا ستوري دی. او اغه دی زوی یې دلته راځي.

ماسپښین الوتکه د شاهي حصار په میدان کې کېناسته. چارواکي یې هرکلي ته ولاړ وو. میوند یې له شا څخه هرڅه څارل. دوه سرلڅي تور موټر ماڼۍ ته راغلل. په مخکیني کې شاهزاده و. په دویم کې زینتي صندقان ښکارېدل. شاهزاده له موټره کېوت. د جګې غاړې والا سره کورتۍ یې په سپین پتلون لاندې کش کړه. چې ګونجې یې برابرې شي. سر یې هسک ونیو. په فرش باندې یې قدمونه واخېستل. اول کس و چې د خپل عکس په شان تازه ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغسې جګه غبرګه تنه، تېره پزه، غټې سترګې، جګه غاړه. په منځ کې بېل شویو وېښتانو یې غوړونه او ځټ پټول. میوند شاهزادګۍ ته وکتل. هغه په زینه کې ولاړه وه. په موسکا یې مېلمه ته سترګې نیولې وې. امروتین شاهزاده له وزیرانو سره تر روغبړ وروسته تر ځان جګ مامور ته ودرېد. د پزې څوکه یې وګروله. پاس یې ور وکتل:

– اسمانه څنګه یې؟

شاهزادګۍ هم له نورو سره له خندا شنه شوه. د میوند زړه لا په زوره ودرزېد. شاهزاده یوې ملکې ته ودرېد:

– زه قمر اقبال یم. او تاسې، تاسې، اهه، عالیقدره بارکزۍ ملکه. د عالي قدرې شاهزادګۍ مور. خوشحاله شوم.

د هغه رواني پښتو ته بارکزۍ ملکه حیرانه شوه. قمراقبال وویل چې د تمرین لپاره له مشر ورور سره تل پښتو وایي. ټول په لومړي سالون کې ودرېدل. امروشو چې صندقان دننه راوړل شي. میوند یو صندق واخېست. زړه یې صبر نه کاوه. د شاهزادګۍ څنګ ته یې پښه ونیوله. وپسېد:

– ولې بهر نه وځې؟

هغه وبنګېدله:

– ویمه لرې ګرځه!

دده زړه کېکاږل شو. سترګې یې ورپورته کړې. هغې بلې خواته کتل. ده صندق کوټې ته ننوېست. د هرکلي مراسم پای ته ورسېدل. قمراقبال له مېرمنو وغوښتل چې خپلې تحفې وګوري. په هرصندق باندې نوم لیکل شوی و «عالیقدره شاهزادګۍ، عالیقدره بارکزۍ ملکه، عالیقدره ساپۍ ملکه، عالیقدره احمدزۍ ملکه، عالیقدره شینواري ملکه، عالیقدره اڅکزۍ ملکه، عالیقدره افریدۍ ملکه» میوند صندقان خلاصول او ښځینه نوکرانو یې محتویات ننداري ته وړاندې کول. د هر امېل او هر کمیس په لیدو د شاهزادګۍ او ملکو له هیجان څخه ډک غږونه وتل «واح! څومره ښکلی! بې مثاله دی...»

سبا یې د ماښې په باغ کې مېلمستیا جوړه کړه. میوند د شتري جامو لستوڼي بډوهل. د کبابو لپاره یې سکروټو ته پکی وواهه. قمراقبال د ونو سیوري ته په پیسته یې دریشۍ کې شخ ګرځېد. هره خبره یې په ټوکه اړوله. شاهزادګۍ ورته له خندا چپه چپه او ښتله. بارکزۍ ملکه خوشحاله برېښېده. یو مهال قمراقبال له نورو ملکو سره په غورو بوخت شو. بارکزۍ ملکې غټ ګرد مخ د لور غوږ ته نژدې کړ. په ګرده خوله وبنګېدله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دغه دی ځوان. سیال، شتمن، ښایسته. تاته ښه جوړ دی.

شاهزادګۍ مخ قمر اقبال ته واړاوه. هغه له نورو ملکو سره له خندا شین و. وروسته یې د سترګو له کونجونو میوند ته وکتل. دی بې واره شو. پکي وهلو ته یې زور ورکړ. ایرې یې په مخ راغلې. په کاغذي دسمال یې پاکې کړې. پام یې شو چې شاهزادګۍ د لښتي ځنګ ته پر چوکۍ کېناستله. ناراحته بریښېدله. قمر اقبال ملکو ته لګیا و:

– ستاسې ستوري ته اسې غنمین وایي یارو. ما به یې نوم ښاپېرین ایښی و. ښځینه بازار ته مې دپاسه په دوربین کې وکتل. هره پیغله لکه ښاپېرۍ. وایم د امروتین ځوانان خبر نشي. زموږ ښځې به بې مېړونو پاتې شي.

ټولو هررر وخندل. شاهزادګۍ هم موسکۍ شوه. ګرمي یې کېدله. شېبه په شېبه یې په کاغذي دسمال تندی او غاړه وچوله. میوند بادپکی مخامخ کېښود. شمال د هغې وېښتان شاته واړول. سترګې یې تنګې او سپینه نرۍ غاړه یې لڅه شوه. میوند ته دومره ښایسته وبریښېدله چې بې اختیاره یې سرې له هوا ډک شول. شا یې کړه. شاهزادګۍ موسکۍ شوه. خو بارکزۍ ملکه له قهره په سرېمو کې وپښېدله. قمر اقبال غږ کړ:

– اهه، ستاسې ډم خو د کار سړی دی. په الکه دلته راشه!

میوند یې مخ ته ودرېد. قمر اقبال پیسې په جېب ور ومنډلې. په اوږه یې وټپاوه:

– آفرین! زموږ خو عالي قدرې شازادګۍ ته بېخي پام نه و.

میوند سر په درناوي ټیټ کړ. پیسې یې بېرته په لاس ورکړې. تېره زنه یې وخوځېدله:

– مننه عالي قدره! ماته ښه ماش راکوي.

هغه بیرته د کبابو پخولو ته لاړ. قمر اقبال سترګې غټې او سر کوږ کړ:

– اهه، اولین ډم وینم چې له پیسو انکار کوي.

دا مهال پاچا راغی. په سپین کمیس او پرتوګ کې مهربانه سپینږیری ښکارېده. ټولو په احترام سرونه ټیټ کړل. هغه د قمر اقبال لاس ته کلک ټکان ورکړ. د غاړې ځوړندې غوښې یې وشرپېدلې. د کورنۍ د غړو حال یې وپوښت. شاهزاده د هریو بوختیاوې بیان کړې. پاچا تر هرکلي ویلو وروسته شاهزادګۍ ته مخ کړ:

– د پلار د زړه ټوټه څنګه ده؟

– خوشاله یم پلاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه موسکي شول. يو بل يې په غېږ کې ونيول. لکه لښته چې تر کندو لاس تاو کړي. شاهزاده په خوند دواړو ته کتل. ډوډۍ تياره شوه. هرڅوک د لوی مېز شاوخوا خپلې چوکۍ ته ورغی. خو قمراقبال ولاړ و. پاچا پر مخامخ چوکۍ د ناستې بلنه ورکړه. هغه سترګې تنګې او د مخ پوستکی راټول کړ:

- اعلی حضرته! چې نوکران خواران ګوري او زه ډوډۍ خورم، خوند نه راکوي.

ټولو د هغه احساس وستايه. پاچا امر وکړ چې نوکران لاړ شي. خو ميوند يې د مېز په پای کې ډوډۍ ته کېناوه. ملکې ناراحته و خوځېدلې. شاهزادګۍ په خوړو اخته شوه. د کباب وروستۍ ټوټه يې په خوله ومنډله. روانه شوه. په فليزي پنجرې ننوتله. جګې کوټې او په جاليو تاوې برنډې له مرغيو ډکې وې. له يو وچ شاخ څخه بل ته الوتلې. شاهزادګۍ جالۍ ته ودرېدله. مرغۍ نژدې راغلې. هغې له سطل څخه دانه وراچوله. په شونډو يې رنګارنګ غږونه وويستل. مرغيو بېرته ځواب ورکړ. هغې له خونده په سينه لاس کېښود. قمراقبال هم پيدا شو. ويې پوښتل:

- اهه، څونه ښايسته! ستاسې هم مارغان خوښېږي؟

شاهزادګۍ موسکۍ شوه. منګولې يې يو په بل کې ننوېستلې. ګردې شونډې يې وخوځېدلې:

- بالکل. زه يې له وړوکتوبه مينه يمه. خو زړه مې ام پې سوزي. بنديانې دي.

- بيا يې خوشې کړئ! خبره ختمه.

- نه کنه، مري.

- په تاسې پسې؟

- نه. دوست او دښمن نه پېژني.

- د ځينو اينسانانو غوندې؟

شاهزادګۍ په برابر ګرد مخ کې غټې سترګې واړولې. قمراقبال موسکی شو:

- عاطفي اينسانان يادومه. نازک زړه لري. چالاکان بيا د امدې نه ګټه اوچتوي.

شاهزادګۍ تندی ګونجې کړ. قمراقبال سر وخوځاوه:

- وبښئ! زه لکه تبليغي، اغه چا ته دين ښيمه چې ترما ډېر پوهېږي.

دواړو کټ کټ وخندل. قمراقبال يې سترګو ته ځير شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– یوه خبره مې کوله. ویرېږمه چې تاسې خفه نشئ.

شاهزادګۍ چورتي وکتل. قمراقبال د تېرې پزې څوکه وګروله. ویې ویل:

– ما تاسې په ناریالین کې لیدلي وئ. هرکله مې په زړه کې ګرځېدلئ. پوه شوم چې بغیر له تاسې ژوند سخت دی. که رښتیا شي باوري یمه چې تاسې ام «نه» نه وایئ.

د شاهزادګۍ څېره بدله شوه. مخ یې واړاوه. ویې ویل:

– اشتبا مو کړې.

قمراقبال کټ کټ وخندل. راتاو شو. مخامخ ودرېد. په جګ قد یې له پاسه وکتل:

– نه نه، تاسو اشتبا کړې.

شاهزادګۍ بیا سترګې تنګې کړې. د قمراقبال پېړې شونډې وخوځېدلې:

– هو. تاسې ښایسته او هوښیاره یئ. پاک او نازک زړه لرئ. داسې جینۍ د عالي ژوند لایقه وي. چې نازک زړه یې مات نشي. او داسې ژوند یو زه درکولی شم.

د شاهزادګۍ څېره جدي شوه. شا یې واړوله. په ټک کې یې وویل:

– هیله کوم! دا خبرې پرېدئ!

– ما خو بده خبره نده کړې.

– موږ ته بده ده. پښتنو کې شرم دی چې ښځه چا سره د خپل واده په باب وغږېږي.

–تاسو خو په ناریالین کې تحصیل کړی.

شاهزادګۍ څه ونه ویل. قمراقبال بیا غږ کړ:

– ښه نو، د اعلی حضرت سره به وغږېږم.

– مه غږېږئ!

– زه پرېښنو دل والا نه یم. د ګل ځای ګلستان دی، نه ډېران.

شاهزادګۍ په چورت کې کږې وکتلې، ووتله. میوند مخې ته ورغی. هغه ترې تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مازیگر میوند پر چوکۍ ناست و. هاغه ټال ته یې کتل چې شاهزادګۍ به پکې زانګل. د هغې خندا او خوشحالي یې په سترګو کې ګرځېدله. په ښویه وینتانو یې لاس ښکته تېر کړ. په زخم یې وسولاوه. چورت یې واهه چې هغه ولې ورسره نه غږېږي؟ د قمر اقبال لپاره؟ که بله خبره ده؟ ګرمي دومره نه وه. خو په ده خولې راماتې وې. د موبایل زنګ له چورتونو ووېست. د شتري جامو جېب ته یې لاس کړ. شمېره یې وکتله. منډه یې واخېستله. پاچا کمال شاه د لوی مېز شاته ناست و. د اصلي عطرو مړ بوی دا ځل د میوند په دماغو ښه ونه لګېد. په سینه یې لاس کېښود. سر یې ټیټ کړ.

پاچا کاغذونه جګ ونیول. میوند واخېستل. پاچا وویل:

– شیفرونه دي. الکه اوس خو به خوشاله یې؟

میوند ورځېر شو. پاچا غبرګه کړه:

– د پوهنتون نه چې مې ووېستلې خفه غوندې شوې.

– نه نه...

پاچا موسکی شو:

– ته دروغ نشې ویلی. اصل کې زما دربان دې زړه وسو. ورور دې اسې شو. بیا دې پلار، ګلمیر، بېچاره لاړ. مور دې مریضه وه. ناسکه ورونه دې سم خلک نه وو. ځکه مې د ګلمیر کار تاته درکه.

میوند مننه وکړه. چورت یوړ چې ولې کلونه پس دا خبره یاد وي؟ د پاچا غږ بیا جګ شو:

– د ټولنیزو اړیکو پوهنځی د جګو چوکیو دپاره دی. قانون کې کسبیان او ښځې جګې چوکۍ اخېستلی نشي.

میوند په زړه کې وویل «که خبر شي چې زه د اغه پوهنځي نه فارغ یم په قار به شي؟» سر یې ټیټ کړ:

– اعلی حضرته! منې د شیفرونو د ترجمې کورس مې ډېر په ګټه و. خدای دې او ږد عمر درکي!

پاچا سر وخوځاوه. سترګې یې ډکې شوې:

– ماته نه، مورکۍ ته مې دوعا وکه! نن یې تلین دی.

میوند په زړه کې وویل «ښه ښه، دا ځکه» لاسونه یې جګ کړل. څه دعاوې چې یې زده وې قطار یې کړې. پاچا په سرو سترګو غاړې وراچوله. میوند کمپیوټر ته کېناست. په کاغذونو کې شیفرونه په عددونو لیکل شوي وو. ټول یې په کلماتو واړول. پاچا ته یې په مېز کېښودل. هغه ویوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– الکه! دې ورڅو کې غلی غونډې ښکارې. ناجوړه خو نه یې؟

د میوند زړه ډک شو. سر یې وښوراوه. پاچا وویل:

– اصل کې زه خپله نارامه یم. د عسکرو مورال کمزوری دی. مقدسپال تې ځایونه نیسي. چې اخیر به څه کېږي؟

میوند سوړ اسویلی وکړ. د پاچا نرۍ شونډې بیا ورپېدلې:

– ګوره که کومه خبره دې ځوروي زړور یې وایه! شرمېږه مه!

میوند چورتي شو «له موږ نه خبر شوی څه بلا. که نه، نو څه غواړي چې ورته ووایم؟» نرمو سترګو ته یې ځیر شو «نه نه، منې که څوک پوه شي چې پاچایان په څه خبره خوشالېږي، په څه خفه کېږي. دوئ تر ټولو بې رحمه اینسانان دي. که په قار شول بغیر د افسوسه امر کولی شي – اعدام یې کئ!» میوند د زړه خبره په زړه کې وساتله.

د دهلېز په سر او پای کې عسکر لکه بُتان ولاړ وو. تا به ویل سا نه اخلي. یوازې د میوند د قدمونو غږ و. د غې چوپتیا یې په ګوګل کې د تنهایی احساس لا وپړساوه. یو دم بل دهلېز ته تاو شو. دا لاره د شاهزادګۍ ځای ته تلله. چورت یې واهه چې تر ساتونکو څنګه تېر شي. نابېره له یوې دروازې څخه لاس راغی. دی یې له ګرېوانه کش کړ. شاهزادګۍ وه. دواړه د سپینو کوچونو تر منځ تېر شول. د جیګرې پردې پناه ودرېدل. د عسکر د بوټونو ټکهار شو. سالون ته ننوت. سترګې یې وګرځولې. بېرته ووت. میوند هېڅکله له شاهزادګۍ سره دومره نژدې ولاړ نه و. د هغې لمن یې په زنګون پسته لګېدله. د وجود خوږ بوی یې دده ټول حواس پارولي وو. شاهزادګۍ هم په همدا وضعیت کې وه. د دواړو سا سوزېدله. میوند له پردې ووت. د لویې ستنې پناه ودرېد. شاهزادګۍ ورغله. وپسېدله:

– زه خبره شومه چې ته دلته یې.

میوند رډې رډې کتلې. ویې پوښتل:

– څه خبره ده؟

– مور مې تاسره د غږېدو نه منع کړې یمه.

میوند نه پوهېده چې په څه شي باور وکړي. که رښتیا وایي نو د قمراقبال د راتګ په ورځ ولې دده ته په قهره شوه؟ ټلیفون ته یې ولې ځواب نه وایه؟ د هغې سترګو ته ځیر و. د شاهزادګۍ ګردې شونډې وخوځېدلې:

– زه وېرېږمه. داغه سپینږیري پل یې موندلی. آچې موږ د اعدام نه بچ که.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میوند ټول پام د شاهزادګۍ حرکاتو ته و. د هغې څېره مړاوې شوه:

– مور مې په ما او تا شک کوي. ویمه چې پلار ته مې ونه وایي.

میوند ته دا مهمه وه چې هغه ورسره د پخوا په شان مینه لري که نه. ویې پوښتل:

– قمر اقبال دلته څه کوي؟

شاهزادګۍ ورځیر شوه. لکه د دې پوښتنې په هدف چې چورت وهي. ویې ویل:

– اغه راغلی چې ما سره واده وکي.

میوند وربېږدېد. غاښونه یې وچیچل. په ملا نېغ شو. په ښویه وېښتانو یې لاس تېر کړ. په غوټه یې کلک وسولاوه.

څټ یې سوی وکړ. ویې پوښتل:

– مور به دې خوشاله وي نو؟

هغې سر وخوځاوه. دی وپښېد. دوه قدمه لاړ. بېرته راوګرځېد. د شاهزادګۍ په سترګو کې یې نظر خښ کړ:

– ښه څه، ستا څنګه خوښه ده؟

هغه حیرانه شوه. په سترګو کې یې اوښکې وځلېدلې. دی بیا وګرځېد. بېرته راغی. هغې کاغذ په لاس ورکړ:

– د اغه سپینږیري پته مې په سختۍ پیدا کړه. زر یې وباسه چې تا ته خطر دی.

د هغې وفادارۍ دی په خپله پوښتنه پښېمانه کړ. ژوره سا یې واخېستله. ویې ویل:

– ته مه خفه کېږه! منې د سړي فیکر ته رنګارنګ خبرې راځي.

هغې په ورغوي سترګې پاکې کړې. تکې سرې واوښتلې. سر یې ښکته واچوه. وپسېدله:

– هیله کوم. په ما شک مکوه!

سلګۍ یې ووهلې. اوښکې یې لکه چینه جاري شوې. د میوند هم ستونی وپړسېد. سترګې یې ډنډ شوې. چورت یې واهه چې څنګه یې بېرته خوشحاله کړې؟ د زړه په زور یې وخندل. شاهزادګۍ په تعجب وکتل. ده وویل:

– اسې خبره مې وکړه لېونی. ما ویل ته ودرې چې څه وایې؟

شاهزادګۍ بېرته سر ښکته واچاوه. ده یو دم د ماشومانو په شان مخ کوږ ونیو. زارۍ یې پیل کړې:

– ای خیر دی! سبا غرمه اغه وړوکي برج ته راشه! خیر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهزادګۍ موسکۍ شوه:

- زه څه حال کې یمه، ته...

میوند یې خبرې پرې کړې:

- زه درته امغسې نینې راوړم. خیر دی کنه نو!

شاهزادګۍ پخ وهل. په دهلېز کې غږونه شول. څوک تېرېدل. هغې په شونډو ګوته ونیوله. وروسته یې ساعت ته وکتل. بنویه له دروازې ووتله. د میوند زړه هم له ګوګله ووت. غړي یې سست شول. ځمکه لکه تال وزنګېدله. سربداله په وچ غالي کېناست. ستنې ته تکیه شو. قمراقبال یې سترګو ته ودرېد. له هغه سره په هېڅ شي کې برابر نه و. نه یې هومره قد او برلره، نه زور او زر. بیا چې د شاهزادګۍ د مور خوښ وي، دی څه کولی شي؟ د بارکزۍ ملکې بد بد کتل وریاد شول. په ډک ستوني وپسېد «ما تاته څه بد رسولي؟ ستا هر امر ته مې لکه سپی منډې وهلي ندي؟» ژوره سا یې واخېستله. فکر یې پاچا ته لاړ «اغه ویلې چې هره خبره وي راته یې وکه. امدا خبره یې یادوله. قمبراقبال یې نه خوښېږي. غواړي لور ماته راکي. خو ویلی نشي. شرم دی کنه» یودم یې ځان له ستنې وشکاوه. راساً دفتر ته ورغی. پاچا وتی و. له ځان سره یې وویل «سبا ته پاتې شو»

سبا میوند په اولې ماښۍ کې یوه دروازه خلاصه کړه. په سر یې لیکل شوي وو «د نایي سالون» د عطرو مړبوی خوت. پاچا به هر سهار ږیره او وېښتان اصلاح کول. دی په انتظار کې ګرد ګرځېد. چورت یې واهه چې خبرې له کومه پیل کړي؟ څه رنګه د شاهزادګۍ په باب بحث ته راشي؟ د هغه د راتللو وخت ورسېد. دی هنداري ته ودرېد. ګېډۍ وېښتان یې بنویه شاته واړول. مګر له ګونجو جامو سره څه نه کېدل. ټول پام یې دروازې ته و. زړه یې درزېده. خو پاچا رانغی. د هغه د دفتر غومبرور مشر وویل چې تېره شپه بل ښار ته تللی دی. ده ته پرونی شیفریاد شو. له مقدسپالو سره د چارواکو د اړیکو خبرې کې و. په زړه کې یې وویل «څوک به اعداموي نو» د پاچا په نشت کې به یې د دفتر کسان راتلل. اصلاح شوي وېښتان به یې بیا جوړول. قیمتي عطر به یې وهل. ده ترې ځان ووېست.

میوند په قمراقبال پسې سترګې ګرځولې. د یو متره طلایي ستنو او طلایي زنځیرونو تر منځ په لاره روان شو. د پینګ پانګ او بیلیارد په تالار کې وګرځېد. د ټېنیس او ټالونو په میدان کې یې هم ونه موند. د جګو لوخو نمجنې ساحې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې وکتل. زړه يې وربېږدېد. دامهال چا له متېې ونيو. ده په چيغه خيز کړ. قمراقبال په سپينې سپورتي دريشي کې کټ کټ وخندل. بيا يې دده متې ته لاس کړ:

–آرام آرام! خورم دې نه. اې په اوغه لوخو کې زېړ ګل وينې؟ د پلار مې خوښېږي. ورشه تخم يې ټول که!

ميوند ځان شاته کړ. ويې ويل:

– عالي قدره! باغوان ته به ووايم.

قمراقبال کلک و چې دا خو دومره کار نه دی. مګر ده په هېڅ صورت نه منله. هغه په قهر شو. ټېل يې واهه:

– ته خو ډېر بدسترګی يې.

– عالي قدره! بل هر کار ووايه! مګر لوخو ته مې مه لېږه! هيله کوم!

قمراقبال غټې سترګې تنګې کړې. وروسته يې تکې تورې وروځې واچولې:

– تا خو زما کار ونکه! اوس ته وايه چې زه ستا کار وکمه!

– هيله کوم. منې ما ويلې پوښتنه وکم. تنګ شوي خو به نه يئ؟

قمراقبال د ټېنيس د ميدان خوا ته قدمونه واخېستل. ويې ويل:

– نر چې د ښاپېرو په وطن کې تنګ شي نر يې مه بوله.

ميوند کړې وکتلې. لکه ده ته چې يې پيغور ورکړی وي. قمر اقبال مخ ور تاو کړ:

– ستاسې سادګي مې خوښېږي. دروغ لا نشئ ويلی. څه کار دې راسره دی؟

ميوند په ښويه وېښتانو لاس څټ ته تېر کړ. شنې سترګې يې نا آرامه ګرځېدلې. تېره زنه يې وخوځېدله:

– چې رښتيا شي، منې تاسې مهربانه سرې يئ. او ...

قمراقبال ټول غوږ غوږ و. ميوند سترګې ځمکې ته کړې چې له مخامخ کتلو بچ شي:

– عالي قدره! هيله کوم! د شازادګۍ سره د واده نه تېر شئ!

– ولې؟

– داسې ده چې... چې مو ږيو بل سره مينه لرو.

قمراقبال تکې تورې وروځې بره کش کړې. په جګ غږ يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اهه، د ډم او شازادګۍ یارانه. ډېر عالي! تراژیدي ډرامه ښکاري.

میوند شاوخوا وکتل. سر یې وړاندې کړ. وپسپد:

– منې څوک خبر ندي.

– اهه، پټې پټې ایشارې، پټ پټ دیدنونه. اخېر کې رسوایي او ناکامي. واح!

– عالي قدره! رېښتینې مینه جادو لري. خامخا لار باسي.

– هاهاها چې ټول خبر شول بیا به دې وګورم. زه تاته حیران یم. بله جینۍ نه وه؟

میوند احساس کړه چې خبره په ورانېدو ده. د سمولو کوشش یې وکړ:

– څه وکو؟ منې په مینه کې انتخاب نه کېږي. خدایي راشي.

– هاهاها په ډراموکې، هو. مګر په ژوند کې، نه. ای زما واوره! په دې ډول هدف ته نه رسېږې.

میوند پوه نه شو. قمر اقبال یې په اوږه لاس کېښود. ورسره روان شو:

– پوېږم. هرڅوک غواړي د پاچا زوم شي. د الماسو خزانه واخلي. مګر تاته خطرناکه ده. ام به سر لاړ شي، ام سرسر.

د میوند خوله وازه شوه:

– د الماسو خزانه؟

– اهه، سخت ممثل یې یارو. موږ دواړه پوېږو چې د ناریالین په بانک کې د کمال شاه بې اندازه قیمتي خزانه ده.

میوند وروځې بره کش کړې. ویې پوښتل:

– ښه؟ څونه قیمتي ده؟

– او پرېده نو! ښه خبر یې چې ستاسې په خلکو یې وویشي هر یو شتمن وبوله.

د میوند شنې سترګې وړپېدلې. سر یې کوږ کړ:

– نو زوم پورې څه؟

– زوی نلري کنه. ستاسې په قانون کې خو شتمني د ښځې په نوم نه کېږي. نو چاچې له شازادګۍ سره واده وکه خزانه د اغه شوه.

میوند شنې سترګې تنګې کړې. ویې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– عالي قدره! ته خزانه څه کوې؟ ته خو شازاده يې. سبا پاچا کېږې.

– وه ساده باده ډمه! اغه پاچايي يوازې امروتين کې چلېږي. شتمن هرچېرته پاچا وي.

ميوند چورت يو ړ «شازادګۍ خو به فکر نه کوي چې زه د خزانې دپاره مينه کوم» د قمراقبال غبرګه چورتونو ووېست:

– دسې به وکو. ته د شازادګۍ نه تېر شه! زه به ورسره واده وکم. په خزانه کې به فيصدي درکم. لوی شتمن به شې.

ميوند بيا چورتي شو. قمراقبال يې ځواب ته منتظر و. ده سر وښنده:

– عالي قدره! د مينې پرېښودل او نه پرېښودل د چا په لاس کې نه وي. او خزانه خو اصلن د اعلی حضرت ده.

قمر اقبال له خندا شين واوښت:

– ساده کېږه مه! پيسه چې د هر چاسره وه د اغه ده. او مينه، د محرومو خلکو د زړه تسلي ته وايي. ته يو وار شتمن شه! بيا دونه ښايسته شازادګياني پيدا کې چې دا بيزوګۍ دې هېره شي.

په ميوند بده ولګېدله. سترګې يې تېرې شوې. په کلکه يې سر وښنده:

– زه داسې نشم کولی.

قمراقبال ناراحته تاو راتاو شو. يودم يې سر وړاندې کړ:

– ای ته څه وايې؟ داسې چانس په پېړيو کې چا ته نه پيدا کېږي. ته بختور يې. بيا که دې د مينې لوبه خوښېږي يوه په پيسو واخله. چې زړه دې تور شو بله واخله. پسې بله. ټول عمر مزې کوه!

ميوند يو قرار سر ښنده. ويې ويل:

– عالي قدره! تاسې هوس يادوئ. مينه بل شی ده. التبه ستا د ټول ژوند هدف يو وي. د اغې خوشالول. چې اغه خوشاله شي ته ځان سل ځله خوشاله احساسوې. امداسې د اغې غم وبوله.

قمر اقبال تندی ګونجې کړ. لږ شاته شو:

– ای ډمه! ته خو ډېر کمقل وختلې ولا.

ميوند ته خندا ورغله. قمر اقبال ورجوخت شو. هغه يې له غوږه ونيو. لکه شوخ ماشوم چې لارې ته راولي:

– ای ای! ځې به! شازادګۍ ته به وايې چې نه مې خوښېږې! پوه شوې؟ څه نو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيکه يې ورکړه. ميوند تيندک وخوړ. بېرته ودرېد. قمر اقبال دا ځل له ستوني ونيو. ميوند شاته شاته روان و. يوه پښه يې په بله کې بنده شوه. د ټينيس د جال څنګ ته ولوېد. قمر اقبال يې په خېټه کېناست. ستونی يې ورکېکاږه:

– ورته وايې که نه؟ وايې که نه؟...

ميوند په ټول زور ټېل واهه، پاڅېد. غېږ په غېږ شول. شاهزاده هم زورور و، هم مېلمه. ده ترې ځان لېرې کړ. ويې ويل:

– لاس دې خلاص! والله که يا شازادګۍ ووينې يا خزانه!

– هاهاها، غوږ ونيسه! زه چې دويم صنف کې وم، يو شتمن الک جلغوزي خوړل. ماته يې نه راکول. پوهېږې څه وشول؟ په جېب کې مې لړم وروا چوه. ټک يې واهه. بغارې يې وختلې. ما ويل چې هره ورځ جلغوزي رانکې مار دې جېب کې اچومه. الک تسليم شو. ځان پوی که! اغه وخت ماشوم ومه.

ميوند يې خبرو ته ارزښت ورنه کړ. ترې روان شو. قمر اقبال پسې غږ کړ:

– ته بيا هم چورت ووهه يارو! چې ژوند غواړې که مينه؟

ميوند جامې وځنډلې. لاس يې د تخرګ جېب کې د شاهزادګۍ په کاغذ ولګېد. ويې لوست. قدمونه يې تېز کړل. يو ساعت وروسته د سپينږيرو پارک ته څېرمه د نايي دکان ته ننوت. د هاغه کس ننبې يې وويلې چې دوئ له اعدامه بچ کړی و. شېبه پس يې په موټر کې له ښاره ووېست.

غرمه يې ښويه آسماني جامې واغوستې. د دېوال په اوږدو د ونو پناه روان شو. وړوکي برج ته وخوت. د شهزداګۍ په ليدو يې ټټر تود شو. موسکی مخ يې آسمان ته ونيو. منګولې يې په ښويه وېښتانو کش کړې. شاهزادګۍ له خندا شنه شوه. ګاج ټيکری يې په سر سم کړ. د سپينې غاړې فولادي کميس کې ميوند ته بې اندازه ښايسته وبرېښېد له. له خولې يې بې واکه ووتل «اووو توبه!» ژر يې نوکانو او د پزې څوکې ته وکتل، چې له نظره نه شي. شاهزادګۍ دا ځل کړس کړس وخندل. ميوند د نينو پاکټ په لاس ورکړ. ويې ويل:

– منې باور مې نه کاوه چې رابه شې.

هغې پزه جګه ونيوله:

– اشتبا کوې. دونه ډارنه نه يمه.

ميوند يې مخ ته ودرېد. تېره زنه يې وخوځېدله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ښه خبر! د اغه سپينږيري کار مې وکه.

شاهزادګۍ له ډېرې خوښۍ په سينهلاس کېښود. عميقه سا يې واخېستله. ورپسې يې د ميوند د خوشحالۍ پېښې وکړې. مخ يې آسمان ته کړ. منګولې يې په سر شاته کش کړې. دواړو کټ کټ وخندل. ميوند کړکۍ خلاصه کړه. تازه هوا راغله. د هغې څېرې ته ځير شو. د يو يو غړي سيل يې کاوه. په موسکا کې د هغې غټې تورې سترګې، نازکه وړه پزه، ګردې شونډې او ګرده زنهلا ښکلې ښکارېدله. شاهزادګۍ وويل:

– داسې مه راګوره! شنې سترګې لګېږي.

ميوند موسکی شو:

– منې چې ويې باسم.

– بيا به ګورې څنګه؟

– زه تا په پټو سترګو وينم.

– او زه تا د قدمونو له غږه پېژنم.

د ميوند وروځې برهلاړې. هغې ښې وژوولې. څو دانې يې دده خولې ته ونيولې. د ميوند شونډې د هغې په ورغوي ولګېدلې. دومره پستې او خوشبويه وې چې په ټول بدن يې خوږه څپه تېره شوه. شاهزادګۍ لاسونه يو په بل کېکاږل. لکه دده د شونډو د لګېدو احساس چې وتلو ته نه پرېږدي. تشې سترګې يې د ونو سرونو ته نيولې وې. ويې ويل:

– هی چې لرررې ځنګله کې جونګړه وه. زه و مه او ته وې.

ميوند په خندا شو:

– خلک ارمانجن دي چې د شازادګۍ غوندې نېکمرغه ژوند ولري. او ته...

– اشتبا کوې. نيکمرغي په قصرونو کې نه، په زړونو کې وي.

– نه نو، ولې ځنګل؟

– يو وخت مې ارمان و چې ډک بازار کې وګرځم. پلار نه پرېښودم. موټر نه غلې کېوتم. خلک جګ جګ وه او زه وړکۍ. خوند يې کوه. دې کې يو سړی راغی. په غېږ کې يې واخېستم. ما ورته وخندل. اغه مې په خوله لاس کېښود. سا مې بنده شوه. ښه و، عسکرو ونيو. اوس چې نااشنا کس ووينم وېرېږمه. او چې ګڼه ګوڼه شي سا مې بندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– تا خو ویلې ناریالین ته ځو کنه؟

– هی زما ګرانه! چېرته چې اینسان وي بل اینسان به تې آرام ونکي. د ځنګله ځناور تې ښه دي.

میوند موسکی شو:

– زه خو به یم. مانه به څنګه آرام کوې؟

– لېونیه! ته خو مې خپل ځان یې.

میوند له ډېرې خوشحالۍ ټول ویلي شو. شاهزادګۍ سترګې آسمان ته واړولې. په خیالونو کې لاړه:

– د تیږو نغری به جوړ کو. ته به راته اوربلوې. لوګی به وي. زه به درته پخلی کومه. دپاسه به توتیان ګوري.

میوند یې تنکیو ګوتو ته وکتل. سر یې وښنده. هغې دوام ورکړ:

– وحشي املوک ته به وخېږو. څنګ په څنګ به ناست یو. پښې به زنګوو. یوه یوه دانه به خورو. کیسې به کوو.

هغه په خیالونو کې دومره ډوبه وه چې د نوکرې غږیې وا نهورېد. میوند د کړکۍ پناه شو. شاهزادګۍ یې له لستوڼی کشه کړه. هغه له خیالونو راووتله. میوند وپسېد:

– وارخطا کېږه مه! زه یې لیدلی نه یم.

شاهزادګۍ په منډه کېوتله. نوکرې سر ټیټ ونیو. ویې ویل:

– عالي قدره بارکزۍ ملکه او مېلمه شازاده مو غواړي.

میوند په باغ کې ګرځېد. د مازیګر لمر یې مخ لا زېړ ښود. نه پوهېده چې دننه ماڼۍ کې څه تېرېږي. وېرېده چې قمراقبال به بارکزۍ ملکې ته خبرې رسولې وي. چې په غصه یې کړي. چې ځان ته شاهزادګۍ وغواړي. خو ډاډه و، چې د شاهزادګۍ د ورکولو پرېکړه یوازې پاچا کولی شي. او هغه په بل ښارکې و. ټوله شپه په تخت اوښت را اوښت. چورت یې واهه. بالاخره یې فیصله وکړه چې تر قمراقبال مخکې پاچا ته په مرکه ورشي. د شاهزادګۍ په ملاتړ یې زړه جګ و. سهار یې خپل ټول جرئت یوځای کړ. په مېزباندې د پتنوس له کېښودلو سره یې وویل:

– مورې! اعلی حضرت راغلی. راځه ورشو. ماته شازادګۍ وغواړه!

هغې جیټکه وخوړه. د تورو حلقو ننوتې سترګې یې لا تنګې شوې. وټوخېدله. ده ډوډۍ مخ ته ورکېښودله. تېره زنه یې وخوځېدله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څنګه وکم؟ ایښ مې زړه نه صبرېږي.

په چای اچولو اخته شو، چې له مورسره سترګه په سترګه نه شي. هغې تلوېزون بند کړ. مخ یې راوګرځاوه:

– قوربان دې شمه زویه! دا ځان وژنه ده.

– نه. ولې؟ منې دونه ډارام ښه ندی.

– ښه، که «نه» ووایې؟

– ودې وایې نو. بیا به بله لاره ولټوم.

– وی، خدایه، که بلې ته دې پرېدي.

میوند پوهېده چې هدف یې د پاچا له خوا دده د وژلو امر دی. ځان ته یې چای واچاوه. ویې ویل:

– اسې امنده. قمراقبال وخته خبرې رسولې. خو اعلی حضرت غلی دی. اغه یې بدې شي. زه پې ګرانیم.

موریې د ایشولې هګۍ څنډه په زېړو ګوتو وشکوله. په خوله یې ننوېستله. شخوند یې وواهه. سپېرې شونډې یې وخوځېدلې:

– دسې ده زویه، خلک چاته د خپلې برستنې په اندازه احترام کوي. د اغې نه پښې وېستل یې زغملی نشي.

په میوند د مور دلایل ښه نه لګېدل. زړه یې تنګ و. خو بیا یې هم حوصله کوله. د ډاکټر خبره یې نه هېرېدله چې خفګان ورته تاوان لري. ویې ویل:

– غم مکوه مورې! زه ورسره کار کوم. ماته مالوم دی.

موریې تېزې مړې وهلې. په زېړ مخ کې یې څاڅکی وینه نه وه. یو مهال یې سترګې جګې کړې:

– زه به ځان تیار کمه. ملاقات ته باید سړی په سمو جامو کې لاړ شي.

د میوند په شونډو موسکا وځغلېدله. مخ یې آسمان ته کړ. منګولې یې په ښویه وېښتانو شاته کش کړې. پاچا ته یې زنګ وواهه. د لیدنې وخت ته دوه ساعته پاتې وو. زړه یې په زوره ډبېده. موریې په ټاکلي وخت له کوټې راووتله. په شین کمیس او سینګار شوي مخ کې ځوانه او ښایسته ښکارېدله. یوازې سست تګ یې د سړي پام اړاوه. د پاچا په دفتر کې شپېر ملکې، سترملا، سرتاجه، قمراقبال او شاهزادګۍ ناست وو. دوئ حیران شول چې هغوئ څه کوي؟ پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کېناستو اشاره وکړه. دوئ د لوی مېز په پای کې چوکۍ ونیولې. میوند شاهزادګۍ ته وکتل چې له موضوع ځان خبر کړي. خو د هغې سترګې ښکته وې. پاچا د ځوړندو غومبرو غټ مخ د میوند مور ته کړ:

– بي بي! اصل کې خو ته روغه جوړه یې.

بي بي په احترام سر ټیټ کړ:

– اعلی حضرته! ستاسې او د عالي قدر سترملا سیوری دې خدای زموږ د سره نه کموي. شوکر دی. سا اخلمه.

د میوند ټټر له هوا ډکېده او تشېده. پاچا سر وخوځاوه. زنه یې په غاړې کې ننوتله. ناستو کسانو ته یې لاس ونیو:

– دا خلک پېژنې؟

میوند بیا د مېز ګردچاپېر نظر وځغلاوه. له شاهزادګۍ پرته د ټولو سترګې په دوئ کې وې. نه پوهېده چې هغوئ یې په خیر دي که په شر. له څېرو څخه یې هم نه معلومېدله. بي بي خپل نظر په ملکو باندې تم کړ. موسکۍ شوه:

– دا شپږ بیبیانې عالیقدرې ملکې دي. خدمت مې یې کړی دی. په ما ډېرې مهربانې وې.

هغوئ هېڅ ډول عکس العمل ونه ښود. بي بي شاهزادګۍ ته اشاره وکړه:

– دا پرښته چې وړه وه، زما خورلېه وه. اوس مې امپوښتنې ته راځي. د ژوند کولو قوت راکوي.

هغې ګردکۍ سرتاجې ته مخ کړ:

– دا خو د ژوند مالګه ده. هرکله مې پوښتنه کوي. د زړه زور مې ورسره زیاتېږي.

سرتاجې ورته خوږه موسکا وکړه. بي بي سترګې قمراقبال ته واړولې:

– او دا ځوان به د امروتین ستوري عالي قدر شازاده وي.

پاچا سر وخوځاوه. بي بي وویل:

– هرکله راشئ!

قمراقبال سترګې کېکاږلې. د پاچا غږ بیا راغی:

– ته دا څو کاله دلته نه وې راغلې.

– مزاحمت نه کومه! زویکی مې راته ستاسې احوال راکوي. شوکرونه باسمه چې تاسې روغ او جوړ یئ.

پاچا سر وخوځاوه. ټول غلي شول. چوپتیا وغځېدله. د میوند زړه مارتولونه وهل. بي بي نرمه پاڅېدله. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اعلی حضرته! زه د یوې غوښتنې سره راغلې یمه. ددې جرئت مې ځکه کړی چې پوهېږم تاسې ډېر مهربانه یئ. شپه او ورځ زموږ د سوکالۍ د پاره هلې ځلې کوئ.

میوند د خپلې مور زړورتیا ته حیران و. اول ځل یې ورځخه داسې په عالي سطحه تقریر اورېده. پاچا په سر اشاره وکړه چې وایه. هغې ژوره سا واخېستله:

– اعلی حضرته! زه غواړم چې تاسې زما یوازینی زوی، چې زما د ژوند ټوله هستي ده، د خپلې غلامۍ په نوي رول کې قبول کئ! غواړم د عالیقدرې شازادګۍ او زما د هستۍ ژوند د کوژدې په مزي وتړئ!

د پاچا سترګې تېرې شوې. رنګ یې تک سور واوښت. سره له دې هم موسکی شو. شاهزادګۍ ته یې وکتل. هغه یو دم په ځای نیغه ودرېدله. سا یې سوزېدله. پر بي بي یې چیغه کړه:

– چوپ! چوپ!

میوند او مور یې شته وهل. ټولو ور وکتل. شاهزادګۍ مخ پلار ته واړاوه:

– پلار جانه! خوږو میندو ! ډېر وبښۍ چې تاسې په سپکو واوښتلئ. زما ګونا ده. که ما دغه دم ته وخت نه وای ورکړی، نو اوس به یې دا جرئت نه کاوه. تاسې به د عالي قدر سترملا او عالي قدر شازاده په مخ کې نه شرمېدلئ. ما په ده مهرباني کوله. مګر کم اصل ته چې قدر ورکې ځان ورک کي.

د میوند سر ګنګس شو. لکه په بې هوښۍ کې چې دا هرڅه اوري. سرتاجې په غټو غټو کتل. خپله نرۍ پزه یې په ګوتو کېکاږله. د شاهزادګۍ د سا سوزېدل شېبه په شېبه زیاتېدل. زړه یې ډک شو. خبرې یې وغځولې:

– پلاره! هیله کوم. دا کم اصلان امدا اوس له ماڼۍ وشړه! بې له ځنډه!

ملکې او قمر اقبال په شونډو کې موسکي موسکي کېدل. شاهزادګۍ په غټو ګامونو له دفتره ووتله.

■■■■■

میوند له ګنګسوالي ووت. بدن یې دروند و. مور یې زګېروي کول. دی حیران شو چې ولې په توشکه پرته ده. شاوخوا یې وکتل. کوټه وړه وه. که تخت پکې وای بل شي ته ځای نه پاتېده. د دېوالونو شیرچایي رنګ یو نیم ځای تور بل شوی و. د خاورو بوی ماشومتوب وریادوه. د کړکۍ نه یې حویلۍ ته نظر واچاوه. د پکولي ماما یې سپین برېتونه او سپینې وروځې د سیګرېټ په لوګي پټې وې. میوند فکر کاوه چې خوب وینم. د لویې دروازې له سور رنګ ځخه پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چې خپل کورېي دی. ده ته په میراث کې رسېدلی و. د څټک ټکهار او د سرتاجې غږ اورېدل کېده. چاته یې لاربښوونې کولې. هغه له پتنوس سره راغله. د چرګ یخني یې د بي بي مخ ته کېښودله:

– ترورې! وسکه! خدای شته اغوئ به مېلې کوي تاسې ځان وخوږ.

بي بي سپېرې شونډې کېکاږلې. زوی ته یې وکتل. په ستوني کې ډوب یې وویل:

– ما ورته هر کله ویل ته په نظر نه ورځې، نه ورځې. دېوال ته غږېږه کنه. مکتب ته به شازادګۍ موټر کې تله. ده ورپسې په بایسکل منډې وهلې. ښه نو راشه!

بي بي په سختۍ سا واخېستله. خبره یې وغځوله:

– یو کار خو ندی، کوم یو وو ایمه؟ امغه وخت ده پټوله. اغې کومې جینۍ ته ویلي وو چې میوند ډم دی. د جینۍ ورور دده مکتب کې و. الکانو بیا دونه ځوروه چې سه پارچه مو که. امغه ام ورته سبق نشو.

د بي بي سترګې ډکې شوې. ستوني یې غژس کاوه. نور یې خبرې نه شوای کولی. د سرتاجې اورېدې غټې سترګې وازې وې. لکه دا کیسه چې اول ځل اوري. میوند ته د شپوه ګل خبره وریاده شوه «د شازادګیانو چې چېرته ښه وي الته شپه وي» بیا یې فکر د شاهزادګۍ خبرې ته لاړ «پلاره! هیله کوم. دا کم اصلان امدا اوس له ماښۍ وشړه!» زړه یې ډک شو. وړاندې ورغی. سرتاجې ته یې کړ:

– منې ما د اغې دپاره څه څه نه کول؟ اعلی حضرت هوسۍ ښکار کړې وه. په باغ کې یې میله کوله. اغې ام غوښتل د ښکار چل یاد کي. په بادي ټوپک یې د غومبسو ځاله وویشتله. اغه راوکټېدلې. اعلی حضرت، ملکې، نوکران، ټول وتښتېدل. شازادګۍ یې راګیره کړه. ما کمیس وباسه. اغه مې پټه کړه. ټولې غومبسې په ما پسې ونښتلې. داسې وپړسېدلم چې په نالۍ پرېوتی نه شوم. اغه مکاره به هر سات پوښتنې ته راتله. این د مینې یې وویلې.

مور یې سرتاجې ته مخ کړ. د زوی په لور یې وروځې واچولې. د میوند ستونی کېکاږل شو. ویې ویل:

– زه امغه حال کې خوښ وم. اغې راته د مینې ویلي وو کنه. ما ویلې ده نده امدا ده. زه نو څه خبر وم چې...؟

د میوند سترګې ډکې شوې. مخ یې بلې خواته واړاوه. د سرتاجې غږ یې واورېد:

– خدای شته شازادګۍ نه وه غم و غم. ښه شو چې تېر شو.

میوند یو دم نېغ ودرېد. غاښونه یې وچیچل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زه یې داسې کله پرېږدم؟ ما قسم کړی.

په کوټه کې وګرځېد. موریې زګیروي وکړل. خرېدو ته ورته غږیې جګ شو:

– ښه نو. لېونی خو ښکر نلري. پاچایانو سره زور وهي. زه که مرمه که چومه بلا یې غم دی.

میوند د هغې زېړ رنګ ته وکتل. د سرتاجې له لاسه یې قاشقه واخېستله. سر یې وښوراوه:

– مورې! منې چې ویې نه سکې خفه کېږم.

هغې ملا له ځمکې جګه کړه. لکه شخوالی چې باسي. وچې شونډې یې وخوځېدلې:

– زړه ته مې نه کېږي. ډپ دی ډپ. دا لورګانې چې مې لیدلې وې.

شا ته د ماما غږیې واورېد:

– څه یې کوې؟ اوغه اسمان نه به راخوشې وي. ښه یې شوکر. وسکه چې دوا ورسره وخورې!

بي بي د زړه په زور غړپ وکړ. له زوی نه یې نظر نه اړوه. میوند موسکی شو چې ځان بیداره وښیي. په بلې کوټې کې هماغسې ټک او ټوک و. د سرتاجې ګردکی ورور، اشرف راغی. میوند روغبړ ته جګ شو. لکه اول ځل چې یې ویني.

اشرف موسکی شو:

– دغه حال دی. تاسې ما د ماښې نه موټر کې راوستلئ!

خو میوند بېخي پوه شوی نه و. بیا یې هم اشرف ته غاړه ورکړه:

– پوهېږم چې تا راوستلو. منې ما ویلې مننه وکم.

– ضرورت نشته. تا چې مونږ سره کړي په ټول عمر به یې پوره نه کو.

د میوند د ماما تک سپین برېتونه ورپېدل:

– ما ام خبر کئ!

سرتاجې وویل:

– پوښتنه مکوه ماما! زړه مې تنګ و. سودا پسې خپله لاړمه. خدای شته یوازې سترګې مې ښکارېدلې. چې سوالګر ځنګه وپېژندلمه؟ راپسې ونښته چې د سترملا لورې پیسې راکه. لږې نه، ډېرې یې غوښتلې. ما ځان باسه. یودم یې غېږ کې ونیولمه. سمه بدنامې وه. په خلطه کې مې نو غټه ملې ده. په دا سر مې ورکړه. سړی اوږد پرېوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماما سپينې وروځې بره کش کړې:

– داه، په دو نه شي؟

– هو وا. چيغې شوې چې مړ دی. وه خدايه! څه په بلا واوښتمه؟ دوه خبرې وې. يا وژل کېدمه، يا بندي کېدم. اغه ام مرګ وبوله نو. بنځه چې بندي شي خلک څه نه وايي؟ خدای شته په سترګو مې تياره وه. ګنګسه ګوله ولاړه ومه.

په سرتاجې د هغې ورځې ياد بيا تاثير وکړ. سر يې په منګولو کې ونيو. لکه درد چې کوي. د اشرف غږ جګ شو:

– د کومې خوانه ميوند پيدا شوی دی. دا يې موټر ته خېږولې ده. تښته چې نه تښتې.

سرتاجې غبرګه کړه:

– ډېره مې خوا بده وه. ده رانه پيسې واخېستلې. په څه چل يې د اغه سړي ښځې ته ورکړې. لږه ښه شومه.

ماما يې سپينې وروځې بره کش کړې:

– د چا خوريه دی؟ شازادګۍ داسې ځوان ولا که په درېواړه سترو کې پيدا کي.

ميوند ته په خپلې بې وسۍ ژړا ورغله. د پټولو لپاره يې ماما ته غاړې واچوله. ښه يې په غېږ کې کېکاږه. وروسته يې اشرف ته بيا غېږه ورکړه. ويې ويل:

– خير ويسئ! منې هرڅه سم دي. نور مو نه پاذابوو. ځئ! تاسې به ام کار لرئ.

هغوئ لاړل. ميوند مور ته يخني او دوا ورکړه. بلې کوټې ته لاړ. په نوې او پړسېدلې نالۍ پړمخې پرېوت. ښه يې سلګۍ ووهلې. وروسته يې بېرته ځان په واک کې کړ. مور ته راغی. هغې په ځير ور وکتل. ده وويل:

– منې زه به لاړ شم د شپې غمه به وخورم.

په بازار کې جموجوش و. په خړ لنګوټي کې پلن سړي د کراچۍ له څنګه نارې وهلې «خوږې منې واخلئ!» د جامو د مغازې مخ ته څېړو ځوانانو خندل. په پلې لار کې سوالګره نجلۍ ناسته وه. ورورته يې لاس ونيو:

– دغه لاس مې مات دی اجملي کره خيرات دی.

هلک پکې او سپنيزه روپۍ کېښودله. هغې لاس بل ورور ته واړاوه:

– دغه لاس مې مات دی روستمي کره خيرات دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه د پخوا په شان ښکارېدل. یوازې د میوند ژوند سرچپه و. پښه یې تېزه کړه. ښه ډېر وګرځېد. چې ستړی شو سودا یې واخېستله. کورته راغی. تږوله شپه ویښ و. ایله سهار یې سترګه ورغله. بي بي په دېوال لاس تکیه کړ. په سختۍ پاڅېدله. په زوی یې روجایي واچوله. درز شو په اړخ ولوېدله. په څلورو یې ځان نالۍ ته ورساوه. رنګ یې تر پخوا ډېر زېړ و. سر یې په بالښت کېښود. شا یې واړوله. کله چې میوند ویښ شو، د ګوتو په څوکو له کوره ووت. بېرته له ډکې کڅوړې سره راغی. له برقي منقل څخه یې ایښېدونکې چاینکه واخېستله. له پتنوس سره کوټې ته ننوت. مور یې سمه تخته پرته وه. سترګې یې په چت کې وې. رپ یې نه کاوه. ده دسترخان وغړاوه. قاب یې د مور مخ ته کېښود:

– هه کېک واخله!

هغې مخ هم ونه ګرځاوه. ده په ګیلاسونو کې چای واچاوه. د مقدسپالو د ډزو او دخلکو د اندېښنو یې وویل. هغه لا هم بې حرکته پرته وه. دی وارخطا شو. ویې ښوروله. هغې ورو سترګې واړولې. ده وپوښتل:

– ولې خبرې نه کوې؟ زما دې سودا کړه.

هغې خوله وخوځوله. خبره ترې ونه وتله. بیا یې کوشش وکړ. زړه یې تنګ شو. سترګې یې بې واره تاوېدلې. سا یې په سختۍ اخېستله. د میوند رنګ پک والوت. ماما او اشرف ته یې زنګ وواهه چې مور مې مري. هغوئ ډاکټر راوست. سرتاجه هم ورسېدله. خلک خبر شول. پوښتنې ته راتلل. د میوند ناسکه ورونه هم د مېلمنو په شان ناست وو. ده ته میره یاده شوه. زامنو ته به یې ویل «چې نه دې وې د موره، ورته مه وایه چې وروره» اسویلی یې وکړ. د سرتاجې نوکرو مېلمنو ته د چای بندوبست کاوه. ډاکټر بي بي ته پیچکاري وکړه. ویې ویل:

– عصبي فشار دی. اوس به آرامه پرېوځي.

اشرف وپوښتل:

– بیا څه وکو؟

– ایڅ مکوئ! امبولانس راځي. دوه درې ورځې به روغتون کې وي. اینشالا جوړه به شي.

میوند ځان ته په قهرو چې مور ده ده له لاسه داسې شوه. ماما یې غېږه ورکړه. سرتاجې او اشرف هرڅه د قسمت کار باله. میوند په روغتون کې د کټ څنګ ته ناست و. د مور پټو سترګو ته یې کتل. د ژړا حمله ورباندې راتلله. شېبه په شېبه یې د هغې په مخ لاس تېراوه. یومهال یې مور سترګې خلاصې کړې. دی موسکی شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مورې! منې هر څه سم دي. ګل غوندې به راته جوړه شې د خیره. ډاکټر ویلې خوشې دې زړه نه خوري. خویندې مې امرارواني دي. سات به دې تیر شي. پوه شوې؟

بي بي شاوخوا سترګې وګرځولې. میوند سر وړاندې کړ:

– غم مکوه! منې کومې جونې چې ته خوښې کې امغو سره واده کوم. دا ځل پخه وعده ده.

پس له دوو ورځو بي بي موسکۍ شوه. ډنګر لاس یې د زوی په مخ کېښود. په ده خوږ ولګېد. د خوښۍ اوښکې یې وبهېدلې. د ماما، اشرف او سرتاجې د خدمت کیسې یې وکړې. د شپوه ګل د نشت علت یې بل ښار ته تګ وباله. له میرو ګیله من و چې رانغلې. زامنو یې تش رواج وکړ. بي بي یو قرار کتل. خبرې یې نه کولې. میوند دوام ورکړ:

– مورېې څه پروا لرو؟ شوکر د ټولو نه ښه یو. منې چې ته روغه شې، بیا به سر ستا په ورون کېدم. کیسې به کوو.

بي بي سر وخوځاوه. میوند د هغې لاس ونیو:

– د کاروبار فکر مې ام کړی دی. زه پوهېږم چې د نایانو کوم سامان په کارېږي. او دولت کې خلک امپېژنم. جواز به پې جوړکم. د ناریالین نه به مال راوړم. یو په یو ګټه ده.

مور یې سر خوځول تکرار کړل. دی د خوشحالۍ نه لاړ د ماهیانو هګۍ یې راوړې. د هغې خوښېدلې. وړه وړه مړۍ یې ورکوله. یو مهال یې فکر شاهزادګۍ ته لاړ. بیا یې ځان له مور سره په خبرو بوخت کړ.

ماښام یې څلور واړه خویندې ورسېدلې. بي بي هره یوه کلکه ښکل کړه. هغوئ یې هم خدمت کاوه، هم یې په کیسو بوخته ساتله. د میوند زړه جمع شو. خو روحاً ستړی و. له خویندو او اوښیانو څخه یې اجازه واخېستله. کور ته لاړ.

چې دا سر یې کېښود ویده شو. سهار د ټلیفون غږ راویښ کړ. له هغې خوا یې د خپټور اوښي ډډ غږ واورېد:

– ما ویل که راځې زر راشه! مور بي بي په حق ورسېدله.

په ده سر وګرځېد. غټ غټ یې کتل. مګر نه یې څه لیدل، نه اورېدل. ټلیفون یې له لاسه ولوېد. دېوال ته یې شا ولګوله.

جنازه کور ته راغله. سرتاجه، اشرف، بادام او شپوه ګل هم ورسره وو. میوند یې په کوټه کې بې حاله وموند. خویندو یې تابوت پرېښود. ده ته په کریکو شوې. شپوه ګل د میوند په مخ او به وشیندلې. په غېږ کې یې ونیو. ویې خوځاوه:

– میونده! میونده! زه یمه. ای خانه! ماته ګوره!

د میوند سترګې ژوندۍ شوې. په کوټه کې یې وګرځولې. شپوه ګل یې مخ په دواړو لاسو کې ونیو. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ای خانه! ما پېژنې؟

میوند د ګډوډو وېښتانو سر وخوځاوه. شېوه ګل تابوت ته د سر اشاره وکړه:

– خدای دې مور وبښي. د ټولو امدا لار ده.

میوند یودم په تابوت پرېوت. په چیغو چیغو یې ژړل. کور په خلکو ډک و. جنازه خښولو ته تیاره شوه. ګاونډیان سره وپسېدل. سور بږیري بوډا وویل:

– خلک وړې باسي؟ دانو چې شو؟ ډوډۍ دې ورکي! ثواب لري.

میوند مخ د مور په تندي ایښی و. چیغې یې وهلې «ما چاته پرېدې؟ زه به د چا په غېږ کې سر بږدم؟...» د خویندو یې ستوني وچ شوي وو. ماما یې هم په تابوت سر ایښی و. بدن یې له سلګیو سره غورځېد. ګاونډیان حیران وو چې میوند ته د پیسو څنګه ووایي. کوږمخي غږ کړ چې زه یې په پور ورکوم. شېوه ګل واورېدل. ویې ویل:

– د ډوډۍ مصرف په ما دی خانه.

خلکو پیسې واخېستلې. په سودا پسې ووتل. میوند کریکې وهلې. شېوه ګل هغه بیا په غېږ کې ونیو:

– بس بس! په ژړا څه کېږي؟ امدا د ټولو لار ده. زه او ته ام مرو. اوس یې په ایزت خدای ته وسپاره!

میوند یودم غلی شو. بیا یې چا ژړا وانه ورېدله. خپل هر کار ته بیدار و. تر ډوډۍ وروسته یې له خلکو وغوښتل چې جنازه جګه کړي. تر هدیرې پورې یې اوږه ورکړې وه. په خپل لاس یې په ګور کې کېښودله. له خولې یې اخ نه خوت. خلک حیران وو. ماښام یې هم مېلمنو ته ډوډۍ ورکړه. د رخصتولو پر مهال ورسره تر کوڅې لاړ. خویندې یې د کور په پاکولو بوختې شوې. مېړونو یې په حویلۍ کې سګرېټ څکول. د بېرته تګ غمه یې خوړله. شېوه ګل، اشرف، بادام او ماما له میوند سره په کوټې کې وو. ده ورڅخه وغوښتل چې خپلو کورونو ته لاړ شي. شېوه ګل وویل:

– موږ تا یوازې چېرته پرېږدو خانه.

میوند سوړ اسویلی وکړ:

– زه ما شوم یم؟ خپله په خپل کار ښه پوهېږم.

هغوئ په تعجب وکتل چې ولې خلک په زوره باسي؟ د ماما یې سپین برېتونه ورپېدل:

– خوریه! مه کلکېږه! ستا فیکر په ځای ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میوند ماغزه وخوټېدل. څه یې ونه ویل. وروسته هغوئ د دولت او د مقدسپالو د جنګ په باب غږېدل. دده زړه تر چوېدو تنګ و. پرېوت. د مور خندا، قهر، وارخطايي، پسته غږېده او زمزمه یې په سترګو کې وګرځېدل. په پای کې یې فکر د هغې په بې روحه جسد تم شو. سلګۍ یې ووهلې. نیمه شپه تول ویده وو. دی غلی دهلېز ته ووت. د ښځو په کوټې کې هم چوپه چوپتیا وه. د ګوتو په څوکو پخلنځي ته لاړ. سا یې سوزېدله. لکه سپیانو چې ځغلولی وي. څراغ یې ولګاوه. غټه چاړه یې واخېستله. کمیس یې ووېست. تسمه بدن یې ښکاره شو. چاړه یې په دواړو لاسو زړه ته برابره کړه. بادام له کومه پیدا شو. کلک یې ونیو. د دواړو شور شو. ټول راغلل. ده چاړه نه ورکوله. ویل یې هسې هم یا مخکې یا وروسته مرم. پرېږدئ چې مور ته لاړ شم! د ماما یې سپینې وروځې بره کش شوې:

– ای کمقله! څه به وکې؟ دوست به دې خفه شي، دوښمن خوشاله.

د میوند سترګو ته د شاهزادګۍ او قمر اقبال خندا ودرېدله. سر یې وګرځېد. پکې درد شو. چاړه یې پرېښوده. په زړه کې یې وویل «اول خپل قسم پوره کوم. اغه خو په خدای که رانه خزانه وویني. شازادګۍ په زوره په نیکاح کوم» تر سبا پورې یې کرل رېبل چې څنګه یې وتښتوي؟ په یاد یې شول چې هره جمعه لس بجې د لېوني پیر زیارت ته ځي. خو دا ورځ به ښځو لوښې راوستلې چې نېکبخته شي. آن د نارینه ماشوم ننوتل بد شګون بلل کېده. هلکان یې په وهلو باسل. درې ورځې پس یې خویندې باوري شوې چې ځان نه وژني. خپلو کورو ته لاړې. میوند په ښارکې ګلابي جامې او تومانچه واخېستله. زیارت یې ښه وڅېړه. د جمعې ورځې ته منتظر شو. په پنجشنبې یې ماما راغی. کیلي یې ورکړه:

– هه! د سرک په غاړه دوکان دی. هر څه لري. سبا جومه ده. ډېر خلک سر جوړولو ته راځي.

میوند کلکه غاړه ورکړه. پښېمانو چې مور یې سمه نه نازوله. او س یې خپلوانو ته ډېره مینه ورکوله. د شپې یې ګلابي جامې واچولې. یوازې سترګې یې ښکارېدلې. د ځینو پیغلو په شان په زیګزاګ قدمونو د هنداري مخ ته تېر شو. سهار یې ډبه شکله موټر د لېوني پیر جنوبي دروازې ته ودراوه. هغه به تل له دننې خوا په زنځیر بنده وه. وبنګېد «په دې یې باسم» ښځینه جامې یې واغوستلې. له تومانچې سره زیارت ته ننوت. د چنار لاندې یې پلټۍ ووهله. د خوړو بوی و. ښځو د حلوا او شیربرنج نذرونه پخول. ساعت پینځه کم لس بجې ښودلې. ده سترګې په دروازې کې وتومبلې. مګر شاهزادګۍ رانغله. په اسویلو یې انتظار ته دوام ورکړ. تر دولسو بجو یې پته ونه لګېدله. بالاخره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومنله چې نه راځي. کورته راغی. په زړه کې یې سل پوښتنې او سل ځوابونه ګرځېدل «نه نه، که یې واده کړی وای په تلوېزون کې یې اعلانول. چاره نشته. بلې جومې ته به منتظر شم»

سهار تلوېزون پشهار کاوه. تصویر یې نه ښود. له باندې څخه د وسلو غږ راته. بالاخره ډزې غلې او میوند ویښ شو. د ځنډنۍ شوروا بوی و. ډکه کاسه یې له ځانه لېرې کړه. رېموټ یې واخیست چې تلوېزون بند کړي. تصویر پیدا شو. وړوکی ببر ږیری سړی په تورو جامو او سپین پکول کې ناست و. په نري غږ یې خبرې کشولې:

- د غنمین قدرمن اولسه! زه محب الرحمن الله یار د مقدسپال اسلامي تنظیم مشر یم. اعلان کوم چې د کمال شاه کوفري او ظالم دولت ړنګ شو. پس له دې به د دین احکام ټکي په ټکي پلې کېږي. تاسې ټولو ته دې موبارک وي.

میوند له ډېرې خوشحالۍ په پښو نېغ ودرېد. مخ یې آسمان ته کړ. منګولې یې په ښویه وېښتو کش کړې. د زړه له تله یې وخندل. شاهزادګۍ یې سترګو ته ودرېده «ښه! ځکه زیارت ته رانغله» په ګونجو نصواري جامو کې تېز ووت. لکه هغه چې د باندې ولاړه وي. دی به ورته وو ایي چې په ما دې کبر کاوه. خدای د اسې ووهلې. خلک د مقدسپالو سیل ته په سرک ولاړ وو. لاهم د ښار په څنډو کې ډزې روانې وې. ده له چنګ پزي ډنګر ځوان څخه وپوښتل:

- انډیواله! دا غږونه نو د څه شي دي؟

هغه په غټه ګوته پزه بره ټېل وهله. ویې ویل:

- نه پوهېږم. وایي د کومو سمڅو نه چې پخوا مقدسپال ډزېدل، اوس پکې مخالفین دي.

د میوند سترګې په چورت کې تنګې شوې «دا څنګه؟» د مقدسپالو ډک موټر راغی. د خپل رهبر غوندې یې تورې جامې او سپین پکولونه وو. خړ بیرغ یې په میوند ښه لګېده. هغوئ په لوډسپیکر کې نارې کړې:

- قدرمنو ښاریانو! هیله ده چې په خپلو کورو کې کېنئ! قدرمنو ښاریانو! هیله ده چې...

میوند کورته روان شو. په زړه کې یې وویل «اخ چې مور مې د پاچایۍ چپه کېدل لیدلي وای» البم یې راواخیست. سترګې یې د ماشومتوب پر عکس تم شوې. مور او پلار یې دواړه زامن په منګولو کې جګ نیولي وو. خندل یې.

میوند د البم پاڼې ورو ورو اړولې. دی هم ورسره غټېده. د خویندو او ناسکه ورونو عکسونه یې تېر کړل. د خپلې ځوانۍ تصویر ته ځیر شو. موړ یې سر دده په اوږه ایښی و. سترګې یې ډکې شوې. البوم یې بند کړ. په خیال کې یې د مقدسپالو له خوا د شاهزادګۍ د نیولو صحنې وګرځېدلې. وبنګېد «چې مړه به وي که ژوندۍ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا يې دکان خلاص کړ. تلوسه يې وه چې له مشتريانو څخه د شاهزادګۍ په باب واوري. پر سرک خلک لږ ګرځېدل. ده د هر لاروي حرکات څارل. هغوئ په چورتونو کې ډوب ښکارېدل. دا وخت ببر سرى ځوان راغى. ويې ويل:

– خليفه! سر مې زر جوړ که! اله زر کوه!

ميوند په آرامه پيشبند د هغه په اوږو او ټټر خور کړ. ويې پوښتل:

– حلوا خلاصېږي؟

ځوان دده د توقع خلاف لاجدي شو. مخ يې ورتاو کړ:

– ته نه يې خبر؟

ده سر وښنده. بياتي او ږمنځ يې راواخېستل. ځوان ببرته سم کېناست. په هنداره کې يې ميوند ته وکتل:

– بده ورځ ده خليفه. هر چېرته قومي مشران ځوړند دي. دولت پې ليکلي «څوک چې کافرو مخالفينو ته جاسوسي کوي دغه به يې سزا وي» او مخالفينو ليکلي «څوک چې کافر دولت ته جاسوسي کوي دغه به يې سزا وي»

– منې عجيبه ده. په دا يوه شپه کې؟

ځوان سر وخوځاوه:

– زر کوه! که وېښتان مې په سترګو نه راتله قرار کور کې کېناستمه.

دده سرلا جوړ نه و چې بل ځوان راغى. تحصيل يافته ښکارېده. ويل مقدسپالو پخواني کتابونه وسوزول. دريم سړي ليدلي وو چې مقدسپال له لارې پردۍ ښځه په زوره بيايي. ميوند د کمال شاه د کورنۍ پوښتنه وکړه. هغوئ نه پوهېدل چې مړه دي که ژوندي. دده په فکر کې سترملا وګرځېد. هغه د کمال شاه نژدې دوست و. دکان يې وتاړه. د کباب لپاره يې غوښه واخېستله. ماما او شېوه ګل يې له بچيانو سره او سرتاجه يې له اشرف سره مېلمانه کړل. د هغوئ د کمک د قدردانۍ تر څنګ يې د شاهزادګۍ خبر هم اخېست. د کبابو سيخان يې په حويلۍ کې پر منقل اړول رااړول. ماما، اشرف او شېوه ګل په تلوسه بويونه کشول. ډله ډله ماشومانو هرې خواته منډې وهلې. سرتاجه ګرځېدله چې د ناکارې ترکارۍ لپاره د خزلو ټيم ومومي. ميوند ترې کڅوړه واخېستله. غلي يې د شاهزادګۍ په اړه وپوښتل. هغې وويل چې د پاچا د کورنۍ هېڅ پته نه شته. د پلار يې هم سودا ده. د ميوند اندېښنه لا زياته شوه «چې قمراقبال بيولې نه وي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار یې دکان نوی خلاص کړی و. دوه د آسماني جامو غوټ غوټ کسان ننوتل. میوند منتظر شو چې سر جوړولو ته کېني. خو ګرد مخي د جنايي پولیسو کارت وښود. اوږد مخي امر وکړ چې ورسره لاړ شي. دی حیران شو:

– ما څه کړي؟

اوږد مخي دروازې ته لاس ونیو. سر یې وخوځاوه:

– التبه به خبر شې.

ده په زړه کې ګنډل ځیرل چې خبره څه ده؟ «منې د پاچا نایبتوب بېرته راکوي. ای چې مړ مې نه کي. نه ولې؟ زه خو یې دوښمن نه یم» د ماښې بې فرشه او بې چوکۍ کوټې ته یې ننوېست. لاسونه یې شاته ور وتړل. پوه شو چې د خیر خبره خو والله که وي. مګر ولې؟ ګناه یې څه ده؟ لږه شېبه پس یې قمر اقبال مخ ته ودرېد. تر پخوا زیات تر او تازه ښکارېده. دده خوله او سترګې وازې شوې. له هغه سره بل ځوان هم و. هماغسې قد، هماغسې سټایل. خو په جدي مخ کې یې د ممپلي په شان د دوو موړو پزه ډېره وړه وه. قمر اقبال د تېرې پزې څوکه وګروله. ویې ویل:

– جاوېد اقبال لالا! اغه ډم دادی.

مشر وروریې ده ته ځیر شو. میوند له اوله پوهېده چې مقدسپال له امروتین ستوري څخه تمویلېږي. خو د دومره نژدې والي اټکل یې نه کاوه. جاوېد اقبال په میوند راچنګ شو. ویې پوښتل:

– تاسې دا ویلی شئ چې د کمال شاه د موقعیت په باب معلومات مو په کومه کچه دي؟

د میوند په مغزو کې کړنګ شو «ښه ښه، منې چې شازادګۍ تې ورکه ده» بې واکه یې موسکا په څېره کې وځغلېدله. خوشحاله و چې خزانه بچه شوې ده. ویې ویل:

– ایښ مالومات نلرم.

جاوېد اقبال لږ شاته شو. شونډې یې وریږدلې:

– موږ هیله لرو چې تاسې خپل ناوړه وضعیت ته په کتو صادقانه همکاري وکړئ.

قمر اقبال مخ ته شو:

– لالا! دا ډم دی. ستا د سیاسي مذاکراتو په ژبه نه پوهېږي. ماته اجازه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشر سر نازک وخوځاوه. قمر اقبال په مېز باندې تنې کېکاږله. د مقدسپالو عسکر لښتې راوړې. میوند د هغه په سترګو کې د وطندار په صفت د خواخوږۍ نښې لټولې. ویې نه موندلې. عسکر ووت. قمر اقبال د مېز له سره یوه لښته واخېستله. میوند ته یې ځو ځله په شا شړک ورکړ. ویې پوښتل:

– وایه! شازادګۍ چېرته ده؟

د میوند شا بې اندازه سوزېدله. زګېروې یې کول. ویې ویل:

– منې تاته خو مالومه ده چې زه دلته نه وم.

قمر اقبال غاښونه وچیچل. په لازیات زور یې وارونه وکړل. لښتې یوه په بلې پسې ماتېدلې. میوند له درده چیغې وهلې. لښتې ختمې شوې. د لغتو او سپېړو وار شو. جاوېد اقبال له دوو تنو سره آرام ولاړو. لکه په تلوېزون کې چې علمي بحث ګوري. د میوند له پزې او خولې وینې تللې. له هر وار سره یې اخ او اوخ کاوه. خو اوښکې یې نه وې.

قمر اقبال ستومانه شو. میوند یې له ستوني ونیو. غاښونه یې وچیچل:

– ای ای ای ډمه! ما درته ویلي وو چې وژنم دې.

د میوند سا بنده شوه. ځان یې وښوراوه. لینګتې یې ووهلې. خو قمر اقبال لاس نه سستاوه. ګردمخي له کړکۍ څخه وکتل. د امروتین په ژبه یې څه وویل. قمر اقبال د میوند ستونی خوشې کړ. دی وټوخېد. په ټول زور یې سا اخېستله. دواړه ورونه کړکۍ ته ودرېدل. لاندې ستر ملا له موټره کېوت. د مانۍ د دروازې په لور په زینه وخوت. دوه باغوانان په منډه راغلل. د هغه په موټر یې لاس ولګاوه. په شونډو او تندي یې وسولاوه. قمر اقبال میوند ته مخ کړ:

– ستر ملا خبر دی چې ته دلته یې؟

د میوند لا هم سا سوزېدله. په دروغو یې «هو» کړ. دواړه ورونه ووتل. میوند فکر کاوه چې سرتاجه خبره شوې او پلار یې رالېږلی دی. ستر ملا د پاچا د سکرتریت تر لوی سالون تېر شو. په زینتي دروازې ننوت. الله یار شاه له خپل وړوکي بدن او شناوۍ رېږې سره د طلایي مېز شاته ناست و. اره ډوله تاج یې پر ګنجي سر لکه د کلا برج ښکارېده. هغه د اصولو خلاف پا نه څېد. ده ته یې مخامخ چوکۍ وښودله. ده ته تندی تریو شو. کېنناست. ویې ویل:

– ما غوښتل تاسې خبر کم چې د الله په بنده ګانو بده ورځ ده. بې ګونا وژل کېږي. دا ناروا وې د زغملو ندي.

قمر اقبال او جاوېد اقبال د دروازې له درز څخه کتل. د مقدسپالو پاچا له نري غږ سره خبرې کشولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– تاسې اوس ام بدل شوي نه يئ؟

د سترملا تندی راټول شو. د هغه په خبره يې چورت واهه. الله يار شاه وروځې بره کش کړې:

– اوس ام په خپل خره سپاره يئ؟

دده ښی سترګه ورپېده. غټه ږيره يې وخوځېدله:

– صاحبه مهربانه! تاسې د خپلو خبرو طرز بدل کئ! زه صلاحيت لرم چې له پاچايي مو لرې کم.

الله يار شاه کټ کټ وخندل:

– خو تاسې په اغه وضعيت کې نه يئ. کوم سترملا چې محکمه کې دوسيه ولري پاچا نشي لرې کولی.

دده سترګې ټېغې ټېغې راووتلې. الله يار شاه په آرامه سر وخوځاوه:

– ته د اوله د کمال شاه په طرف وې.

د سترملا رنګ سور واوښت. موسکی شو:

– زه د دين خدمت کوم. په دې کار نلرم چې څوک پاچا دی. نو د چا خبره چې غل نه يې د پاچا نه مه وېرېږه.

الله يار شاه غبږ کړ:

– خو ته ووېرېږه!

سترملا غلی شو. يوه شېبه يې پاچا ته کتل. شايې واړوله. خدای پاماني يې ونه کړه. قمر اقبال او ورور يې بېرته د ميوند څنګ ته راغلل. دا ځل يې فلزي ميله راوړې وه. په ملا يې شړک ورکړ. د ميوند چيغه وختله. هغه پوه شو چې د سترملا راتګ دده لپاره نه و. ژر يې د سر اشاره وکړه چې وايم. قمر اقبال ورباندې راکوږ شو. ميوند وويل:

– ما په خدای که ليدلي وي...

قمر اقبال بيا غاښونه وچيچل. ميوند ژر غبرګه کړه:

– خو زه اوس پوه شوم چې په کومه وتي دي.

قمر اقبال په قهر د ميلې بل شړک ورکړ. ورسره يې چيغه کړه:

– خو وايه کنه يارو! څه ته ګورې؟

ميوند له درده چنګ شو. زګېروی يې وکړ. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دلته پټ تونل دی.

قمر اقبال اشاره وکړه چې مخته شه! د میوند بدن درد او سوی کاوه. پښو یې زور نه اخیست. د مخ وینې یې په تشناب کې پاکې کړې. اول منزل ته کښوت. په تنګ دهلېز کې تاو شو. تر زینې لاندې یې یو ټکی کېکاږه. کړس شو. د دېوال تخته یې په ټول زور ټېل وهله. لکه درنده دروازه له غنګس سره خلاصه شوه. په تنګه زینه تاکاوۍ ته کښوت. په تختو پوښل شوې وړه کوټه وه. وړاندې لاړ. له دېواله شکېدلې تختې یې تر پښو لاندې وکړپېدلې. نیمکښه فلزي دروازه یې ترپایه خلاصه کړه. تونل ښکاره شو. دننه رڼا وه. قمر اقبال خپلو کسانو ته اشاره وکړه. دواړه تونل ته ننوتل. شېبه پس بېرته راغلل. په امروتیني ژبه یې څه وویل. میوند غږ کړ:

– ما خوشې که! منې زه یې پیدا کوم.

قمر اقبال له ورور سره تر مشورې وروسته میوند له غوږه ونیو:

– پیدا کوې به یې! که دې لږ ورانی وکه، اغه دیقه به بلې دونیا کې یې.

میوند د غوږ له درده غاړه جګه نیولې وه. ماسپښین کور ته راغی. هنداري ته یې کمیس ووېست. ټول بدن یې تغمې تغمې و. لکه لټ سړي چې رسامي کړې وي. د درد ګولۍ یې وخوړه، سملاست.

سبا په بازار کې زیاتره دکانونه خلاص او د خلکو شورو. خو میوند پکې د خپل زړه درزا سمه اورېدله. هرې خواته یې په شاهزادګۍ پسې کتل. د هرچا خبرو ته یې غوږ اېښود. د چایخانې پر تخت پینځه کسه ناست وو. د غټې شملې سړي له جګ غږېدو سره لاسونه وارول. میوند پښه ونیوله. د سړي پام شو. خبرو ته یې په لا جګ غږ دوام ورکړ:

– لالا دې جارشم! ناریالین کې اینسانیت دی هو. څوک په چا کار نلري نه. دلته خو کور درته ادې و ابا بلا شي، بهر پردي. دا خو څه، خپلوي بل غم دی. اله د ماما زوی پیدا شوی. اله کاکا مریض دی. که لاړ نشې خفه کېږي. خپل کار دې پاتې وي. نورو ته منډې وهه! ښه دا وطن به څنګه جوړ شي؟

هغه سترګه ووهله:

– التہ بې غمه چکرې دي! نه ادې و ابا شته، نه ماما و کاکا.

له لېرې د ډزو غږ اورېدل کېده. د تورکي ځوان خوله د شمله ور کیسو ته وازه وه. ویې پوښتل:

– امر صیب! همکاران دې هرکله یادوي. وایي امر صیب التہ څه کار کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لالا دې جارشم! وایه پاچا دی پاچا، هو. که کار کوم که نه کندو نه تشېږي.

ملګرو یې کټ کټ وخندل. ده ادامه ورکړه:

- الته د لاس کار نشته نه. ماشینونه دي. جامې نه خیرنېږي. او کارونه ډېېر دي. دولت درته زارۍ کوي. مو ړتهول وظیفې لرو. یو بل ایله د شپې وینو.

پوخ سرې په سږمو کې وپشېد. ویې ویل:

- نو تا خو دلته خور وو ژله چې ولې یوازې دوکان ته تلې وې. الته دې ښځه او لوڼې تر ښېګا خوشې کړي دي.

د شمله ور امر صاحب په څېره کې ناراحتي وبرېښېده. میوند ته یې د سترګو تر کونجو وکتل. سر یې ښغ کړ:

- داح! لالا دې هرچېرته غیرتي دی هو. اول مې ځای وکوت. زیاتره ښځې وې. بیا مې د کار ایجازه ورکړه.

میوند ته یې خبرې جالبې نه وې. ترې وخوځېد. د ډزو غږ ته یې پام شو. چورت یوړ «کمال شاه به د مخالفینو مشر نه وي؟ هو کنه. د مقدسپالو دښمن به نو څوک وي؟» لاره یې بدله کړه. د نایي دکان ته ننوت. د ماشوم نیم سر ماشین شوی او نیم ببرو. وچ هډور نایي په موبایل کې نصیحتونه کول. ده ته یې لاس اوږد کړ. میوند وویل:

- ای سلطانه! آفرین ولا! د دې الک وېښتان دې څنګه ښه په نوي ستایل جوړ کړي. رخصت یې که نو!

هلک کلک مخالفت وکړ. دوئ پخ وهل. میوند د سلطان په غوږ کې وپسېد:

- ماویلې په مخالفینو کې اشنا نلرې؟ یو کار مې دی. منې ډېر ضرور دی.

سلطان بیا موبایل سترګو ته جګ کړ. ویې ویل:

- خیر دې وي، ته ودرې د مسلم پاچا نه پوښتنه وکمه.

ماشوم سو ړ اسویلی وکړ. ټلېفون رخ شو. د تورکي مسلم پاچا په ښی لاس کې بیاتي وه. په لوړ غږ یې خبرې کولې:

- ولې نه. رازق دی کنه. سرونه یې جوړوي.

- ښه؟ بلا دی بلا. د دوئ سره یې ام تار ځغلولی؟ نوې شمېره یې نه لرې؟ پخوانی کار نه کوي.

- زه یې پیدا کوم، بېرته زنګ وهمه.

- خیر دې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټليفون بند شو. ميوند کړکۍ ته ودرېد. دباندې پلې کسان د نورو موټرو مخ ته زړور تېرېدل. مګر له مقدسپالو وېرېدل. دده شنې سترګې په يو سړي ولګېدې. شا يې وه. سرې بخنې جامې او پيک داره خوله يې لرله. موچې يې بوټان رنګول. آشنا برېښېده. سلطان د ماشوم کار خلاص کړ. دده ځنګ ته راغی. په اوږه يې لاس کېښود:

– انډيواله! نور څنګه يې؟

– منې لکه لس موټره چې راباندې تېر شوي وي.

– پوهېږم. د مور مرګ سخت دی.

ميوند يې سترګو ته کتل. د وهل خوړلو يې ونه ويل. بل مشتري دکان ته ننوت. سمدلاسه په چوکۍ کېناست. په هنداره کې يې په پيت پېکي او لکۍ دارو برېتونو لاس کش کړ. غږ يې کړ:

– خليفه! راځه کنه مړه!

سلطان د هغه په وېښتانو ږمنځ ووهله. ويې پوښتل:

– مامور صيب! نن دې مېله کړې. وظيفې ته نه يې تلی؟

مامور کټ کټ وخندل. سر يې وښوراوه. لکه کومه په زړه پورې صحنه چې يې ليدلې وي. ويې ويل:

– تلی ومه. کار نه و. يو رئيس يې رالېږلی. له خندا يې ووژلو.

– خير دې وي، ولې؟

– سم سوډر دی. مکتوب ته مرتوب وايي، مکتب ته مرتب.

هغه له خندا چپه چپه واوښت. سلطان يې د وېښتانو کمول پيل کړل. زنګ راغی. مسلم پاچا و. ميوند ترې د رازق شمېره واخېستله، ووت. له کور څخه يې زنګ وواهه. تر روغبړ وروسته يې وپوښتل:

– ما ويلې دا د مخالفينو مشر به کمال شاه وي. کنه؟

له هغې خوا د چاغ رازق نری غږ راغی:

– نه نه، شيخ کلام نو مېږې ورور. پخوا مقدسپالو کې و. چې اغوئ کاميابه شوه، ده تې لاره بېله کړه. په چوکۍ به سره وران شوي وي نو. ای! ته خو ماښې کې وې. تا ته مالو مېږې. دا څه روان دي ورور؟

– منې زه ام نه پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ميوند په دغو خبرو چورت نه واهه. يوه شېبه يې هم د مور بې روحه څېره نه هېرېدله. بيا ورياد شول چې شاهزادګۍ هغه د خلکو په مخ کې رټي. ساه اخېستل يې تېزا و بدن يې تود شو. لکه نغري ته چې يې نيولی وي. په ښويه وېښتانو يې لاس د څټ زخم ته تېر کړ. غاښونه يې وچيچل «تاته به زه اصيل او کم اصل وښيم» خو شاهزادګۍ چېرته ده؟ډېر چورت وهلو سربداله کړی و. بالاخره هاغه ورځ ورياده شوه چې دواړه د ښار په چکر وتي وو. هغې درې پټ ځايونه وښودل. کمال شاه د مبادا لپاره جوړ کړي وو. دده سترګې تېرې شوې. سمدلاسه له کوره ووت. پر سرک خلک جنګ ته راغونډ وو. ځلورو ځوانانو خپل پيټ ځتې تربور واهه. ويل زموږ درمند يې سوزولی دی. هغه هم کم نه و. په يوازې ځان يې حملې کولې. خلکو بېل کړل. خو پيټ ځتې نه ټينګېده. ميوند ترې روان شو. له لېرې يې د سوربخنو جامو سړی بيا وليد. د ونې لاندې له غوټ کس سره ولاړ و. دده په ليدو دواړه تازه شول. دا ځل يې وپېژندل. د قمر اقبال کسان وو. دی ټکسي ته وخوت. تر شاتنۍ ښيښې يې وکتل. هغوئ هم موټر ته ننوتل. ده ټکسيوان ته پيسې ونيولې:

– هه، دا واخله! هرچېرې چې مې وويلې کېو ځمه تېز به درېږې. او تېز به حرکت کوې!

پيسې ډېرې وې. ټکسيوان په جېب ومنډلې. د پيشو غوندې په ګرد مخ کې وړه پزه او وړه خوله يې وخوځېدله:

– خيريت خو دی کنه؟

– منې دوه څارګر راپسې دي.

د ټکسيوان په څېره کې وارخطايي وبرېښېده. ميوند سترګې برګې کړې:

– څه کنه! مرګ غواړې؟

ټکسي تېزه روانه شوه. ميوند تر شاتنۍ ښيښې کتل. په يو ځای کې د څارګرو مخه بل موټر بنده کړه. ده ټکسيوان ته د برقي سامان د مغازې د کونج سرک وښود. هغه تېز شترنګ وڅرخاوه. ده غږ کړ:

– ودروه!

د بريکونو چيوس شو. ميوند د برګرو د غرفې شاته ودرېد. څارګر تېر شول. دی بلې ټکسي ته وخوت. د کمال شاه هاغه پټځي ته لاړ چې تر نورو نژدې و. د شاهزادګۍ خبره ورياده شوه «ددغه لوی مارکېټ لاندې تاکاوي ده. يوازې زموږ کورنۍ خبره ده» دی د مارکېټ شاوخوا وګرځېد. په پای کې ننوت. د کوړۍ وېښتانو ځوان څخه يې وپوښتل:

– دلته تاکاوی نشته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلک په شک وکتل:

– څه یې کوې؟

– منې په کرایه یې نیسم.

ځوان تازه شو:

– شته، شته. ته ودرېږه مشر ته غږ کمه.

شېبه پس پوخ سړی راغی. سپین پیکي ته یې ځنډ ورکړ. د تلوېزیون پېټیو ته یې ګوته ونیوله:

– ددې شاته د تاکاوۍ زینه ده.

هغه په خپلو کسانو امر وکړ چې د زینې سر تش کړي. دواړه لاندې کېوتل. لوی ځای و. د مارکېټ مال یوازې ورته څنډه نیولې وه. مشر تشرېحات ورکول. خو میوند هرې خواته سترګې ګرځولې. هلته نه کوټه وه، نه دبلې تاکاوۍ ننبه.

کانکرېټي دېوالونه یې په سوک وډبول چې شا یې تشه ده که نه. مشر موسکی شو:

– غم مکوه! پاخه دي.

دواړو کټ کټ وخندل. پاس وختل. له مارکېټ څخه ووتل. هاغې دروازې ته ورغلل چې تاکاوۍ ته مخامخ جوړه شوې وه. مشر سپین پیکي ته ځنډ ورکړ. په دروازه یې لاس کېښود:

– داده! لاره به درته تشه کو. مال پې وړه راوړه! د ساتلو نه یې ام خلاص یې! چوکیدار تیار شته.

میوند وپوښتل:

– تاکاوۍ خو دوه دروازې لري کنه؟ ما شاته کوڅې کې امداسې بله ولیدله.

د مشر وروځې بره کش شوې. ویې ویل:

– پام پام! د مارکېټ اول اینجینر ام خبر نه و چې التـه خطرناکه پېریان دي. بې غمه یې دروازه جوړه کړه. خو پېریانو د ټولو کارګرو سره وواژه. بل اینجینر چې راغی د دروازې شاته یې دېوال وواهه. لاره بنده شوه. که دې پام شوی وي اغې کوڅې ته نه چا دروازه وېستلې، نه کړکۍ.

میوند چورتي شو «اغه تاکاوۍ نو چېرته ده چې شازادګۍ ویل؟» په ښویه وېښتانو یې لاس د څټ زخم ته تېر کړ. د مارکېټ د مشر غږ یې پام واړاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وېرېږه مه! دا پیریان د کوڅې نه بهر په چا کار نلري.

میوند سر وخوځاوه. د تګ په مهال یې وویل:

– منې زما خو تاکاوی خوښه شوه. خپلو شریکانو سره به مشوره وکم.

مشر وړیسې غږ کړ:

– په کریه کې درسره نوره ام ګوزاره کوو.

میوند د تمځي په اوږدې چوکۍ ناست و. چورت یې واهه «بله چاره نشته. توکل په خدای! شاتنۍ دروازه ګورم» څنګ ته عینکي سپینږیري د کتاب سریزه لوستله. ده په ټکسي پسې سترګې ګرځولې. هاغه پیت ځتې ځوان یې ولید چې مخکې تربورانو د درمند په سوزلو ملامتوه. دوه نري ځوانان ورته برګ برګ کېدل. پیت ځتې تر دواړو غټ او غبرګ و. یوتن په غاړه کې نېخسکي ورکړل. پیت ځتې وچونګېد:

– قصدن خو دې په پښه نه یمه ختلی. پام مې نه و.

شاته شاته روان و چې ځان وباسي. میوند له پخ و هلو سره وبنګېد «توبه» څنګ ته سپینږیري سترګې له کتابه جګې کړې. ده ته ځیر شو. میوند پیت ځتې ته ګوته ونیوله:

– یره تره دا الک ندی، مخکې یې په څلورو تربورانو حملې کولې. هر یو لکه دیو. دلته له دغو چینچیلغیانو وېرېږي.

سپینږیري د عینکو له پاسه پیت ځتې ته وکتل. سر یې وځنډه:

– زموږ بدبختي امدا ده ځوانه. خپلو ته زمریان یو، پردو ته پسونه. نور خلک برعکس وي.

میوند ورغی. پیت ځتې یې د هلکانو له شره وژغوره. شېبه پس یې د وچ هډور سلطان په مرسته یو غل پیدا کړ. لنډکی ځوان و. له غټې ږیرې او سپین پټکي سره پوخ مولوي ښکارېده. میوند پیسې وو بستلې چې کیلیانې ورڅخه امانت واخلي. غل موسکی شو. وپسېد:

– ای انډیوا اله! که ښه شوړه وي ما ام بوځه!

میوند د خندا په دود په پزه کې وپشېد. ویې ویل:

– منې زما بل کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غل سر وښندو چې ګواکې باور يې نه شي. د ماسټرکيلي په نامه د مختلفو اندازو درې کيلياني يې ورکړې. ويې ويل چې هره يوه د خپلې اندازې په قلف ننباسې په خپله ځان عياروي. سلطان غږ کړ:

– خير دې وي.

غل د ميوند لاس ونيو:

– اى! مکوه ګوره! زه دې په کارېږمه.

ده کړې وکتلې. ترې روان شو.

ماښام په سرک يو نيم موټر تېرېده. ميوند ښادر په سر کړ. د مارکېټ د شا تنګې کوڅې ته ننوت. دوو موټرسايکل سپرو وليد. بريک ته يې پښه واچوله. غلې غلې کوڅې ته نژدې کېدل. شمال چيوه هارکاوه. د ميوند زړه له ډاره درزېده. سترګې يې بې واره تاوېدلې. په احتياط يې قدم اخېست. په لړزېدونکو لاسو يې ماسټر کيلي په قلف ننباسله. کړس خلاص شو. دننه لويه زينه وه. په زړه کې يې وويل«هه، منې په پېريانو خلک وېروي. اينجينر او کارګر د راز ساتلو قرباني شوي دي» موټرسايکل سپرو کوڅې ته وکتل. تښه وه. شاته يې منډه واخېستله:

– په ذالجلال چې امدا پيرى و.

ميوند په تاکاوي کې وګرځېد. هرډول سهولتونه يې لرل. د ناستې او ملاستې کوټې، تشناب، پخلنځى، لوښي، د خوړو ذخيره. خو څوک نه و. په سالون کې يې اوږه په نل ولګېدله. هغه له چته ځړېده. په خوله کې يې ګرده ښيښه وه. پوه شو چې د ښار دوربين دى. سترګه يې ور برابره کړه. تشه کوڅه يې وليدله. شمال پکې کاغذ ځغلاوه. له تاکاوي څخه بېرته ووت. نيت يې وکړ چې کيلياني د څه وخت لپاره وساتي، څو دوه نور پټنځي هم وګوري.

په سبا يې دکان خلاص کړ. دباندې د قمر اقبال د خاصو کسانو موټر ودرېد. ده ته يې تروې تروې وکتلې. پروني په قهر وو. ميوند ته خندا ورغله. د لويې هندارې دپاسه په دېوال کې تلوېزون لګېدلى و. ده په رېموټ چالان کړ. هلته ملاصاحب په ترنم کې وويل:

– چې الله ورله په قار شي نو موبايل ښځې له ورکي اينټرنېټ پکې چالان کې عياشيو باندې يې سر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونو! دا نېټ چې ورله وايي، دا دسې شی دی چې ایکي یو هدف لري. فساد خورول. خلک د الله د لارې اړول. بله داچې فساد د ښځو د آزادۍ نه پیدا کېږي. شوکر دلته ښځې نه موبایل لري، نه آزادي. دا په اصل کې د یو مسلمان کومک دی د خپلو تورسرو سره. ځکه چې د اغوئ د اخېرت ګټه پکې ده.

د ملا د خبرو په منځ کې ویاند دمه واخېستله. په دمه کې دولت له خلکو څخه د کمال شاه د کورنۍ په پیدا کولو کې مرسته غوښتله. هاغه چاته یې د سختې سزا ګواښ کاوه چې په پټېدو کې ورسره مرسته وکړي. میوند له سوړ اسویلي سره تلوېزون بند کړ. سترګې یې تر سرک هاخوا د دویم منزل په کړکۍ کې په سپینې تختې ولګېدلې. ښه ځیر شو. د هلک په لاس کې کاغذ و. د ټلېفون شمېره پکې غټه ښکارېدله. مخامخ نجلۍ په کتابچه کې ولیکله. ژر پناه شوه.

میوند موسکی شو. شاهزادګۍ یې سترګو ته ودرېدله. نوکره به یې بازار ته ولېږله. خپله به یې له کورني ټلیفون څخه ده ته زنګ وواهه. په ساعتونو به غږېدله. دواړه د یو بل په مجلس نه مړېدل. کله به چې نوکرې دروازه وټکوله هغې به وويل «غمازه راغله. د خدای پامان» پخوانیو یادونو یې سینه توده کړه. د دورازې ګړز شو. د میوند زړه ورېږدېد. دا شېوه ګل دکان ته راغی. له خندا شین و. میوند یې په غېږ کې کلک ونیو. ویې ویل:

– ای خانه! ستا د خوښې شی مې راوړي.

هغه وړوکی کارتن له کڅوړې وویست. پر تکو سرو توتانو د کنګل ټوټې پرتې وې. میوند له خندا شین شو:

– واه واه! د کومه دې کړل؟

– د همکار د باغ دي. ښه ډېر مې بچیو ته امراوړل. خوره! چې تاوده شي خوند یې ځي.

میوند څو توتان خولې ته واچول. دومره تازه او خوابه وو چې په موټې یې خوړل پیل کړل. شېوه ګل کټ کټ وخندل:

– پام کوه! په ستوني کې دې بند نشي.

میوند په یوه شېبه کې کارتن تش کړ. شېوه ګل د شړومبو بوتل وویست:

– دا هم امغسې یخې دي.

دده سترګې بیا له خوشحالۍ وازې شوې. بوتل یې پر سر واړاوه. په پای کې یې وويل:

– منې په دا ټول کال امدا په خوراک ایساب که.

– د چا سره یې چې خواریې؟ ای خانه! خوشاله شوم چې کار دې پیل که! مقدسپال خو دې نه ځوروي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند نه غوښتل چې هغه په خپلو لانجو کې ښکېل کړي. سر یې وښنده:

– ماسره څه کار لري؟ زه خو د کمال شاه دوښمن یم.

– ځه امدا به دې په خیر وه. رښتیا، سرتاجې درته ویلي چې کمال شاه چېرته دی؟

– نه. اغه څه خبره ده؟

– پرون مې ولیدله. ماته شک پیدا شو.

د میوند سږي تنګ او د سا اخېستل سخت شول. شېوه ګل چې ووت، ده سمدلاسه زنګ وواهه. ویې پوښتل:

– اشرفه روکی! سرتاجه خو ر شته؟

– نه، څه دې ویل؟

– لږ کار مې ورسره دی. ښه ځه، ما ویلې د کمال شاه نه به خبر نلرئ؟

– دغه حال دی. ته وایې زموږ پلار بلې دونیا ته ام ټلېفون کولی شي؟

هغه کړس کړس وخندل. خو د میوند د مخ یو رګ هم ونه خوځېد. بیا یې وپوښتل:

– سرتاجه چېرته ده؟

– نه پوهېږم، نه وایي. ګوره کنه! او ته په قارېږې چې څه ورته مه وایه!

– ښه ځه، چې راغله ماته دې زنګ ووهي!

دا مهال سرتاجه په موټر کې وه. سترګې یې بې واره تاوېدلې. نری پزه یې په ګوتو کېکاږله. موټروان ته یې کړ:

– امدلته ودروه! خدای شته زه لږ ځنډ کومه.

هغه د مستري خانو مخ ته روانه وه. د باغ د لوی او جګ دېوال تر څنګ په فرعي سرک تاوه شوه. سمدلاسه یې مخې ته

د زړو او خیرنو جامو ماشوم ودرېد. لاس یې د سوال لپاره اوږد کړ. وپسېد:

– تروري! پټ پولیس دي.

سرتاجه لا وارخطا شوه. د باغ د دروازې په سر زړې لوحې ته یې وکتل «شیشکباغ». ویې پوښتل:

– دننه شیشکباغ کې؟

– نه، دغه ګوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی د باغ په کونج کې سګرېټ څکول. داسې یې ښودله چې چا ته منتظر دی. د دوئ خوا ته ځیر شو. سرتاجې ژر حرکت وکړ. د هغه تر څنګ تېره شوه. د عمومي سرک په غاړه په پلې لار روانه وه. د باغ د دېوال په پای کې بل تن شا لګولې وه. په موبایل کې یې کوم شی لټوه. دریم تن وړاندې د لوی پله کټارې ته تکیه کړې وه. د سرتاجې ټول بدن رېږدېده. نری پزه یې د حجاب دپاسه په ګوتو کېکاږله. په خپل بکس کې یې خوشې خوشې لاس وواهه. یودم بېرته وګرځېدله، چې ګواکې کوم شی رانه پاتې دی. کله چې سوالګر ماشوم ییا لاس اوږد کړ، هغې پیسې ورکړې. د مننې په دود یې غټې اوږدې سترګې کېکاږلې.

دا ورځ هم میوند په دکان کې تر غرمې کار وکړ. وروسته یې ماسټر کیلیانې واخېستلې، ووت. دا ځل د څارګرو د تېر اېستلو لپاره بس ته وخوت. د هغوئ موټر وروسته شو. میوند په تمځي کې کېوت. یودم په تنګه کوڅه وتښتېد. شېبه پس دوه منزله ودانۍ ته ودرېد. په سر یې غټ لېکل شوي وو «شاهي مکتب» جګ دېوال ترې راڅرخېد. ګرد چاپېر یې کوڅه وه. کورونه، زیارت او مارکېټ یې له مکتب څخه بېلول. دی په کوڅه کې تاو شو. مکتب ته نه بله دروازه وه، نه کړکۍ. د نلونو د چک کولو په پلمه ورننوت. بوډا چپړاسي ورسره و. مګر د پټ ځای نښه یې ونه موندله. په مارکېټ او زیارت کې هم وګرځېد. مازیګر شو. له ځان سره یې وویل «ددې مکتب لاندې خو دی. خو لاره یې چېرته ده؟ ځه، د شپې به مکتب ښه وګورم» سترې ستومانه د زیارت په وړوکې انګړ کې کېناست. یو تن له ښځې سره مقبرې ته ننوت. په کاغذ کې پېچلي خواړه یې په تاقچه کې کېښودل. شېبه پس بېرته ووت. میوند سر ځوړند ونیو چې ښځې ته ونه ګوري. سړي غږ کړ:

– ای!

میوند په زړه کې وویل «څه بې ادبه دی. ای څه مانا؟ نه ای وروره، نه ای ځوانه» سر یې جګ کړ. سړي وپوښتل:

– ته دلته څه کوې؟

ده ییا له ځان سره وویل «پردې ته سړی تاسې وایې. چې کېني ځان ورته اصیل ښکاري نور کم اصل. خبرو ته یې ګوره!» ځواب یې ورکړ:

– زیارت ته راغلی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اغه ډوډۍ ونه خورې! ملنګ کرۍ ورځ پټ وي. د شپې پیدا شي. ډوډۍ وخوري. زیارت پاک کي. بېرته پټ شي. که څوک دلته وي اغه نه راوځي. او سړی د خدای په لوی عذاب اخته کېږي.

میوند ته د پیریانو د کوڅې دروغ وریاد شول «لکه چې خبره په امدغه زیارت کې ده» سر یې وخوځاوه:

– سمه ده ښاغلیه. نه یې خورم.

هغوئ لاړل. ده ورپسې دروازه بنده کړه. زیارت یې کونج په کونج وکوت. په پای کې یې قبر ته پام شو. تر معمولي اندازې اوږد او سورور برېښېده. شین بخملي ټوکر یې ورڅخه کش کړ. قبر د لرګي پوښ درلود. ده یې د جګولو کوشش وکړ. کلک و. په منځه ملا کې یې په لنډو درز درلود. چپوراست پکې ښکارېده. د قبر شاوخوا یې ولټوله. د قلف په شان سوری یې وموند. کیلي یې ننوېستله. له کړس سره لرګین پوښ یوه ګوته پورته شو. ده پوره جګ کړ. دننه زینه وه. ورکېوت. څراغونه په خپل سر روښانه شول. دی وډار شو «د ملنګ خبره رښتیا ده څه بلا» په تونل کې یې د مکتب په لور په احتیاط قدمونه واخېستل. هلته یې هم مکمل کور وموند. د لوی مارکېټ د تاکاوۍ غوندې سهولتونه یې لرل. نه ملنګ و، نه د کمال شاه کورنۍ.

سهار دکان ته روان و. آسمان غورېده. شمال د باران څاڅکي تر چترۍ لاندې په مخ ویشتل. نن یې د کمال شاه د وروستي پټنځي د کتلو هوډ درلود. زړه یې ناآرامه و. که شاهزادګۍ وموميې څه ورسره وکړي؟ او که هغه هلته نه وي بیا به یې چېرته لټوي؟ اوږد مخي ځارګر یې نابېره لاره بنده کړه. او به یې له وېښتانو پر مخ بهېدلې. خو هغه سترګه هم نه رپوله. میوند ته یې کلکه سپېره ورکړه. چترۍ شمال یوړه. د شهادت ګوته یې وځنډله:

– بیا پټ نشې!

دده ماغزه وخوټېدل. د حملې لپاره نېغ شو. خو باران یې تپ وویست. جنګ ګټه نه لرله. یوازې یې ځان ژوبلاوه. غلی دکان ته ننوت. په اورښت کې مشتریان نه وو. ځانښت شو. وچ مخی ځوان لوند خیشت راغی. په ولاړو یې وویل:

– ای! وتړه دوکان! د یوسفزو د قومي مشر خیرات دی. پخلی وکه!

ځوان بېرته ووت. په ده یې امر بد ولګېد. خو دا ښه موقع وه چې د خلکو ترمنځ له آوازو خبر شي. له خدایه یې غوښتل د شاهزادګۍ په اړه کومه نښه وموميې. دکان یې قلف کړ. دواړه ځارګر په موټر کې سره وښورېدل. دی یې تر څنګ تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. په لويې مغازې ننوت. ځارګرو دروازې ته کتل. هغه ځنډ وکړ. ګردمخی پسې ورغی. میوند نه و. مغازې شا ته بل سرک ته هم لاره لرله. ګردمخي له قهره خپل ورون ته سپړه ورکړه.

د قومي مشر اته منزله کور په لس جريبه ځمکه کې و. د مېلمستون دوه منزله ودانۍ يې ځان ته لار لرله. دولسو پخليګرو په تالار ډوله پخلنځي کې ديګونه باندې کړل. غلي بنګېدل چې ګواکې قومي مشر دولت وژلی، او اته ښځې ترې پاتې دي. غرمه زرګونه کسان خيرات ته راغلل. يوه ډله ځوانان هرکلي ته ولاړ وو. سوالګريې دننه نه پرېښودل. هغوئ ته يې پاتې شوني او د دېګ د بېخ سوزېدلې وريجې په کوڅه کې کېښودلې. ميوند د هرچا خبرو ته غوږ نيوه. هېچا د شاهزادګۍ او کمال شاه په باب څه ونه ويل. هغه په کوڅه کې روان و. تر باران وروسته د ماسپښين لمر خوږ لګېد. چورت يې واهه «ځارګر به بيا راته په قار وي» دکان ته له تګ څخه تېر شو. دکور لاريې ونيوله. له رسېدو سره سم هغوئ له کونجه راووتل. دي يې لاس تړلی ماڼۍ ته بوت. په کوټه کې يې تر پښې وځړاوه. خلک ورته سرچپه ښکارېدل. زړه يې خولې ته راته. قمر اقبال لښتې ملا ته ور واړولې. د ميوند چيغې وختلې. ويې ويل:

– خو ګرځم ورپسې کنه. نور څه وکم؟

قمر اقبال سپېړه ورکړه. د ميوند په ستر ګو کې پل شو. په کوټه کې يې سرچپه ټال وخوړ. قمراقبال غږ کړ:

– ته د سړي زوی نه يې نو يارو. زما کسانو نه پټېږې.

– تا خو نه وو ويلي چې ځان سره يې ګرځوه. منې اوس مې د شازادګۍ پل موندلی دی.

– چېرته ده؟

– د يو کور تاکاوۍ کې اوسي.

– چېرته، چېرته؟

– زه امدا پيدا کوم کنه.

قمراقبال بيا لښتې ور واړولې. د ميوند زخمونو بې اندازه سوی کاوه. ورو ورو يې د زړه تبنتېدل شروع شول. کله چې يې کوز کړ، ځمکه يې نه احساسوله. لکه په سکروټو چې پروت وي. قمراقبال وويل:

– بيا دروغ ونه وايې!

ميوند مخ ورواړاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– منې چې دروغ ندي.

– ښه مالومه به شي. نور به دوئ درسره ګرځي.

میوند ژرژر سر وخوځاوه. قمراقبال ووت. ده د پاڅېدو هڅه وکړه. پښې يې شخې وې. ټول ځان يې سوزېده. کچل کچل روان شو. څارګر ورپسې په موټر کې ورو ورو تلل. دی په درملتون ننوت. هغوئ هم ورغلل. ده دوا واخېستله. اوږدمخي ته يې د پيسو د ورکولو وويل. څو هغه اعتراض کاوه دی وتی و. اوږدمخي پيسې ورکړې. له قهره يې غاښونه چيچل. میوند تر څلورو کوڅو وروسته رستورانت ته ننوت. اوږد مخي وپوښتل:

– دلته څه کوې؟

میوند زېږ مخ وړاندې کړ:

– ستا وظيفه ده چې ماسره وګرځې. نه چې پوښتنې وکې.

يو ګيلاس تودې شيدې يې ځان ته او يو يو ګيلاس د میوو اوبه يې دواړو ته فرمايش ورکړ. له شيدو سره يې دوا وخوړله. هغوئ د مېوو اوبه په سر واړولې. اوږدمخي غږ کړ:

– دا وار د پيسو نه تښتېدلی نشې.

د میوند پام خپل بدن ته و. دوا ورو ورو اغېز کوله. غلی يې د پيسو بنډل په لستوڼي ننوېست. کله چې د رستورانت د خاوند مخې ته ودرېدل ويې ويل:

– ورکه انډيواله! ماسره يوه روپۍ نشته.

د سړي اوږد مخ تک سور واوښت. دده جېبونه يې تلاشي کړل. د رستورانت خاوند په غټو غټو کتل. اوږدمخی مجبور شو چې پيسې ورکړي. دباندې يې میوند له ستوني ونيو:

– ای احمقه! نور دسې ونکې! وژنم دې.

میوند غلی و. کله چې يې ستونی پرېښود. ده وويل:

– ماښام دی. ما کورته ورسوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځارګر ترې په خندا لاړل. دی په ټکسي کې کورته راغی. د ځارګرو موټرېې د دروازې مخ ته ولاړ و. هغوئ موسکي موسکي کېدل. سبا سهار یې د بدن سوختلا زیات شوی و. خو د ګرځېدو قوت یې په ځان کې لیده. خوشې خوشې یې په پارکونو او سرکونو کې وخت تېراوه. ګردمخي ځارګرو وپوښتل:

– ته څه کوې؟

– منې شازادګۍ لټوم.

– دلته؟

– چېرته یې ولټوم؟

ګردمخي سوړ اسویلی وکړ. میوند بیا وخوځېد. غرمه وا وښتله. سیوري ورو ورو اوږدېدل. خو میوند ګرځېدلو ته دوام ورکاوه. اوږد مخي له متې ونیو:

– موږ ډوډۍ خورو.

– منې زه ام وږی یم.

– بلا مې درپسې! زه درته ډوډۍ نه اخلمه.

– خپل دوکان ته به لاړ شم.

هغوئ یو بل ته په خپله ژبه څه وویل. وروسته ګردمخی ورو ګرځېد:

– ځه لاړ شه! موږ درځو. که نه وې د سر نه دې ځوړندوو.

میوند د هغوئ په نیت کې هېڅ شک نه درلود. نو یې په ځان کې د ګرځېدو زور هم نه لید. په دکان کې اوږد وغځېد. اشرف ته یې زنګ وواهه. هغه په کمپیوټر کې څه لیکل. د دفتر مخ ته یې خلک په بې پایه لیکه کې خپل وار ته ولاړ وو. یو یکې هاغه ماشوم و چې سرتاجه یې د شیشکباغ څنګ ته له پټو پولیسو خبره کړه. د پلار لاس یې نیولی و. د سړي په خیرنې او بې شیمې څېرې کې د ژوند د دروند پېټي پته لګېدله. اشرف شمېره وکتله. ټلیفون یې ولاړې سرتاجې ته ورکړ. بېرته په کمپیوټر کې لګیا شو. میوند وپوښتل:

– منې تر اوسه ستا زنګ ته منتظر وم.

د سرتاجې غټې اوږدې سترګې بې واره تاوېدلې. ژر یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وي، وبښه! خدای شته بېخي مې د ياده ووتل. نه نه، د اغوئ نه خبره نه يمه.

– رښتيا وايې؟

– نو دروغ وايمه؟

ميوند ټلېفون بند کړ. په اړخ واوښت. هډوکو يې درد وکړ. زګېروی يې وخوت. هلته سرتاجه چورت يوړه. نرۍ پزه يې په ګوتو کېکاږله. اشرف سترګې ورپورته کړې:

– لکه چې ستا په خبره يې ام باور ونکه.

– امداسې ښکاري.

– دغه حال دی. ای ببو! کار مې پيدا که. چوکيداري ده.

سرتاجه تازه شوه. کاغذونه يې ورڅخه کش کړل. تېزه ووتله. د سوالګر ماشوم پلار ته يې ونيول:

– کاکا! هه، واخله! چوکيداري ده.

سړي په ډکو سترګو دعا وکړه. ماشوم يو دم سرتاجې ته غاړې واچوله. هغې هم په غېږ کې کلک کړ.

مازيګر ميوند د ښار په نقشه کې د پاچا وروستی پټنځی کوت. شېوه ګل په بيړه ننوت. پرته له سلامه يې وويل:

– خبره نسکوره ده خانه. فاجعه ده.

هغه په چوکۍ ځان خوشې کړ. چوکۍ شاته په دېوال ولګېدله. ميوند په وازو سترګو کتل. شېوه ګل غبرګه کړه:

– ما د هوانه وليدل. د طلاوو او الماسو کارخانې بندې ندي. کار کوي. ښه په درز کې.

– ښه ده کنه. زموږ حکومت خو په امدغو چلېږي. نور څه لرو؟ منې کاغذ او قلم ام د بل ستوري نه راوړو.

شېوه ګل په پېښو ودرېد:

– څه ښه ده؟ زموږ خلک يې شړلي. خبر يې ثوک پکې کار کوي؟ امروتينيان.

– بلا ورپسې! کېنه سر دې ببر دی چې جوړ يې کم!

هغه له کېناستو سره وويل:

– پوېږې طلا او الماس چېرته ځي؟ امروتين ته.

ميوند وخندل. د ملګري په اوږه يې پيشبند واچاوه. شېوه ګل لا سور واوښت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ای ای خانه! دا ټوکې ندي. وطن اشغال شوی.

میوند دباندې د ښارګرو موټر ته وکتل. ملګري ته یې کړ:

- منې دا خو ماته په شاهي حصار کې مالومه شوه.

- اح وینې؟ دا به څنګه شي؟ وطن پردیو نیولی.

- نو څه؟ خو یو شی درته وایم. منې که خزانه رانه امروتین ته یوسي.

- خزانه په ټوپک وله! آزادي مو همه ده.

- چې مو همه ده مخالفین ورته شته کنه. د څه دپاره جنګېږي؟

شپوه ګل مخ بلې خواته واړاوه. د ژبې له سره یې چړک ووېست:

- نه کنه...

- څه شی نه کنه؟

شپوه ګل سر په دواړو لاسو ونیو. نژدې یې په بیاتي ګوته ژوبله شوې وه. میوند په ټټ کې چوخ کړ:

- لېونی شوې؟ هی!

ملګري یې ژوره سا واخېستله. پاڅېد. ویې ویل:

- ای خانه! زما او ستا اول ځل اشنایي دې په یاده ده؟

- داسې مې په یاده ده لکه دا اوس. په رستورانت کې چې راغلې.

- امغه. ما ویل چې ستا د لارې جګې چوکۍ ته ورسېږمه. خو اوس وایم هر څه نه تېر. د آزادۍ دپاره.

- او منې ماته داسې یې لکه ورور.

شپوه ګل سر وښوراوه. د هغه لاس یې ونیو:

- هو کنه. زه د مخکې خبره کومه.

هغه بېرته کېناست. میوند یې په ویښتو کې ږمنځ ووهله. تېره زنه یې وخوځېدله:

- چې ورور مې ګڼې نو خبره مې ام ومنه! قرار دې په ځای کېنه!

- څنګه په ځای کېنمه؟ وطن اشغال شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میوند ورته ماغزه وخوټېدل. چوکۍ یې ټېل وهله. هغه وڅرخېدله. ده وویل:

-ځه! واخله ټوپک! ځه!

څارګرو ته یې لاس ونیو:

-اغه دي امروتینیان. وله یې!

هغوئ ته په کتو د شېوه ګل وینه په ایشېدو راغله. تک سور واوښت. لکه لیونی پاڅېد، بېرته کېناست. بیا پاڅېد.

میوند ورته اندېښمن شو. خبرې یې نرمې کړې:

-ته غوږ کېده! آزادي کلک هوډ، لویه سینه غواړي. هره سختي به زغمې! خو اینسانیت به ساتې! بیا کامیابېږې.

شېوه ګل ورځیر شو. میوند سر وخوځاوه:

-ته د وطن سره د زړه مینه لرې. دا مینه به سمه لاره درښیي. ته لږ صبر!

د مینې په یادولو یې شاهزادګۍ سترګو ته ودرېدله. څېره یې تروه شوه. د شېوه ګل غږ له چورتونو ووېست:

-کېنه مړه! بیا دې ګولۍ نده خوړلې. مینه څنګه لار ښیي؟

-په مینه کې نفساني غوښتنې صفر شي کنه. بیا نو ښه او بد داسې روښانه وي لکه سپینه ورځ.

په زړه کې یې وویل «تو لانت! دروغ ویل څونه اسانه دي» خو د شېوه ګل آرامېدو ته خوشحاله شو.

میوند د سهار څلور نیمې بجې ویښ شو. د څارګرو موټر د کور مخ ته نه و. پلې وخوځېد. یو ساعت وروسته شیشکباغ ته ورسېد. د شاهزادګۍ خبرې وریادې شوې «دلته باغوان نشته. نلونه لس ورځې پس خپله او به خوشې کوي. د سیند پلو دروازه خلاصېږي» میوند په ګڼو بوټو کې سیند ته ووت. پورې لوی ځنګل ښکارېده. دی په کونج کې چپ لاس ته وګرځېد. د سیند په غاړه له لوخو څخه د خوسا پاڼو بوی راته. لاسونه یې ورېږدېدل. تومانچه یې ووېستله. سترګې یې له لوخو څخه نه اړولې. دروازې ته ورسېد. په ماسټر کیلي یې خلاصه کړه. چټک ننوت. د هوسایۍ سا یې واخېستله. ټول باغ په ناکاره بوټو پټ و. دی منځ ته په نرۍ لارې روان شو. هلته یې د شلو مترو په اندازه پوخ سرک ولید. تر ځمکې یو نیم متر جګ جوړ شوی و. وبنګېد «دا سرک د څه دپاره؟» په باغ کې وګرځېد. ترونو لاندې په دلۍ دلۍ چارمغزو او خوسا انارو وخوت. په پای کې سترې ستومانه د سرک پر ژۍ کېناست. پښې یې وځړولې. چورت یې واهه چې پټنځی نو چېرته دی. څپلۍ یې د جګو بوټو پر سرونو ولګېدلې. ټېل یې وهل. لاندې په دېوال کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلزي تخته وليدله. د زنګ ضد رنګ يې درلود. تازه شو. ور کېوت. قلف يې واز کړ. برابرې کوټې ته ننوت. په وينو لړلې وه. له ځان سره وبنګېد «خوشې خلک وېروي» دلته هم په دېوال کې فلزي تخته وه. په قلف يې کيلي ننوېستله. تونل ښکاره شو. په څراغونو روښانه و. دی پکې لوی دهلېز ته ووت. غږ يې کړ:

– څوک شته؟

چا ځواب ورنه کړ. خو په فرش باندې د پښو پلونه ښکارېدل. چورتي شو چې اوسني دي که پخواني؟ د دهلېز په پای کې برقي منقل، مېز، ظرفشوی او د لوښو الماری وه. ميوند منقل وکوت. ګوته يې وسوزېدله. همدا شېبه ترې کار اخېستل شوی و. زړه يې لکه ډول درزيده. په ښويه وېښتانو يې لاس کش کړ. ښې سترګې يې په ډار شاته واړولې. په احتياط سالون ته ننوت. د کوچونو شاته يې کمال شاه او ملکې وليدلې. له ډاره غونج ناست وو. خو شاهزادګۍ دېوال ته آرامه ولاړه وه. د هغې ګرد سور کميس هم د عامو ښځو و. د ميوند ژامې ورېږدېدلې. ورخيز يې کړ. په يوې سپېړې يې د ملکو څنګ ته واره کړه. ښځې وسونګېدلې. ميوند چيغه کړه:

– تا زما مورکۍ ووژله. په اغې ته څونه ګرانه وې، خبره يې؟

د شاهزادګۍ له خولې اخ نه خوت. ژړ ژړ يې سا اخېستله. بېرته په پښو ودرېدله. ميوند بله حمله وکړه. هغه د کوټې د دروازې مخ ته واره شوه. ده بيا چيغه کړه:

– زه به ملامت وم زه. اغې در ته څه ويلي وو؟

شاهزادګۍ پاڅېدله. ميوند ټول رپېده. چپ لاس يې په ښويه وېښتانو څټ ته تېر کړ. په ښي لاس يې تومانچه راووېستله. بارکزۍ ملکه يو دم پښو ته ورپرېوتله. غومبرور مخ يې جګ کړ:

– زويه! خدای ته وګوره! اغه ملامته نده. ټوله ګونا زمونږ ده.

ميوند چيغه کړه:

– زه ستا زوی نه يم. کم اصل د اصيلې ښځې زوی کېدی شي؟آ؟

د ملکې ګرد مخ له ډاره ورېږدېد. شاهزادګۍ منډه کړه. مور يې له متې ونيوله:

– تانه وګرځمه. دا څه کوې؟ ويمه پاڅېږه!

ميوند ټېل وهله. هغه په شا ولوېدله. داځل کمال شاه زارۍ پيل کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– الکه خیر دی! لور مې پرېږده! څو نه پیسې چې غواړې درکوم یې.

شاهزادګۍ پلار ته مخ کړ:

– پلار جانه! ویمه پرېږده یې! مړه به شمه. نور به څه وکي؟ زه نه وېرېږمه.

میوند تومانچه او سر همزمانه وځنډل:

– نه نه نه. بې غمه اوسه! زه تا مړه کومه نه. ته به امدا اوس ځې، د کم اصله ډم سره به واده کوې! بیا به دې ژوند داسې کم چې په مرګ شو کړو باسې. اغه ستا، دا زما.

سرتاجه له بهره راغله. رنګ یې تښتېدلی و. میوند په تومانچه شاهزادګۍ وتلو ته وبلله. کمال شاه یې مخ ته ودرېد:

– الکه! ته خبره واوره! اصل کې اغې ته بچ کړې.

میوند ته له قهره خندا ورغله. ډیکه یې کړ. د کمال شاه پلن بدن له درونددرب سره په ځمکه ولګېد. شاهزادګۍ په سختۍ بېرته پاڅاوه. هغه له لور څخه لاس کش کړ. برګ شو:

– پرې مې ده، ورکه شه! ما خو دا املته ختموه. تا ویلې مه یې وژنه. داسې یې باسمه چې بیا زما نوم وانخلي. دا دې باسل. تا په دغه پسې پټ پټ ژړل، کنه؟ په ورځو ورځو دې ډوډۍ نه خوړله. قمر اقبال غوندې شازاده سره دې واده ونکه. اغه ام تاته ښه مېړه و. ام یې ماته مقدسپال تسلیمول. اوس وخوره نو!

میوند هک پک شو. لاس یې په ښویه وېښتانو څټ ته تېر کړ. شاهزادګۍ ته یې وکتل. هغې سر ښکته اچولی و. په مخ یې د سپېږې ځای تک سور و. دده ټټر کېکاږل شو. سترګې یې سرتاجې ته واړولې. هغې سر وښوراوه چې رښتیا وایي. بیا یې نظر شاهزادګۍ ته لاړ. هغې اوس ژر ژر سا اخېستله. زړه یې ورو ورو ډکېده. ده په سرتاجې چیغه کړه:

– تا مخکې ولې نه ویلې؟

هغې نرۍ پزه په ګوتو کېکاږله. په آرامه یې ځواب ورکړ:

– خدای شته زه د اوله خبره ومه چې دوئ دلته دي. قسم یې راکه چې نه دا خبره درته وکمه او نه ځای وښیمه.

د میوند سترګې تاوېدلې راتاوېدلې. سا یې سوزېدله. یو دم یې تومانچه خپل سر ته ونیوله. د سرتاجې خوله وازه شوه. شاهزادګۍ سترګې جګې کړې:

– ته ځان وژنې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند ککره و خوځوله. شاهزادګۍ بیا وپوښتل:

- ته زما ژوندی په کار یې که مړ؟

د میوند سترګې غټې غټې ووتلې. ځواب یې نه درلود. شاهزادګۍ غبرګه کړه:

- په ما تر تا ډېره سخته وه. خو ستا د پاره ژوندۍ یمه.

میوند په ګونډو شو. سلګۍ یې ووهلې. د تومانچې لاس یې وځړېد. سرتاجې یې په اوږه لاس کېښود:

- څه چې وشوه اغه وشوه. اوس په راتلونکي فیکر وکړ!

میوند د هغې لاس ټېل واهه. د شاهزادګۍ څنګ ته لاړ. سر یې ښکته اچولی و. تېره زنه یې وخوځېدله:

- مانه بې اندازه بد شوي. منې ایښلاره نشته چې دا جبران کم. زه...

کمال شاه تروه څېره ملکو ته واړوله. شاهزادګۍ د میوند خبره پرې کړه:

- لاره شته.

هغه سر پورته کړ. د شاهزادګۍ ګردې شونډې ورپېدلې:

- ته دغې خبرې ته مه ځوربږه! زما زړه به ارام شي. دا یې جبران.

د میوند د اوښکو بهیر تېز شو. په سلګیو کې وپسېد:

- ته څونه ښه جینۍ یې؟

شاهزادګۍ خوله غوږ ته ورنژدې کړه:

- خوشې خو راباندې مین شوی نه یې.

بېرته یې پزه جګه ونیوله. میوند پخ وهل. سرتاجې هم واورېدل. موسکۍ شوه. غږ یې کړ:

- موږ خو خاندو. خدای شته هره دیقه امکان لري دولت دا ځای پیدا کي.

میوند په ورغوي سترګې وسولولې، راوګرځېد:

- منې په ژوند رښتیا باور نشته. ډېر ترې د سبا په طمع ارمانجن تلي. زه غواړم امدا نن یو کار وکم.

د ټولو پام ور واوښت. هغه غبرګه کړه:

- دې سره به ام دوه زړونه خپل آرمان ته ورسېږي، ام به خزانه بچه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهزادګۍ پوه شوه. ځکه یې سترګې ښکته واچولې. میوند وویل:

– زه غواړم د عالي قدرې شازادګۍ سره واده وکم.

کمال شاه مخ بېرته را وګرځاوه. غبرګ یې کړ:

– دا نه کېږي. اصل کې پیسې وغواړه! هرڅونه چې غواړې.

میوند د چا خبرې نه اورېدلې. د شاهزادګۍ په موافقه ډاډمن و. له هغې یې وپوښتل:

– ستا څنګه خوښه ده؟ ته خو وو ایه کنه!

کمال شاه خپله لور په غېږ کې ونیوله. په غاړه کې ننوتې زنه یې وخوځېدله:

– لورې! پلار دې اوس بې وسه دی. هرڅوک یې په ځمکه غورځوي. ته خو یې مه غورځوه!

د شاهزادګۍ سترګې ډکې شوې:

– تانه وګرځمه پلاره! اغه مې هېرېږي؟ چې مریضه ومه تا او مور مې یوه هفته ډوډۍ نه خوړله. ټوله ورځ به په جومات کې ناست وئ. دوعا به مو راته کوله. اخېر زه جوړه شومه تاسې مریضان شوئ.

د کمال شاه سترګې هم ډکې شوې. د لور سر یې ټټر ته راکاږه. شاهزادګۍ په آرامه ګرد مخ میوند ته واړاوه:

– زه واده نه کوم.

پاچا د هوسایۍ سا واخېستله. سرتاجې ژر میوند ته وکتل چې اوس به بړک وهي. خو هغه د توقع خلاف غلی و.

شاهزادګۍ سر جګ ونیو. ویې ویل:

– ما ته اوس د مور او پلار ژوند موهم دی. ته دوئ نا ریالین ستوري ته ولېږه بیا به ګورو.

سرتاجې غبرګ کړ:

– ته صبر صبر! خدای شته دا خو د میوند په وس بېخي نده. څنګه به شي؟

شاهزادګۍ په ګرځېدو پیل وکړ. ویې ویل:

– بل کس به پیدا کمه. د خزانې دپاره هرڅوک دا کار کوي.

– وا! نه نو، سره د دو نه خبرو بل چا سره واده کوې؟

– زما امدا شرط دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خدای شته ته نو بېخي...

شپېږ ملکې په سرتاجې برګې شوې. هغوئ دا شرط د ژوندي پاتې کېدو یوازینی چانس وباله. میوند غبرګ کړ:

– زه یې ناریالین ته لېږم.

د ملکو په څېرو کې د کامیابۍ موسکا خپره شوه. سرتاجې سر وخنډه:

– نه نو، ته دا کار کولی شې؟

د میوند تېره زنه وخوځېدله:

– زما یې هرشرط قبول دی.

د شاهزادګۍ اوښکې وځلېدلې. سرتاجې شا واړوله. وبنګېدله «بیا یې وغولولې»

■■■■■

میوند په رستورانت کې سترګې وګرځولې. دلته به په څانښت کې خلک تل کم وو. خو دومره هم نه. دوو تنو د تشو مېزونو په منځ کې چای څښنه. بل کس د اوږد تخت په پای کې د شوروا کاسه تشه کړې وه. ګوتې یې څټلې. میوند ترې مخ واړاوه چې کانګې یې رانه شي. ګارسونانو له بې کارۍ نه په موبایل کې لوبه کوله. د رستورانت د ځوان او خپتور خاوند په څېرې کې مایوسۍ پخه اړولې وه. آن دده په ننوتلو هم کمه نه شوه. دی یې د تخت تر بله سره په سترګو بوت. میوند د لوېې کړکۍ څنګ ته پلتۍ ووهله. ګارسون په منډه ورغی. ده وویل:

– وړه چاینکه شین چای او دوه ګیلاسه!

د ګارسون په ېېرته تګ کې مستي نه وه. مګر د میوند زړه الوت غوښت. دنیا ورته بې حده ښکلې ښکارېدله. د غچ اخېستلو او زړه تنګوالي ځای امیدونو نیولی و. د شاهزادګۍ په یاد یې د مینې څپو د بدن غړي تخنول. بیا یې د مینې په جادو باور پیدا شوی و. په ځان کې یې د هر دروند مسئولیت د اخېستلو قوت لیده. د رستورانت شاته په کوڅې کې غرهاري یې پام واړاوه. شېوه ګل له ټکسي کېوت. ږیره یې ببره شوې وه. ده ته یې لاس جګ کړ. رستورانت ته ننوت. میوند ګیلاس مخ ته ورکېښود. هغه وپوښتل:

– خانه! ولې دې وویلې حتمن د شا د لارې راشه؟

میوند د رستورانت په مخ کې د ځارګرو سور موټر ته شنې سترګې ونیولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چې د قمراقبال کسانو درته پام نشي. ماغوندې په لانجه وانه وړې.

– که دننه راشي؟

– نه راځي. د پيسو ورکولو نه وېرېږي.

دواړو پخ وهل. غبرګ سوالګر د کړکۍ ښيښه وډبوله. غږيې کړ:

– خير وکئ! پرون نه مو ډوډۍ نده خوړلې. خدای مو له هرې بلا وساته! خدای دې...

شېوه ګل لسګون ورکړ. سوالګر دعاګانې وغځولې. ګارسون د مشتريانو د خوشحالولو لپاره پر سوالګر برګ شو:

– ځه ځه! اله اله! په خلکو چای مه خرابوه! اله اله!

هغه يې په ډيکو ډيکو د رستورانت له څنګه وشاړه. د ميوند تېره زنه وخوځېدله:

– د خدای لټ دی.

بيا غره هار شو. د خلاصې باډۍ موټر راغی. رستورانت ته يې مواد راوړل. غبرګ سوالګر وځغاستل چې جواليتوب يې وکړي. خو ګارسون بيا ټېل واهه. خپلو کسانو ته يې د بوجيو د کوزولو اشاره وکړه. شېوه ګل وويل:

– ودې ليدل خانه؟

ګوته يې د ښارګرو له موټر څخه هاخوا ته ونيوله:

– کله دې د تناره مخ ته دونه سوالګر ليدلي؟ هره ورځ بې کاران زياتېږي.

نورو کسانو دېخوا ته وکتل. ميوند وپسېد:

– غلي غږېږه! ځان ته غم ګورې؟

شېوه ګل هم غږ ټيټ کړ:

– بلا ورپسې! ښه ځه، څه خبره دې کوله؟

– يو کار دی. منې ته يې کولی شې. خو خطرام لري.

– د آزادۍ خبره ده؟

– نه، ته خو په تشه ګېډه نځېږې.

– نو بل کوم کار خطر لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د زنې په بېړې ګوتې وسولولې. میوند سر وړاندې کړ:

– د کمال شاه کورنۍ باید ناریالین ته ولېږو.

د شپوه ګل سترګې راووتلې:

– وی ښه؟ شازادګۍ دې پیدا کړه؟

میوند سر وخوځاوه. د ملګري سترګې يې تېرې شوې:

– څه دې ورسره وکړل څه؟

میوند کیسه پیل کړه. شپوه ګل به کله خوله ویته کړه، کله به يې وروځې واچولې. میوند په پای کې وپوښتل:

– کېږي که نه؟

پیلوټ چورت یوړ. د میوند پام تنکیو ځوانانو ته واوښت. ټوکې يې کولې. لاسونه يې اچول. په زوره يې خندل. تا به ویل په دنیا کې هېڅ غم نه شته. په ده ښه لګېدل. د شپوه ګل غږ جګ شو:

– زه وایم چې دولت ولې د الوتکو تلاشي سخته کړې ده. امم، کمال شاه لټوي.

– څنګه څنګه؟

– خاصه قطعه د الوتکو تلاشي کوي. زموږ د قوماندانانو يې د الوتنو د جدول صلاحیت اخیستی دی.

میوند شونډې کېکاږلې. تېره زنه يې وخوځېدله:

– منې دا کار د قمر اقبال دی.

غابښونه يې وچیچل:

– بې غیرته الله یار شاه ورته نه وایي چې زما وطن کې دې څه غوبل شروع کړی.

– هههههه، اغه چا ویلې چې پښتون په توپ ورځي، په ټانک ورځي. خو په پیسو نشي ورتلی؟

شپوه ګل غږ بیخي ټیټ کړ:

– الله یار شاه د جاوید اقبال بې ایجازې تشناب ته نشي تلی.

دباندې د مقدس سپالو موټر راغی. تنکي ځوانان وتښتېدل. یو يې ګیر کړ. دومره يې وواهه چې ګرېوان يې په وینو شو. ویې غورځاوه، ترې لاړل. هلک په ملاسته ژړل. د میوند هم زړه ډک شو. شپوه ګل غابښونه وچیچل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– داه! وینې؟ پوهیږې ولې؟ چې خلک په خپل غم کې شي. چې آزادۍ ته یې پام نشي.

میوند ولیدل چې هلک پاڅېد. ګوډ ګوډ روان شو. په زړه کې یې وویل «څه شوکر بنه دی» شپوه ګل سر نژدې کړ:

– هرحکومت چې په خلکو ظلم کوي خانه، په دې پوه شه چې څه ورانی پکې دی. اغه پټوي.

میوند ته دا خوشې خبرې برېښېدې. لاس یې لکه سپېره په هوا کې وښنده، چې دا پرېږده. ویې ویل:

– زما په خبره فکر وکه! منې یوه لاره خو ضرور شته.

– داه، کلې اوبو وړی و. ملنګ خپله لکړه یادوله.

میوند موسکی شو. شپوه ګل په هماغې لارې ووت چې راغلی و. دی په فکر کې لاړ چې اوس څه وکړي؟ په طلایي رنګه موبایل کې یې دالوتکو د سوق او ادارې د مشر، ذاکر، په نوم پسې وکتل. پیدا یې نه کړ. اوږد مخي څارګر له دروازې څخه غږ کړ:

– ای خانزاده! پاڅې! مور ته دې ناست یې؟

د میوند ورته ماغزه وخوټېدل. خو ناچاري وه. موټر ته وخوت. ویې ویل:

– کور ته ځم.

ګردمخي وپوښتل:

– ته شازادګۍ لټوې که مېلې کوې؟

– امدا لټول دې کنه. منې ستا ککره په دې نه خلاصېږي.

هغه تروې وکتلې. میوند مخ واړاوه. د موټر له ښیښې یې توتکۍ ته پام شو. لکه بلده مرغۍ له دوئ سره برابره په هوا کې روانه وه. میوند دوه ځله ورته وروځې واچولې. دریم ځل یې مصنوعي موسکا وکړه. د افغانستان د فضایي څېړنو په مرکز کې مامورینو کړس کړس وخندل. د میوند په خیال کې هم نه راتلل چې دا د ارین بېړۍ کمره ده.

په کور کې چرمي بکس ته کېناست. ګردمخی ولاړ و. ده د یاداشت کتابچه وباسله. لوی لاس یې هره ټلیفوني شمېره په دقت کتله. بیا بیا یې پاڼې شاته اړولې. د سرې زړه تنګ شو. بهر موټر ته لاړ. میوند د ذاکر شمېره وختي موندلې وه. له سور موبایل څخه یې ټلیفون وکړ. زنګ نه تېرېده. د هغه کور د ښار په مرکز کې و. ورپسې ووت. شېبه پس یې اوږدمخي ته د موټر د درولو امر وکړ. هغه بریک ونیو. کړې یې وکتلې. ده له کېوتو سره بیا امر وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– موټر پرېږدئ راځئ! لږ د پښو مزل دی.

اوږد مخی برګ شو:

– موږ ستا د پلار نوکران نه یو. بېرته به زر راځې!

میوند همدا غوښتل. په چوک کې بې شمېره خلک پر یو کس راتاو وو. هرچا یې مخ ځان ته اړاوه چې ما بوځه. زه ښه خټګر یم. سړی تو به ګار شو. د وتلو لاریې نه موندله. میوند د ټېلماټېل ترڅنګ تېر شو. پنځوس متره به تللی نه و چې په شین سري کس یې سترګې ولګېدلې. د سرک په غاړه یې خیر ټولوه. دی تاو شو چې مخ یې وګوري. یو دم یې شنې سترګې راووتلې. دا ذاکر و. زړه یې سخت درد وکړ. تېز ورغی. هغه پاڅېد. غېږه یې ورکړه. ده وپوښتل:

– دا ولې دا؟

د هغه زړه ډک شو. د خلکو ټېلماټېل ته یې اشاره وکړه:

– دوه ورځې الته ودرېدلمه. چا کار ته نه بیولمه. ځوانان شته. ماځه کوي. مجبور شومه.

– ولې وظیفه؟

– ویې شړلمه. ویلې بودیجه نشته. معاش نشو درکولی.

میوند عمیق نفس واخېست. اوس نو د کمال شاه د انتقال لپاره بله هیڅ لاره نه وه. د ذاکر غږ جګ شو:

– ما خپله په ځان کړي. دوه ښځې مې د بچو سره ناریالین ته ولېږلې. څوارلس ویزې مې ولګولې. ایسته ټولې پیسې په کمیشنکارانو او ټکیټونو لاړې. لا قرضداره شوم. اوس رانه خوشاله امندي. دا ښځه وایي اغوئ درته ګرانې وې ودې لېږلې. اغوئ وایي دا درته ګرانه وه پرې دې ښودله. الته مې زامن کار کوي. یوه روپۍ نه رالېږي.

د میوند په زړه کې خپل بند دکان وګرځېد. وېرېده که نابیتوب وریاد کړي په قهر به شي. پوښتنه یې بل ډول وکړه:

– کوم کسب مسب دې یاد ندی؟

ذاکر کږې وروکتلې. ځان یې نېغ کړ. سر یې شخ ونیو:

– زه اصیل مومند یمه. قوم لرمه. عزیز لرمه. عزت لرمه.

میوند پوهېده چې د هغوئ په زړه کې هم نه ګرځي چې ده ته سپکاوی کوي. سر یې ښکته واچاوه. ذاکر وویل:

– ته دلته څه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند ورته د کمال شاه د کورنۍ کیسه وکړه. ذاکر وپوښتل:

– کمال شاه څه غواړي؟ چې د ناریالین نه بېرته د مقدسپالو په ضد خلک پاڅوي؟

– هو نو. غلی خو نه کېني. څنګه؟ څوک نه پېژنې؟

– پېژنم. مګر ایڅوک دو نه خطر نه مني.

میوند سوړ اسویلی وکړ. ذاکر سر وخوځاوه:

– که زه په خپله وظیفه کې وم ما دا کار کوه. د خپلو بچو د آیندې د پاره.

د میوند په مغزو کې کړنګ شو «منې چې امدا لاره ده» ویې ویل:

– زه درته وظیفه بېرته اخلم. خو چې خپلې وعدې نه په شا نشې!

ذاکر بیا سر جګ ونیو:

– زه اصیل مومند یمه.

میوند له ډېرې خوشحالۍ د جېب ټولې پیسې ووېستلې. ذاکر سست مخالفت کاوه. ده په موټي ورومنډلې. په بېرته

تګ کې یې سرتاجې ته ټلیفون وکړ. ویې پوښتل:

– د پاچا ماما لور څنګه ده د پاچا ماما لور؟

– بلا نده وهلې مکاره.

میوند موسکی شو:

– ته د اغه شرط د پاره په قاره یې؟ اغه پوهېدله چې زه یې منم.

– خدای شته ځینې ښځې سړي داسې غولوي لکه ماشومان.

میوند کړس کړس وخندل:

– ته سبا د جوماتونو د کومک ادارې ته راشه! سترملا صیب ته به ووایو چې یو کس ته کار بېرته ورکي.

– پلار مې؟ اغه چاته نه واسطه کېږي. که د اشرف په وس کې وي وبه یې کي.

میوند سبا دکان خلاص کړ. تر څه ځنډ وروسته یې شامپو او مخپاک په پلاستیکي کڅوړه کې واچول، ووت. دروازه

یې قلفه نه کړه. په ښویه وېښتانو یې لاس د څټ زخم ته یوړ. په موټر کې ناستو څارګرو ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– یارانو! داسې وکئ! یو دوکان ته ګورئ! بل ماسره حمام ته لاړ شئ! شا به مې وسولوئ!

اوږدمخي ټېل واهه:

– ورک شه دمه!

– غوصه کېږه خو مه!

میوند دا وویل، ترې روان شو. د هغوئ له سترګو پناه یې ټکسي ونیوله. د جوماتونو د کمک اداري په کوڅه کې ګڼه ګونه وه. د خیرنو بدنونو بوی یې په سږمو ولګېد. دوو تنو یو بل تر ګرېوان نیولي وو. هریو ویل زما وار مخکې دی. نورو د خلاصولو کوشش کاوه. میوند یې شا ته تېر شو. لوی تالار ته ننوت. هلته شور کم او د عطرو بوی و. سترملا د ښیښو په کوټه کې له څو تنو سره مجلس درلود. په کړکیو کې مامورینو له مراجعینو سره خبرې کولې. سرتاجه د دېوال څنګ ته له چوکۍ پاڅېدله. دواړه د اشرف مېز ته ودرېدل. هغه په کمپیوټر کې نومونه لیکل. میوند د اشنایانو لېست ورکړ چې ثبت یې کړي. ویې پوښتل:

– ای انډیواله! هرچا ته پخوانی کار بېرته ورکوئ؟

– پخوانی د کومه شي؟ زیاتره د کسبونو شاګردي ده. چې استاذ شي، یا خپل دوکان خلاصوي. یا شریک کېږي.

میوند شاته شو:

– نه ولا. زما اشنایان که ماموریت یا دېقاني وي کوي یې. جوالیتوب ام کوي. خو کسب مسب نه کوي.

سرتاجې غږ کړ:

– ګدایي ام کوي.

هغه په سږمو کې وپشېدله. په کمپیوټر کې لېستونو ته یې ګوته ونیوله:

– دا ټول غیرتي دي. په خپل وطن کې په کسبونو شرمېږي. بل چېرته تشنابونه ام پاکوي.

اشرف کټ کټ وخندل. میوند کوڅې ته وکتل. خلک شېبه په شېبه زیاتېدل. بېرته یې اشرف ته مخ کړ:

– انډیواله! هرڅنګه چې کېږي زما یو اشنا ته به خپل کار بېرته ورکوئ!

– څه کار دی؟

– د الوتکو د سوق او اداري مشري. نه کېږي به راته نه وایې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشرف پخ وهل:

– دغه حال دی. خلکو ته چېړاسي توب نه رسي.

د میوند ورته ماغزه سرچپه شول:

– ویت ویت مه کېږه! چې دونه نشئ کولی نو ستاسې کار څه دی؟

سرتاجه د هغه بې نزاکتۍ ته حیرانه شوه. د اشرف هم خندا وتښتېدله. ویې ویل:

– ته ولې په قار یې؟ راتلونکي کې به وشي. دونیا په امید خوړل شوې.

– امید خېټه نه مړوي. او راتلونکی څه مانا؟ سبا؟ بل سبا؟...

– دغه حال دی. په کال کې ام چې وشي ټوپې اسمان ته واچوه!

میوند سوړ اسویلی وکړ:

– سم وو ایه نو چې نه یې کوم!

اشرف سرتاجې ته سر وخوځاوه چې دا څه وایي. خو میوند په خپله خبره کلک و:

– ستاسې خو په وس ده. که په حکومت فشار راوړئ سبا کارونه بېرته ورکوي.

اشرف ګردې وړې سترګې ور واړولې:

– هه، اغه وختونه باد یوړل.

میوند په ډېر امید راغلی و. مړاوی شو. په ټټر کې یې دروندوالی احساس کړ. بیا یې جموجوش ته وکتل. یو دم تېز روان شو. د شامپو او مخپاک کڅوړه یې زنګېدله. د پلاستیک شرپه هار خوت. سرتاجې او اشرف په سترګو بدرګه کاوه. هغه په کوڅه کې په دېوال جګ ودرېد. ناري یې کړې:

– ای ورونو ای! اورئ؟

ټولو مخونه ور وګرځول. سرتاجې او اشرف د کړکۍ نه کتل. سترملا یې هم څنګ ته راغی. میوند وویل:

– تاسې غلي شئ! وایم سترملا صیب خو موږ او تاسې ته کوشش کوي. خو کارونه دونه ندي چې هر چا ته ورسېږي.

منې چې چا ته رسېږي ام، خدای خبر چې کله.

ډنګر ببر سري کس د چرسیانو په انداز غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نو ته څه زموږ په زخمونو مالګې دوړوې؟

میوند آواز لا جګ کړ، چې د کوڅې په پای کې هم واورېدل شي:

– زه وایم خلک د نن او سبا نلري. بچې یې وږي دي. کارونه باید زر پیدا شي. او کارونه تیار د دولت سره شته.

یوتن لاس وښوراوه. چیغه یې کړه:

– ته لېوني یې. کمپنۍ تړل شوې.

– ندي تړل شوي کنه. تاسې یې شړلي یئ. خلاص.

یو سراسري زوږپورته شو. ده چیغه کړه:

– ای! منې چې وغواړئ په زوره خپل کارونه اخېستلی شئ! په رضا یې ګوره څوک نه درکوي.

چا ویل نه کېږي. چا ویل هسې لګیا دی. خو اکثرو پوښتل چې په زور کارونه څنګه واخلو؟ میوند وویل:

– راځئ ټول بېکاران خبر کو! سبا نه، بل سبا نه، دریم سبا مرکزي واټ ته راټول شو. ټولو ته وو وایئ څه چې لرئ درسره یې راوړئ! که حکومت د زوره کار اخېسته موږ تې څه کم یو.

د «ژوند ژوند» او «زنده باد» نارې شوې. میوند غوښتل لاړ شي. سرتاجه یې مخ ته ودرېدله:

– خدای شته ځان دې په بلا ککړ که.

– مکوه! یا به وخورو ککړی یا به کامران شو.

– په دولت دې زور نه رسي.

– ته به یې ګورې.

میوند روان شو. سرتاجې نرۍ پزه په ګوتو کېکاږله. ورباندې غړېږې کړ:

– اوس نو پټ ګرځه!

– منې که ایښ وشي. د اغوئ زه په کار یم. شازادګۍ ورته پیدا کوم.

کټ کټ یې وخندل. سرتاجې وویل:

– خیر دی! دا یوه خبره زما و منه!

ده په ټېر لاس کېښود:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– په سترګو.

میوند خوشحاله و. اول ځل یې د دومره خلکو مخې ته وینا وکړه. هغوئ هم ومنله. بله ورځ به د مظاهرې مشري کوي. د ټولنیزو اړیکو په پوهنځي کې یې لوستي وو چې رهبر همداسې وي. د غرور احساس یې کاوه.

دوو ځارګرو ساعت ته وکتل. ګردمخی له موټره ووت. دده دکان ته یې سر ددننه کړ. تش و. ټلیفون یې راواخیست. ده ځواب ورکړ:

– منې بل ښار کې عاجل کار پیدا شو. چې راغلم بیا غږېږو. خیر دی اغه دوکان قولف که!

موبایل یې بند کړ. ګردمخي ځمکه په لغته ووهله. په خپله ژبه یې کنځلې وکړې. بیا بیا یې زنګونه ووهل. میوند په بس موټر کې ناست و. ټلیفون ته یې کتل. په شونډو یې موسکا ګرځېده.

هغه د ښار په بل سر کې د نایي دکان ته ننوت. ماما یې کلکه غېږه ورکړه. دی په پسخانې کې د زړو چوکیو تر څنګ په یوازینۍ نالۍ وغځېد. څه نایان چې یې پېژندل ټولو ته یې زنګ وواهه. ورځخه یې وغوښتل چې خلک له مظاهرې خبر کړي. وچ هډور سلطان له بیاتي او ږمنځ سره د اوږد سري ځوان شا ته ولاړ و. په ټلیفون کې یې میوند ته وویل:

– خیر دې وي.

د موبایل د بندولو تڼۍ یې ووهله. سمدلاسه یې مشتري ته مخ کړ:

– خبر شوې؟ دریم سبا ټول بې کاره شوي خلک مرکزي واټ ته راوځي.

ځوان په هنداره کې خپل پیکی کوت، چې سم جوړ شوی که نه. ویې پوښتل:

– څه خبره ده؟

– غواړي د دولت نه خپلې وظیفې په زوره واخلي.

– رښتیا وایې؟ زه ام ځمه.

د ښار په بل سر کې تورکي مسلم پاچا سپینږیري مشتري ته همدا خبره وکړه. مشتري برګ شو:

– الکه ته په دې خبرو نه پوهېږې. غلی کېنه! دا ټولې دسیسې دي.

بل ځای رازق د ځان غوندې د چاغ هلک ږیره په برقي ماشین اخېستله. په نري غږ یې وویل:

– مظاهرې ته راځې ورور؟ خلک دولت نه خپلې وظیفې بېرته غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- یره زما پلار خو پېژنې کنه. وګورمه چې اغه څه وايي.

د حمام د څنګ په دکان کې د شناوي ږيري نايي د ګنجي مشتري وښتان بياتي کول. ويې ويل:

- اغا صيب! د حق طرفدار خو يې کنه؟

ګنجي خپل غومبرور مخ ور واړاوه:

- کبير لالا شک لرې؟

د کبير شناوي ږيره بيا وخوځېدله:

- ښه نو دوه ورځې پس دې يو ځای ته بيايمه.

تر سبا پورې د مظاهرې ګنګوسه په ټول ښار کې خپره شوه. ميوند په پسخانې کې پر نالۍ ناست و. په ټلېفون کې يې چاته د مايک او لوډسپيکر د بندو بست سپارښتنه کوله. پکولي ماما يې چای او پنير راوړ. له سګرېټه يې لوخړې وېستلې. دسترخان يې وغړاوه. توده ډوډۍ پکې وه. ميوند په ګيلاسونو کې چای واچاوه. ماما سپينې وروځې بره کش کړې. سپين برېتونه يې وريږدل:

- الکه! دادې څه غوبل جوړ کړی. د مظايرې څه خبره ده؟

ميوند موسکی شو. د پنېر مړۍ يې په خوله ومنډله:

- مکوه ماما! منې چې ډب نه وي ادب نشته.

- داه! دی اوس خلکو ته ادب ښيي. ادې دې پېژندلی وې. ته رښتيا کمقل يې. تا پورې څه؟ خپله ګوزاره کوه!

د ميوند چورت خټه او زړه ډک شو. ګيلاس يې کېښود. ويې ويل:

- منې که اغه ژوندی وه امغسې مې کول.

- ښه د اغې دې منله زما نه منې؟ خفه دې کړمه.

ميوند د ماما مخ ځانته وګرځاوه. د شاهزادګۍ د شرط کيسه يې وکړه. ماما تر چورت وروسته سپين برېتونه ورپول:

- څه وخت مظايرې ته ځو؟

ميوند يو دم غاړې واچوله. لاسونه يې ورښکل کړل. په تک کې يې وويل:

- تر بل سبا دونه کارونه دي چې ډوډۍ ته ام وخت نه پيدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دريمې ماښې کې قمر اقبال پر دواړو څارګرو برګ و. د امروتين په ژبه يې ميوند ميوند ياد وه. هغوئ ځوړند سرونه ښورول. ده د دروازې له درزڅخه تالار ته وکتل. د پوليسو افسرانو يو په بل پسې سرې چوکۍ ډکولې. اکثرو د مقدسپالو يونيفورم درلود. تلوېزوني کمرې په پای کې ولاړې وې. په دريځ کې سپينه لويه چوکۍ ښکارېدله. د کمال شاه طلايي او د ستر ملا شنه څېره نه وه. هغه يې د امروتين ستوري پر لوی شتمن پلورلې وې. خو مقدسپالو ويل د دوئ پاچا ملنګ سړی دی. ډېر جړک او بړک يې نه خوښېږي. الله يار شاه له دروازې څخه راووت. ټول تيارسې ودرېدل. د پاچا وړوکی ځان په لويې چوکۍ کې ډوب شو. پر وړوکي مېز باندې مايکروفونونو ته يې خوله نژدې کړه:

– د غنمين غيرتي او خپلواک ولس ته سلام!

په تالار کې د تکبير نارې شوې. الله يار شاه دوام ورکړ:

– ورونو! د اسلام دښمنان زموږ کاميابي نشي زغملی. اغوئ په کمپنيو حملې کوي چې مسلمانان بې کاره شي. دين ته سپکاوی کوي. اوس غواړي په مظاهرو مو ووېروي. دوئ دې په دې پوه شي چې موږ ولږه تېرولی شو. خپل ځانونه او اولادونه قربانولی شو. خو دين ته سپکاوی نشو زغملی. موږ به يې دسيسې شنډوو.

په تالار کې چکچکې شوې. پاچا ګوته وښنډله:

– ټولو دښمنانو ته وواييئ چې دلته غيرتي قومونه دي. اڅکزي، اورکزي، وزير، خټک، خوږيانې، خروټي، اندړ، پوپلزي او ډېر نور. د دوئ په يوه ناره جهان لړزېږي. دوئ د دين دپاره د سر او مال نه تېر دي. موږ به نن وي که سبا ستاسو ګوډاګيان ماتوو. او تاسې به هم ورسره د تاريخ تورې کندې ته غورځوو.

په تالار کې شور شو. د څنګ په کوټې کې پر چوکۍ ناست جنرال سر ښکته اچولی و. ګوته يې د غومبري او شونډې پر پخواني زخم سولوله. جاويد اقبال د ممپلي په شان وړه پزه ور نژدې کړه:

– تاسې مو ددې دپاره د کورنيو چارو وزير ټاکلي نه يئ چې شخصي خواهشات پوره کئ. زموږ مالي زېرمې دومره ايضافه ندي چې بې باکانه يې باد ته وسپارو. کله چې زموږ له مالي ملاتړه برخمن ياستنو د قرار داد ټولې مادې به په بالقوه ډول په ځان تطبيقوئ!

وزير شکېدلی مخ پورته کړ:

– بې غمه اوسئ! دا ډم به درته ټوټه ټوټه راوړمه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تالار کې دوامداره چکچکو ددوئ پام واړاوه. هلته پاچا د لویو رهبرانو په شان د لاسونو په خوځولو په هماغه دروازه ووت چې راغلی و. ژورنالستان هم لکه پیریان ورک شول. د کورنیو چارو وزیر په جګ سر او مضبوطو ګامونو تالار ته راغی. شکېدلی مخ یې افسرانو ته واړاوه:

– زما دېرې ندې یادې. دونه وایمه چې دا مظاېره چیان امغه د کمال شاه کافران دي. ددوئ وهل ثواب لري. ګورئ رحم پې ونکئ! که نه په تاسې بیا نه خدای رحم کوي، نه دولت. ځئ نو خپلو کارو ته!

د ښار په بله برخه کې سرتاجه له موټره کېوتله. په تېټ سر د مستري خانو له مخې تېره شوه. فرعي کوڅې ته وګرځېدله. سوالګر ماشوم ورته لېرې ولاړ بادام وښود. سرتاجې سترګې کېکاږلې چې خپل سړی دی. بادام هغه ولیدله. باغ ته ورپسې ننوت. سرتاجې په ځمکه سترګې ګرځولې. په احتیاط یې په نرۍ لارې قدم اخېست. دی وپسېد:

– اخله نو. تا خو ویلې دلته شیشکې نشته.

هغې غټې سترګې شاته واړولې. په ملا نېغه شوه:

– دروازه بنده که! شیشکې د پښو لاندې نه وي هو ښیاره. لړمان مې کتل.

بادام پخ وهل. اوږده ږیره یې ورپېدله. هغه جدي شوه:

– دې کې نو څه خندا ده، آ؟ چې وړه ومه د پلار مې انډیوال و. امد غسې باغ یې لره. زه پکې ګرده ګرځېدلمه. ګورمه لړم مې د کمیس لاندې په ملا روان دی. وی، چې رایاد شي ولړزېږمه. څو ځله مې لاس که. منګولې ته رانغی. ما ځان وڅنډه. اغه ټک وهلمه. ایسته مې چیغې کړې. اغوئ هر څو نه ولټوه. پیدا نشو.

بادام بیا له خندا شین واوښت. سرتاجه برګه شوه:

– چې دا تا ټک وهي زړه به مې یخ شي.

له عمومي سرک څخه د پولیسو د موټر غږ راغی. د بادام خندا ورکه شوه. ویې ویل:

– په ما د لړم زهر نه ځي. چې پولیس مو ګیر نکي.

سرتاجې غټې سترګې ور واړولې. د بادام اوږده ږیره وخوځېدله:

– زه یې یو وار دونه وهلی ومه. یوه هفته بیستر ومه.

سرتاجې نرۍ پزه په ګوتو کېکاږله. په سترګو کې یې اندېښنه وبرېښېده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه دې کړي وو؟

بادام پخ وهل:

– اوس په کوزدې پښېمانه نشې.

– کېږمه.

– اخله نو. اسې خبره نه وه. یو الک سره مې جنګ کړی و. ورور یې پولیس و.

سرتاجې د هوسایۍ سا واخېستله. سر یې جګ ونیو. تېزه روانه شوه. ویې ویل:

– خدای شته تاسره د لږم نه ام نه ویرېږمه.

بادام خوږې خوږې ورپسې کتلې. دواړه د کمال شاه پټنځي ته ننوتل. کله چې بېرته ووتل، بادام وپوښتل:

– په ما مو څنګه باور وکه؟

– دېخواته راځه! لاره د قطارو ونو منځ کې ده. دا میوند ویلې بادام درسره بوځه.

– او ته؟

– ما څه کوې؟ خدای شته د ځانه په تا زیاته ډاډه یمه. خو د اشرف لېوني نه وېرېږمه.

– ولې نو راسره واده نه کوې؟ وېره به ام ختمه شي.

سرتاجه په نرۍ لاره کې ودرېدله. ګرد مخ یې ورتاو کړ:

– بس دغه دې ورانه وکړه.

هغه د باغ د دروازې په لور تېزه روانه شوه. د بادام مړاوی غږ جګ شو:

– اخله نو.

د ښار مرکزي واټ د موټرو په مخ بند شو. یوازې یو بارروړونکی ګاډی د سرک منځ ته راغی. په خلاصه باډۍ کې یې د وینا لپاره دریځ ښکارېده. ډله ډله خلک مخامخ درېدل. د چا په لاس کې سوټی و، د چا چاړه. یو نیم تومانچه اړوله رااړوله. مست مست کېدل. په څو دقیقو کې پر سرک د پښې اېښودلو ځای نه و. له نژدې ودانۍ څخه میوند رااووت. چکچکې شوې. هغه د موټر باډۍ ته وخوت. دریځ ته ودرېد. په واټ کې یوازې سرونه ښکارېدل. هوا توده او د خولو بوی و. ده د جیګرې کمیس تڼۍ خلاصه کړه. تر سلام وروسته یې په مایکروفون کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ورونو! موږ د مجبوریته راغلي یو. منې که د ایچا سره بدي لرو. زموږ دوښمن ولږه ده. تنکي ماشومان راته ژاړي. څه نشته چې ورېې کو. مجبوریو سوال وکو. ښه چې ټول سوالګر شو څوک به خیرات راکي؟

ځینو وخندل. یوتن غږ کړ «دولت امدې ته ایښې ده» میوند ورته سر وخوځاوه. آوازیې لوړ کړ:

– چاروا کي دې دا خبره په خلاصو غوږو واوري! موږ کمزوري نه یو. هرڅه کولی شو. چانه ایضافه شی نه غواړو. موږ ته دې خپلې وظیفې بېرته راکي! امدا نن! او اخلو یې. که په زور وي که په رضا.

له یوه سره تر بله سره یو بې ساری شور جګ شو. ټولو یې خبره تایید کړه. د واټ د دواړو خواوو د ودانیو پر بامونو پولیس پیدا شول. د ماشیندارو خولې یې د مظاهره چیانو په لور واړولې. میوند هغوئ ته لاس ونیو:

– دوئ موږ په ټوپکو ډاروي. که دونه نران دي راکته دې شي!

د خندا زوږ ټوله فضا ونیوله. خو د ماشیندارو ضربو خندا په کریکو بدله کړه. هرې خواته منډې شوې. یو نیم کس پر پولیسو ډزې وکړې. هرچا د ژغورنې لار لټوله. زخمیان تر پښو لاندې شول. مرمیو دریځ سوری سوری کړ. د میوند ماما ولوېد. ټټریې په وینو شو. ده ژر پورته کړ. ماما زګیروي کول. سپین برېتونه یې وخوځېدل:

– ما پرېږده! تښته!

خو میوند کله پرېښود. په شا یې کړ. ماما د ځان ټینګولو لپاره دده مخ ونیو. د میوند په دماغ د وینې بوی ولګېد. سر یې وڅنډه چې لاره ووینې. ماما خپلې منګولې د خوریه غاړې ته وښویولې. دده مخ په وینو لړل شوی و. مخامخ روغتون ته یې منډه واخیستله. له رسېدو سره یې نارې کړې:

– اله کومک وکئ! زخمي دی. کومک وکئ!

څوک نه و. نور مظاهره چیان هم ننوتل. د شا له دروازې وتښتېدل. میوند خپل ماما په چوکۍ کوږ کېناوه چې ډاکټر راولي. پر زینه دوه تنه مقدسپال کوز شول. پر دوئ یې ډزې وکړې. میوند د ستنې شاته پټ شو. ماما یې بیا ولګېد. بې روحه جسد یې سوړ له چوکۍ پرېوت. ده ورته وژړل. تومانچه یې ووېستله. په مقدسپالو یې ډزې وکړې. هغوئ د دېوال پناه ودرېدل. ده د ودانۍ د شا دروازې ته منډه واخیستله. په کوڅه کې تاو شو. په وینو لانده لستوڼي یې بده وهل. سرک ته ووت. پولیسو مظاهره چیان موټر ته اچول. ده په پلې لار د ګوتو په څوکو منډه واخیستله. چې د پښو دربهاریې جګ نه شي. د دوو ودانیو ترمنځ لارې ته ننوت. یودم ودرېد. څلور مقدسپال په بل سر کې ولاړ وو. مشر ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته اشاره وکړه. دی له ځایه ونه خوځېد. یوتن د ټوپک خوله ور واړوله. ورسره سم شاته د به شکله موټر د کوټې خوله بنده کړه. د تېښتې هېڅ لار نه وه. د میوند سا سوزېدله. تومانچه یې په لاس کې کېکاږله. غوښتل یې کار ترې واخلي.

د موټر دروازه خلاصه شوه. موټروان د مقدسپالو په یونیفورم کې و. د کوټې د بل سر کسانو ته یې غږ کړ:

– الکه! دا خپل سړی دی.

هغوئ په شک وکتل. میوند هم حیران شو. موټروان سپین پکول لېرې کړ. ببر سر یې ښکاره شو. ده ته یې کړ:

– راپورته شه! کېنه!

دا هماغه سپینږیری و چې دوئ په ماښې کې له اعدامه بچ کړ. میوند وخوت. موټر د ټایرونو له خرپس سره حرکت وکړ. سپینږیري وویل:

– زه چې خبر شومه ما ویلې الک دی، نه پوهېږې. ځو مې ځان در رساوه مظایره شرو شوې وه. پولیسو چې ضربې وکړې ما دوربین کې کتل. ته دېخواته راغلې. په ککړ مخ کې دې خیر و. چا ونه پېژندلې.

میوند په هنداره کې وکتل. لستوڼی یې په مخ وسولاوه. په مغزو کې یې لا هم د زې او چیغې وې. یو مهال سړي موټر ودراوه. ویې پوښتل:

– چېرته دې بوځمه؟ زر وایه چې دا موټر مې تښتولی دی.

– منې د ښاره مې وباسه!

موټر بیا وخوځېد. میوند ترې په ځنګله کې کېوت. مننه یې وکړه. سړی موسکی شو:

– اوله نیکي تا کړې. یو ځل ام نه، دوه ځلې. زه چې لس واره وکم ایله سر په سر شو. یو ولسم وار په مننې ارزي.

هغه کټ کټ وخندل. میوند سر وځنډه:

– نه ماما. په یاد دې دي؟ اته لس کاله مخکې یو کس موټر وهلی و. چا وینه نه ورکوله. تا ورکړه.

د سړي سترګې تنګې شوې. میوند غبرګه کړه:

– اغه زما پلار و. او ماشوم چې ورسره و، زه وم. نو زه ستا پوروړی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي په خندا تندي ته ټس ورکړ. موټر روان شو. میوند ټلیفون را واخیست. زنګونه یې ووهل. سلطان، رازق، مسلم پاچا او کبیر ژوندي وو. ماسپښین برابره ډله جوړه شوه. د مخالفینو سمڅو ته پلې وخوځېدله. په لاره کې رازق وویل:

– ما مې بچو ته پیسې پرې نښودې. څنګه به شي ورور؟

میوند غبرګ کړ:

– خپل خپلوان به لرې کنه؟

– اېڅوک نلرم.

د هغه ستونی ډک شو. ماښام سمڅو ته ورسېدل. جګ او غبرګ شیخ کلام په تورو جامو کې وروروت. هر یو ته یې غاړه ورکړه. د نرۍ فیشني لونګۍ شمله یې د میوند په مخ ولګېدله. د پاچاهانو عطر یې وهلي وو. هغه مخامخ ودرېد. د غولک لاستي په شان ږیره یې ورپېدله:

– زما مسلمانو ورونو! د دین خدمت ته په خیر راغلئ! ما ته خلیفه رازق ستاسې د مظاهرې ویلي وو.

رازق سر وخوځاوه. میوند وویل:

– منې ډېر بې رحمه یې ووژلو شیخ صیب. اینسان او مسلمان داسې نه کوي.

– غم مکوئ شابه! ستاسې د شهیدانو غچ به اخلو. دین او وطن به هم ګټو.

دوئ ستړي وو. ځانته سمڅه یې ورکړه. په برق روښانه وه. د پلاستیکي فرش شا وخوا پر نالیو وغځېدل. شپه په پس کبابونه او کړایانې راغلې. میوند پا نه څېد. زړه یې له خفګانه پړسېدلی و. هم یې د شاهزادګۍ د شرط د پوره کولو پلان سر وخوړ، هم نژدې کسان لاړل. سهار یې ورته جامې، لونګۍ او کاغذپېچه وسلې راوړې. میوند دومره ژر باور حیران کړ. رازق په نري غږ وویل:

– تا اوس هر څوک پېژني ورور. او دوئ خو زما مشتریان ام دي.

په دنګو ونو پټ میدان ته راغلل. د تسمه اندامونو استاد د وسلو د چلولو او د لاس د جنګ چلونه ورښودل. تر غرمې ښه ستړي شول. لندې جامې ورپسې نښتې وې. په خوړ کې یې مخ او لاس تازه کړ. پر پلاستیکي فرشونو وغځېدل. چاغ رازق وبنګېد «له شلو مبو یې پرېز کړو ورور» ټولو هررر وخندل. ببر ږیرې ټيټکی ځوان راغی. غږ یې کړ:

– ستړي مشئ زما ورونو، ستړي مشئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول بېرته کېناستل. رازق پا نه څېد. ځوان د سپينې لونګۍ شمله له غاړې تاوه کړه. موسکی شو:

– ورونو! امدا اوس ملايکې الله پاک ته ستاسې صفتونه کوي. وايي دا دې د ټولو نه ښه بندګان دي.

هغه يو دم په ژړا شو:

– الله ناراضه دی. په دين يې خپله مسلمانان ملنډې وهي. ته دې ته ګوره! مقدسپال عياشي روا ګڼي عياشي.

سلګۍ يې ووهلې. ميوند غوښتل تسلي ورکړي. مګر هغه يو دم غلی شو. سترګې يې په شمله پاکې کړې:

– ورونو! زموږ وظيفه بې حده سخته ده. خلک کافران مسلمانوي. موږ مسلمانان مسلمانوو. کافران تې ښه دي. په اسانۍ دعوت مني. دوئ وايي زه تا نه ښه پوهېږم. نو ام ددوئ په مسلمانولو کې ثواب ډېر دی، ام وژلو کې.

غږ شو چې غرمنۍ تياره ده. مګر ميوند چورت وړی و «دا سړي موږ ته څه ويل غوښتل؟»

سوالګر هلک د شيشکباغ څنګ ته پر خپل ځای ولاړ و. په فرعي کوڅه کې په سپينه ورځ چوپه چوپتيا وه. نابېره د پوليسو موټر دا چوپتيا دړې وړې کړه. د باغ د دروازې مخ ته ودرېد. هلک هم ور روان شو. د پوليسو قوماندان له موټره ووت. په خلاصه باډۍ کې ناستو ملګرو ته يې غږ کړ:

– راځئ کنه! تاسې بايد مانه زړور اوسئ. زه نوی يم.

ملګري يې يو په بل کې ننوتل. يو هم کې نه وت. قوماندان برګ شو:

– هی بې غيرتو! په تاسې به يې ام ډزې کړې وي چې زوی مې پيدا شو.

هغه کټ کټ وخندل. دروازې ته ورغی. ماشوم د سرک بلې غاړې ته ودرېد. لاسونه يې د لويانو غوندې د چليپا په ډول پر ټټر ونيول. قوماندان پاس د شيشکباغ لوحې ته وکتل. خپلو ملګرو ته يې مخ کړ:

– هه، اوس به درته ثابته کم چې شيشکه ميشکه نشته.

زړور يې کيلي د قلف سوري ته برابره کړه. يو دم ګړبه هار شو. دروازه وربېږدېدله. د ښځينه غږ په شان سونګس جګ شو. قوماندان شاته ټوپ کړ. په ځمکه ولوېد. رنګ يې پک والوت. په منډه موټر ته وخوت. پوليس لاړل. ماشوم هم وتښتېد. دننه په تاکاوۍ کې کمال شاه له دوربين څخه سترګه لېرې کړه. موسکی مخ يې بادام ته واړاوه:

– خير و خيريت دی. اصل کې ماشين اوس ام کار کوي. دروازه يې ښه ولړزوله.

د بادام زړه هم آرام شو. د ميوند د مظاهرې کېسه يې وکړه. د شاهزادګۍ سترګې غټې غټې راوتې وې. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه پوهېږم. له سیاست سره یې نه لګېدله. ولې یې داسې وکړل؟

– اخله نو. ستاسو د شرط دپاره کنه. چې خپل اشنا په دولت په زوره مقرر کي.

کمال شاه سر وخوځاوه. د غاړې پوستکی یې وشړېده:

–آفرین! چې اغه ونشو، پرېده چې مخالفینو سره په دولت حملې وکي! چې شاهي حصار بېرته ونیسو. ورته وایه جنګ مه پرېده! پیسې زه درکومه.

ملکو سرونه په تایید وښورول. شاهزادګۍ بادام ته کړ:

– ته راځه! د چای پیالې راوړو!

په پخلنځي کې له چاینکې تیپونه ختل. هغې برقي منقل بند کړ. وچ چای یې له الماری‌ واخېست. ویې پوښتل:

– میوند الته پاتې کېږي که بېرته راځي؟

– پاتې یې وبوله.

– سمڅو کې ماران نشته؟

– اخله نو. سمڅه خو وي د مارانو او ځناورو ځای.

– اوح زما ربه! ورته ووایه راځه! خدای به بلهلار پیدا کي.

– سرتاجې ورته ویلي. نه یې مني. وایي بلهلاره نشته.

– ته خو زما د خوا ورته ووایه!

دواړو پتنوسان سالون ته راوړل. شاهزادګۍ ځان ته چای وانه چاوه. په کونج کې په نفلونو ودرېدله.

ماسخوتن میوند د ډک موټر څنګ ته ولاړو. زړه یې نا ارامه و. جګ شیخ د موټر د څراغونو په رڼا کې ورته وویل:

– بختور یې. نن شپه سپوږمۍ نشته. وارخطا نشې شابه! دولتي ژرنده ده. ساتونکي یې کم دي.

میوند د ماما او ملګرو د غېږ لمبو پارولی و. د موټر سیټ ته وخوت. حرکت یې وکړ. شاته باډۍ کې یې ملګري غلي ناست وو. نیم ساعت وروسته له ځنګله څخه سرک ته ووتل. څراغونه یې مړه کړل. سرک د غنمو د پټیو په منځ کې غځېدلی و. یو مهال لویه کلا ښکاره شوه. کونج په کونج یې برجونه لرل. په هرو څو مترو کې څراغونه لګېدلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننه جګه ودانۍ وه. کړکۍ یې نه لرلې. میوند موټروان ته د درېدو امر وکړ. په تیاره کې د لوېې ویالې په غاړه پلې وخوځېدل. تر شرشرې تېر شول. میوند ملګرو ته مخ کړ:

– ټیک لس باندې دولس حمله کوو. په ویالې کې ځان خوشې کئ! او به مو خپله تر کلا تاووي.

هغوئ دوه دوه ویالې ته کېوتل. مګر میوند او رازق په وچه کې روان شول. رازق وپسېد:

– نن خوشاله یم ورور. ښځې ته مې زنګ وهلی و. ویلې یو کس راته د دوو میاشتو د خرچې پیسې راوړې.

– څوک و؟

– ویلې ګردکی ځوان و. ږیره یې لرله. لونګۍ یې وهلې وه. شیخ صیب دې خیر ویسي. دستي یې سړی لېږلی.

میوند پوه شو چې اشرف پیسې ورورې دي. غږ یې ونه کړ. برج ته مخامخ په ډنډو او بو کې لوخو ته ورسېدل. میوند پښنه ونیوله. رازق وپسېد:

– ولې ورور؟

د میوند په تندي خولې راغلې. بیا یې مخته قدمونه واخېستل. مګر ددې په ځای چې برج وڅارې لوخو ته یې کتل. په زېم والا چمن کې په ګونډو شول. د میوند سا سوزېدله. په برج کې ساتونکی له وسلې سره ګرځېد. یو دم ودرېد. مخامخ یې ددوئ په لور کتل. په مخابره کې یې وویل:

– امر صیب! ما په لوخو کې شړپ شړپ واورېد.

دوئ یې خبرې سمې اورېدلې. امر لکه چې مېله کوله. له خندا ډک غږ یې راغی:

– دا سترګې دې د ښځو غوندې تورولو ته دي که د نر غوندې کتلو ته؟ خو وګوره کنه!

– ګورمه. څه شی نه ښکاري.

– خوار شې ډارنه! ګیدړه به مرغاوۍ پسې ګرځي.

عسکر بیا په ګرځېدو شو. میوند په رازق پسې په ګونډو وخوځېد. ټول پام یې شاوخوا لوخو ته و. رازق وپسېد:

– څه کوې ورور؟ وخت پوره دی. راکیټ برج ته برابر که!

نهه باندې دولس وې. ساتونکي ګازرې خوړلې. خرپې یې اورېدل کېده. میوند د راکیټ نښه ونیوله. د تندي خولې یې په سترګو راغلې. په لوخو کې شړپه هار شو. ده وسله وغورځوله. شاته یې ټوپ کړ. ورسره سم په نورو برجونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکېڅونه ولګېدل. د دوئ د برج عسکر دوه شول. په لوخو یې ضربې وکړې. میوند په اوبو کې ولوېد. رازق ځان ورساوه. هغه لګېدلی نه و. میوند غوښتل وتښتي. رازق کلک ونیو. د ډزو په شور کې یې چیغه کړه:

– چېرې ځې؟ برج وو له!

خو میوند زورونه وهل. ډزې غلې شوې. د کلا شاوخوا د دوئ کسان له مورچلو راووتل. غوښتل یې بېرته راوګرځي. د میوند دوئ د برج یو ساتونکی په دېوال تېر شو. د دوئ په ملګرو یې ضربې وکړې. هغوئ بېرته ځانونه پټ کړل. سلطان تک سپین اوښتی و. په مخابره کې یې وویل:

– میونده! میونده! تاسې چېرته یئ؟ پای.

دلته رازق راکېټ په اوږه کړ. برج یې وویشت. وړاندې ورغی. په بام باندې ساتونکي پسې یې لاسي بمونه واچول. د هغه ډزې هم غلې شوې. له میوند څخه یې مخابره واخېستله. خولې ته یې ونیوله. په نري غږ یې وویل:

– کار وشو! وځو! پای.

موټر بېرته سمڅو ته ورسېد. جګ غبرګ شیخ یې مخې ته ووت. خوشحاله او پارېدلی و. ویې پوښتل:

– د شهادت عالي مقام د چا په نصیب شو که نه؟

میوند په لندو جامو کې غلی ولاړ و. رازق له مټې ونښوراوه:

– تاته وایي ورور!

ده شیخ کلام ته پاس وکتل. وښنګېد:

– نه، زخمي ام نلرو.

– خیر دی. مه خفه کېږئ شابه! دا ځل به مو قسمت کې نه و.

شیخ ورته د استراحت وویل. میوند په سمڅه کې غلی پرېوت. رازق ورباندې برګ شو:

– چې جنګ نشې کولی مه ځه! ستا دلاسه نزدې ټول مړه وو.

ملګري یې حیران شول. رازق هغوئ ته مخ کړ:

– د وېرې رېږده. ډزې یې کولی نشو. اخېر ما راکېټ واخېست.

ټولو قهرجنې سترګې میوند ته واړولې. د سلطان د غاړې توتکه پورته ښکته لاړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خیر دې وي. دی چې ډارن دی مشر به بل څوک کو.

میوند غبرګ کړ:

– مشري موهمه نده. التـه لوخې وې.

هغوئ په کرکه په سږمو کې وپشبدل. دی کېناست. سر یې ځوړند و. په ټیټ غږ یې وویل:

– موږ واړه وو. مشر ورور مې په لینده مرغۍ وویشتله. اغه ګوډه ګوډه لوخو ته ننوتله. پسې ورغلو. اخوا دېخوا مو لټوله. شړپه هار شو. منډه مې کړه. ګورم چې د ورور نه مې دستک غوندې مارتاو دی. اغه اخ نه کاوه. مار غټه خوله وازه کړه. منې زما په مخ کې یې ژوندی تېر که.

د میوند ستونی ډک شو. ژوره سا یې واخېستله. خبره یې وغځوله:

– ما ضوف کړی و. بیا ناوخته مې پلار پیدا کړی وم.

د ملګرو څېرې یې له خوا خوږۍ ډکې شوې. دعاوې یې وکړې. شایې واړوله. ویده شول. سبا څاښت یې وسلې په ګریسو غوړولې. راډیو وویل چې تېره شپه د مخالفینو د حملې له امله دولتي ژرنده وتړل شوه. شپېته کسه بې کاره شول. چاغ رازق غبرګ کړ:

– موږ خو یوازې د ساتونکو برجونه وویشتل ورور. او بنده یې ژرنده کړه؟

میوند په څانګه کې ځوړند راډیو بند کړ. روان شو. په سمڅه کې پر نالۍ وغځېد. بله شپه په لویې کمپنۍ ورغلل. سهار په دسترخان یې بیا راډیو اورېد. هاغه کمپنۍ هم وتړل شوه. میوند وغومبېد. ډوډۍ یې پرېښودله. د سمڅې مخ ته په تیږه کېناست. رازق ورپسې ورغی. ویې پوښتل:

– ولې ورور؟

میوند اسویلی وکړ. سترګې یې ور واړولې:

– منې موږ ښه کار نه کوو.

– کوم کار؟

– امدا په کمپنیو حملې.

د رازق تندی ګونجې شو. میوند وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– موږ مظايره د څه دپاره وکړه؟

– چې خلکو ته کار پيدا کو.

– هو کنه. پيدا خو مو نه که، اوس لا کارونه تې اخلو.

– جنګ کې خو دا وي ورور.

– منې د اغوئ د وږو بچو پوښتنه به خداى موږ نه کوي.

– ته څه لګيا يې؟ موږ يې ساتونکې ولو...

ميوند يې خبره پرې کړه:

– خو دولت کمپنۍ ترې. زموږ د لاسه يې ترې کنه. ستا خپلو بچيو ته څونه سودا وه. په هرچا ګران دي.

رازق حيران و. بېرته سمڅې ته لاړ. ميوند چورت واهه چې څه وکړي. موبايل ته يې زنګ راغی. اشرف له بدلې شمېرې نه په بدل غږ خبرې کولې. شاهزادګۍ يې روغه رمټه وبلله. د ښار په اړه يې وويل:

– تر اوسه خو خيرو خيريت دی. يوازې د امروتين کسانو د ښار عمومي تلاشي شرو کړې ده.

د ميوند وروځې بره لاړې:

– دا لا خيريت دی؟

– څه ښه دی چې ته روغ يې. ټليفون بندوم چې دولت مو پيدا نکي.

ميوند غږ کړ چې مه بندوه. په ټليفون کې رڼا شوه. ده د بېرته تماس نيولو کوشش وکړ. نه کېدل. نا راحته شو «منې قمر اقبال په شيشکو باور نلري. شازادګۍ په شيشکباغ کې دستي پيدا کوي» چټک پاڅېد. په خام سرک ښکته لاړ. د ترې شاته تاو شو. په لوی غار کې موټر ولاړ و. يو سړی لکه پېرى له تيارې راووت. ده وويل شيخ ته ځم. سړي په مخابره کې تماس ونيو. وروسته يې اجازه ورکړه. سمڅه نه وه، سمه شاهي ماڼۍ وه. ميوند د کريستالي قنديلانو په رڼا کې په ورېښمينې غالۍ روان و. تر زينتي الماریو او قيمتي کوچونو تېر شو. د اوږد مېز مخې ته تيارسۍ ودرېد. شيخ کلام په ښويه فولادي لونګۍ کې لوی کمپيوټر ته ناست و. لاس يې ورکړ. ميوند وويل:

– شيخ صيب ما ويل زه خبر شوم چې په ښار کې امروتينيانو تلاشي شرو کړې ده. ما...

– چا خبر کړې شابه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دوستان دې خدای لري.

– څه نو مېږي؟

میوند په دوو کې شو. که ووایي سرتاجې او اشرف ته تاوان ونه رسېږي. که نه وايي بیا خو صداقت نه شو. ویې ویل:

– منې چې نوم یې وانه خېسته. غږیې بدل و.

شیخ په څېړونکي نظر وکتل. بیا یې وروځې واچولې. میوند بېرته خپلې خبرې ته راغی:

– ما ویلې که ستاسې ایجازه وي. موږ به ورباندې حمله وکو. منې ښه موقع ده.

شیخ د ږیرې نرۍ څوکه په ګوتو کې ومروړله. له مېز څخه راتاو شو. لکه خبره چې ډېره مهمه وي. ویې ویل:

– زموږ اصلي دوښمنان مقدسپال دي. پوه شوې شابه؟

– نه شیخ صیب. مقدسپال خو زموږ خپل خلک دي. مسلمانان هم دي.

– نه کنه. امروتینیان ددوئ په زور دلته دي. پوه شوې شابه؟ په مقدسپالو حملې وکئ چې د امروتینیانو پښې سستې شي. بیا ګوره چې څنګه تښتي؟

– منې حکومت په اغوئ باندې زموږ حمله بانه کې. کمپنۍ وتړي.

– بانه مانه نشته. موږ یې مجبوروو.

– ولې؟ خلک بې کاره کېږي کنه.

– امدا د حکومت د تنګولو ښه لاره ده. دین او وطن په رحم نه ګټل کېږي.

میوند غلی شو. شیخ د مېز له سره کاغذ راواخېست. ده ته یې ونیو:

– هه! په مخابراتي کمپنۍ د حملې نقشه ده.

میوند چورت واهه چې څنګه دې حملې مخه ونیسي. شیخ یې پر جرئت وروستۍ ګوزار وکړ:

– او ټولو ته ووایه شابه! د امر نه سرغړونه د مرګ سزا لري.

میوند ووت. ملګرو یې په راډېو کې خبرونه اورېدل. ده ته یې بل ډول وکتل. پوه شو چې رازق ورته ویلي چې د خلکو له بې کاره کېدو سره مخالف دی. میوند د نوې حملې له پلان څخه خبر کړل. هغوئ یو بل ته سترګې واړولې. موسکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول. هېڅ مخالفت ونه ښود. د خبرونو اورېدلو ته يې دوام ورکړ. دی پر خپلې نالۍ پرېوت. زړه يې تنګ و. خبرونه خلاص شول. ملګري يې هم په خپلو ځايونو کې وغځېدل. يو مهال غږ شو:

– قوماندان صيب ميوند خانه!

دی نېغ کېناست. څو کسه له صندقانو سره ننوتل. يو تن د کاغذ پاڼې ورکړې. پکې د صندقانو تعداد او په هر يو کې د مرميو، لاسي بمونو او راکټونو اندازه ليکل شوې وه. ده لاسليک وکړ. خو سترګې يې په لېبلونو کې نښتې وې. دا هاغه صندقان وو چې مخکې امروتين ستوري مقدسپالو ته په پټه رالېږل. چورتي شو «اوس خو پاچايي د امروتينيانو په لاس کې ده. نو وسلې ولې مخالفينو ته رالېږي؟» ميوند ښويه ووت چې دا خبره له شيخ سره شريکه کړي. د هغه ساتونکي په موبايل کې د بربنډو ښځو عکسونه کتل. وارخطا شو. ده د وسلو رسيد وښود:

– منې دا يې امدا اوس راکه. خبرې ورباندې کوو.

هغه ژړلار پرېښوده چې د عکسونو په باب ونه پوښتي. دی دننه د اوږد مېز مخ ته تيارسۍ ودرېد. شيخ په خړرنګي ليپټاپ کې غرق و. ده يې سکرين د الماری په هنداره کې وليد. شيخ نګه عددونه ليکل. ميوند له دغو شيفرونو سره اشنا و. له ځان سره يې وژباړل «*اوس موږ او حکومت کولی شو لسګونه کاله جنګ ته دوام ورکړو. څو موجوده شتمني امروتين ته انتقال او په راتلونکي کې غنمين د امروتين دايمي برخه شي*» ميوند هک پک کتل. خولې ورباندې راماتې شوې. غوښتل يې غلی بېرته ووځي. شيخ سترګې پورته کړې. حيران شو:

– ته څه رنګه دننه راغلې؟

– په دروازه. ولې؟

شيخ تومانچه واخېستله، ووت. دز شو. بېرته راغی. ګوته يې وڅنډله:

– ته زموږ د قانون نه يې خبر. بيا چې ما ايجازه نه وي کړې دننه رانشې! ښه وايه شابه!

ميوند ژر ژر په زړه کې نوې خبره جوړه کړه. ژبه يې ټکنۍ شوه:

– منې موږ ويلې، که اغه، که کمپنۍ کې، چې موږ حمله کوو، که مامورين مخ ته راشي وېې ولو که نه؟

– خو مې ويلې چې ډېر وراني زموږ کاميابي ده. تا ته دين مو هم دی که اينسان؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند سر وخوځاوه، ووت. د سمڅې مخې ته نوی ساتونکی شخ ولاړ و. یو تن په بېلچه کې خاوره راوړه. د مخکیني ساتونکي په وینه يې واچوله. دی تېز تېر شو. ټول فکر يې په شيفر کې و. چورت يې واهه چې ملګرو ته وو ايي که نه؟ ډارېده چې رازق به له پخوانه خبر وي. نورو به هم ورسره د مخالفينو دا پلانونه منلي وي. زړه يې ډک شو «کاش چې شازادګۍ ماسره مينه نه لرله. بيا که زموږ واده نه کېده ام غم به نه و. اغه خو به نه ځورېدله. نه نه، ځورېدو ته يې نه پرېږدم. بله لاره پيدا کوم». ملګرو ته يې مخ کړ:

– منې شيخ صيب زما په خاطر ښايسته ځوان وواژه.

وچ هډوړ سلطان غږ کړ:

– خير دې وي. ولې؟

– زه يې د اغه د اجازې بغير دننه پرېښی وم.

– الته به موهم شيان وي نو. ځوک يې بايد ونه ويني.

– داح! زه پردی يم؟ نه ولا، دا بل ډول خلک دي.

رازق نری غږ وو پست:

– سم خلک دي. په سخته کې يې ځای راکه. نمک حرامي به نه کوو ورور!

ميوند برند برند کتل. دا باور يې لا پخېده چې ملګري يې له شيخ کلام سره دي، نه له ده سره.

په ماڼۍ کې قمر اقبال تېز روان و. دروازه يې په زور ټېل وهله. د مشر ورور د مېز مخ ته ودرېد:

– دا ډم موږ وغولولو. شازادګۍ يې پيدا کړې ده.

جاوېد اقبال په پيسته يي کوچونو ناستې ته وباله. دی کېنناست. د الماري هنداري ته يې ګډ وډ وېښتان سم کړ.

جاوېد اقبال موسکی و. د مميلي په شان وړه پزه يې لا شخه ښکارېدله. ويې ويل:

– آيا ستا کسانو د شازادګۍ د موندلو په هلکه کره شواهدو ته لاسرسي پيدا کړی؟

– نه، اغه څه لتو ګان دي. زه وايمه زه.

– اوصولن په اټکل اغه وخت د تاييد ټاپه لګېږي چې د شواهدو ملاتړ ورسره وي.

– داح. د اغې لټول يې پرېښي کنه. زه وايم تيار په لاس کې دی. رابه يې ولو. شازادګۍ او خزانه به ترلاسه کو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له باندې څخه د چا په زوره خندا راغله. جاوېد اقبال له کړکۍ څخه د ماڼۍ حویلۍ ته وکتل. دوو تنو مقدسپالو په چمن کې غېږه نیوله. نور ترې راتاو وو. دی هم موسکی شو. مخ یې بېرته راوګرځاوه. پېرې شونډې یې ورپېدلې:

– متاسفانه په اټکلو نو تکیه د مالي منابعو د ضایع سبب کېږي! سالم عقل وایي چې نغدې ګټې ته اولویت ورکول په اکثرو مواردو کې مثبته پایله لري. په ذکر شوې قضیه کې ډم زموږ د اهدافو د پلي کولو ښه وسیله ده. که په مناسبه طریقه یې مدیریت وشي په ټول هېواد کې به د نایانو بشري قوه زموږ په خدمت کې وي.

د قمراقبال څېره تروه شوه:

– ولې سم نه وایې چې اټکل مه کوه. ډم زموږ د پاره جنګېږي.

ورور یې له خندا شین شو:

– پښتنو ته په جدي قواره سرېږه د هوښیارۍ بله لویه نښه د شخص په وینا کې د پېچلي متن اورېدل دي. په دغه تمرین د وخت لګول په مناسب ځای کې پانګونه ده.

– مړه ماسره خو سم غږېږه! زړه دې راخوړین که.

– د لېوني خوله هم د غږېدو جوګه ده. په دې اساس د عاقل او کم عقل ترمنځ فرق د مسایلو د ځرګندولو په بڼه کې دی.

قمراقبال ژوره سا واخېستله. سترګې یې چت ته کړې:

– وه خدایه! په لالا مې څه شوي؟

جاوید اقبال موسکی و. ده سترګې وروا ړولې:

– ښه ځه، زه به ثابته کم چې شازادګۍ یې په ربښتیا موندلې. بیا نو ستا ورور ي څه شوه؟

– د سیاسي ماحول مسلطه فضا ددې ایجاب کوي چې د خپلوۍ ترمجازي اړیکو ملي ګټو ته ترجیح ورکړه شي.

قمراقبال تندي ته ټس ورکړ. په تېښته ووت. جاوېد اقبال یې ترشا کړس کړس وخندل.

میوند تر تمرین وروسته په خوړ کې مخ او لاس ومینځه. دسترخان ته کېناست. نا آرامه و. هر ملګري ته بېل بېل ځیر کېده. تر پاڼو تېرېدونکي لمر یې تندی وسوزاوه. ځنګ ته شو. چورت یې واهه چې خبرې له څه شي پیل کړي؟ شاوخوا یې وکتل. نورې ډلې بېلې بېلې په دسترخانونو راتاوې وې. له ډوډۍ یې خوند اخېست. ده له وریجو مړۍ جوړه کړه. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– منې په امروتين کې داسې پلو پخېږي چې ګوتې به ورسره وچيچې.

ټولو کړېږې وروکتلې. د وچ هډوور سلطان توتکه له مړۍ تېرولو سره ښکته پورته لاړه. غږ يې کړ:

– خير دې وي. خوګ ام خدای پيدا کړی. يو صفت خو به لري کنه.

ملګرو يې هررر وخندل. ميوند غوښتل د شيخ کلام او امروتين تر منځ اړيکو ته راشي. ويې ويل:

– منې چې اغه اينسانان دي. خوګ ورته مه وايه!

رازق په نري آواز ملګرو ته کړ:

– رښتيا وايي ورور. خوګان خو دونه مردار مخي نه وي.

بيا د ټولو خندا شوه. هر يو همداسې عکس العمل وښود. يوازې د شناوۍ ږيرې کبير غلی و. ميوند غږ کړ:

– ته پکې څه وايي کبير لالا؟

هغه د لاس مړۍ بېرته کېښودله، پاڅېد:

– څه ورک يې که! د خبيثانو صفت زما ايشتيا په لغته ووهله.

– ته صبر صبر! کېنه! سرونه وړاندې کئ! منې کار مې دی.

هغوئ يې په مقصد پوه نه شول. زړه نازړه يې غوږ کېښود. ده په ټيټ غږ وپوښتل:

– ما ويلې که دا مخالفين د مقدسپالو سره يو لاس وي بيا څه کوئ؟

ټول شا ته شول. چاغ رازق غږ کړ:

– دې وختو کې بې سُره غږېږې ورور.

ميوند ټينګار وکړ:

– مثال وايم. ښه که امداسې وي بيا؟

مسلم پاچا کټ کټ وخندل:

– بيا خو به موږ د مار په سوړه کې د مار نه پټ يو.

ټولو هررر وهل. سلطان په ملنډو وويل:

– خير دې وي، بيا نو اول امدوئ ختموو. د دوئ د پلار کپرۍ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نري سپينکي ځوان پخ وهل. ميوند سر جګ کړ چې څوک خو يې نه اوري. ويې‌ويل:

– منې چې کيسه بوينه شوه. دوئ او مقدسپال د سيکې دوه مخه دي. غواړي غنمين ستورى د امروتين حصه کي.

ټولو ملګرو يې سرونه وښورول. باور يې نه کاوه. نري سپينکي هلک سترګې غټې کړې:

– چې نه مرې لا به يې واورې.

د ميوند تېره زنه وخوځېدله:

– منې چې په دغو ګوناکارو سترګو مې وليدل. زه ناخبره ورغلم. شيخ په کمپيوټر کې امدغسې ليکل.

هغه له جېبه د وسلو د صندق لېبل راوويست:

– دا د مرميو صوندقان امغه دي چې مقدسپالو ته راتلل. او تاسې کله ليدلي چې دولت په دې ځاى بمبار وکي؟

ميوند په چورت کې ډوبو ملګرو ته کتل. د هغوئ عکس العمل يې څېړه. کبير سر ته ټکان ورکړ:

– نالت په شيطان! زه ام شکي ومه چې ولې مو په امروتينيانو حملې ته نه پرېدي؟

د ميوند په زړه لړه هوسايي راغله. ځه يو تن خو ورسره ومنله. رازق ويېويل:

– بيا خو نو موږ بايد د خولو نه لوډسپيکر جوړ کو ورور. چې خلک خبر شي.

د ميوند زړه بېخي ولګېد. اوس يې چورت واهه چې پس له دې څه وکړي. غټ سرى ځوان په رازق برګ شو:

– ځان خپله د بلا خولې ته ورکوو؟ سلطان سم وايي. ختم به يې کو. بيا به امدې ځاى نه سم جنګ وکو.

نري سپينکي بيا سترګې غټې کړې:

– او هو. ښکر دې ورسره برابر دى؟ اغوئ په زرګونو دي.

کلسري ځوان نورو ډلو ته وکتل. هغوئ ټوکې کولې. خندل يې. دى ويې‌ويل:

– دا نه کوو، اغه نه کوو، نو څه کوو؟

د ميوند شنې سترګې د دسترخان په يو ټکي کې نښتې وې. په زړه کې يې ګرځېدل چې کاش په ښار کې پاتې واى.

اوس به يې د شاهزادګۍ د شرط پوره کولو ته يوه لاره پيدا کړې وه. سر يې جګ کړ. تېره زنه يې وخوځېدله:

– کېداى شي موږ د آزادي پالو په نامه ځان ته ډله جوړه کو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ته يې نظر ښه وبرېښېد. ماسخوتن يې د ورکړل شوې نقشې خلاف د امروتينيانو په قطعې حمله وکړه. خو هغوئ ته ونه رسېدل. مقدسپالو يې مخه ونيوله. يو ساعت وروسته بېرته سمڅو ته ستانه شول.

په ماښې کې د دواړو څارګرو مخونه له قهره پړسېدلي وو. جاوېد اقبال ته يې د همدې حملې په اړه معلومات ورکول. کله چې هغوئ ووتل قمراقبال غاښونه چيچل. د جګې پزې څوکه يې وګروله. خپل ورور ته يې تېره وکتل:

– ما درته نه ويلې؟

جاوېد اقبال په مخ لاس کش کړ. د ممپلي په شان وړه پزه يې چنګه شوه. پېړې شونډې يې وربپېدلې:

– موږ تراوسه د خوندي چاپېريال له مزاياوو برخمن يو. که مقدسپال له ژوند سره مقاطعه کوي، که مخالفين، دواړه غنمينيان دي. ددوئ ترمنځ د کړکېچ د امپير لوړېدل د داخلي خصومتونو د ګراف د لوړېدو سره مستقيمن متناسب دي. چې په وروستي تحليل کې زموږ هدف ته د رسېدو لپاره ښه زمينه برابروي.

قمراقبال مخ په ناخوښۍ واړاوه. ويې ويل:

– اوس خو ددې مزاياوو برخمن يې. خو بل ځل يې لاس د امروتينيانو ګرېوان ته ام‌رسي.

– زه ستاسو د فکر له دغې زاويې سره مخالف...

د قمراقبال زغم ختم شو. پر مشر ورور يې برګ وهل:

– بس که نو! دا مه هېروه چې مقدسپال زما په نوښت کاميابه شوي دي.

وروريې وخندل چې ګواکې باتې ولي. ده ته لا قهرورغی:

– حي حي حي دې پرېده! تا ته موفته په لاس درغلې ده. د اصلي موضوع نه خبر نه يې. زه چې د خزانې نه خبر شوم، د پلار مخ ته مې د اغې د ترلاسه کولو پلان کېښود. په پلان کې له مقدسپالو سره د کومک زياتول ام شامل وو.

وروريې په منګولو په غوږ پراته وېښتان شاته واړول. برګ شو:

– په قبله ګاه صاحب باندې د عقل له دايرې وتلي تورونه تپل د خپلې کم عقلۍ ثبوت وړاندې کول دي.

– ته غوږ کېده فلسفي! پلار رومنله. بيا زه د پلان مطابق دلته راغلم. چې ناريالين ته د کمال شاه د تېښتې مخه ونيسمه. چې خزانه په اسانه واخلمه. پلار چې تاته اسناد درکول اساسي پلان په شنه دوسيه کې و. اغه ما جوړ کړی. وګوره! د هرې پاڼې په پای کې قاف او الف ليکل شوي. قمر، اقبال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاوید اقبال د مېز له جعبې دوسیه را واخېستله. په غټو غټو یې کتل. سر یې وخوځاوه:

– امدا اوس شیخ ته وایمه چې میوند ونیسي.

– دادی وینې یارو؟ چې وغواړې سمې خبرې ام کولی شې. ماته یې راتسلیم که. زه د اغه په مذب ښه پوېږمه.

شیخ کلام له ځوانې نجلۍ سره نیم بربنډ پر تخت پروت و. ټلیفون یې د پیغام خبر ورکړ. دواړه نېغ کېناستل. په پیغام کې تش شمېره وه. دواړه بلې کوټې ته لاړل. په دېوال کې پټ خړرنګی لپټاپ یې وکوت. د امروتین په ژبه لیکنه یې ولوستله. شیخ کلام نجلۍ ته په کوناټو سپېره ورکړه. په پښتو یې وویل:

– ای زما نیکاح شوې کډې! څه سمله! د تشویش خبره نده.

نجلۍ په ناز ماته راماته شوه:

– سمه ده زما ګرانه نیکاح شوی خاونده!

دواړو پخ وهل. شیخ کلام جامې واغوستلې. تېز ووت. د میوند سمڅې ته یې وکتل. له لېرې تور غار ښکارېده. زنګ یې وواهه. په بلې سمڅې کې د اوږدې رېږې قوماندان ویښ شو. له خپلې ډلې سره دده څنګ ته راغی. شیخ وویل:

– ای د الله د دین ساتونکو! میوند د امروتیني کفارو جاسوس دی. ویې نیسئ! څوک چې پې درېږي ویې وژنئ!

قوماندان او ملګري یې دومره وپارېدل چې صبر یې نه کېده. په تیارسۍ حالت کې هم ښورېدل. د هریو په سترګو کې د میوند د وژلو تلوسه له ورایه ښکارېدله. قوماندان تر ټولو مخکې د سمڅې خولې ته ورسېد. دننه تیاره وه. دوئ څراغونه ونه لګول. یودم یې هجوم وروړ. پښې یې په تارونو کې بندې شوې. بمونه وچوېدل. میوند له ځنګله څخه لمبې ته وکتل. خپلو کسانو ته یې کړ:

– زموږ تلک کار وکه. ځئ نو تیت شئ! څوک چې مخکې ورسېد، املته ودرېږئ!

د سهار آذان وشو. میوند د پېریانو کوڅې ته ننوت. اته تنه ملګري یې منتظر وو. ده د مارکېټ د تاکاوۍ دروازه خلاصه پرېښوده. دننه د نم بوی و. ورو ورو ټول راغلل. میوند ساعت ته وکتل. د سهار پینځه بجې وې. ویې ویل:

– منې امدا ځای ښه دی. د ورځې به خوب کوو. د شپې حملې. اوس سملئ!

ماښام میوند په کوټو کې ګرځېد چې وګوري څه لري. تورکي مسلم پاچا د شپې ډوډۍ تیاروله. میوند رازق ته کړ:

– ته په دوربین کې وګوره! زه وځم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

رازق ستر ګه له چته ځوړند نل ته برابره کړه. کوځه تشه وه. میوند ووت. د احتیاط لپاره یې له مغازې څخه نوی سیمکارت واخیست. سرتاجه او شپوه ګل یې له خپل راتګه خبر کړل. سرتاجې بادام ته ټلیفون وکړ. ویې ویل:

– ته سبا باغ ته ډوډۍ یوسه! زه به میوند ورور وګورمه.

د بادام اوریده ریږه وخوځېدله:

– اخله نو. اغه خطرناک ځای ته خپله ځې؟

– نه نه، تا نه پرېږدمه.

– ولې؟

– بس نو.

سرتاجې نرۍ پزه په ګوتو کېکاږله. بادام سر وښنده. ټلیفون ته یې خوله نژدې کړه:

– ستا خو ښه! زما په ښځه پام کوه! اغه په ما د ځانه ګرانه ده. زه خپل امانت سلامت غوارمه.

د هغې سترګې له موسکا سره ډکې شوې. سبا بادام د خوړو له کڅوړې سره شیشکباغ ته ورسېد. کمال شاه په دوربین کې کتل، چې تعقیب شوی نه وي. شاهزادګۍ مطالعه بنده کړه. کتاب یې په کوچ پرېښود. ویې پوښتل:

– سرتاجه رانغله؟

بادام کڅوړه د پخلنځي په مېز کېښوده. د سالون له دروازې یې وویل:

– میوند د مخالفینو نه راتښتېدلی. اوس د لوی مارکېټ تاکاوۍ کې دی. اغه الته لاړه.

کمال شاه له پلن او دروند ځان سره سره چټک پاڅېد. برګ شو:

– اغه ځای ورته چا ښودلی؟

بادام خوله ویته کړه. کمال شاه تروه تنده شاهزادګۍ ته واړوله. هغه چورتي ولاړه وه. ویې پوښتل:

– وروره! کوم مشکل خو پېښ شوی ندی؟

بادم اوږې واچولې چې نه پوهېږم. احمدزۍ ملکې پیکي ته څنډ ورکړ. پر سپین تندي یې هم د زنې غوندې شین خال ځرګند شو. په کوچ کې تاوه شوه. بارکزۍ ملکې ته یې سترګې واړولې:

– ستا شازاده زوم خو سمه مشاده ده. موږ ته الوتکه کله سمځو کې لټوي کله تاکاوۍ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوو ملکو ورسره هررر وهل. بارکزۍ ملکې غومبرور مخ خپلو طرفدارانو ته واړاوه:

– دا ځینې خولې لکه د تشناب سوړې، همېشه تې بوی ځي.

یو دم درې ملکې یوې خواته شوې درې بلې خواته. ګوزارونه یې پیل کړل. کمال شاه په منځ کې چیغې وهلې:

– غلې شئ! اصل کې د دغه الک نه و شرمېږئ!

د ملکو ټیکري په پښو کې تاوېدل. شاهزادګۍ د مور ساتنه کوله. خو زور یې نه رسېد. بادام لاس نه کاوه. پوهېده چې په هر حالت کې پردیو ښځو ته لاس وروړل د چا ناموس ته بد کتل دي. کمال شاه امر وکړ:

– څه ته ګورې مړتا؟ کومک وکه!

اوس نو هغه هم ورګډ شو. یوه ملکه یې کشه کړه. نرۍ ټوکر وشکېده. د ملا خرۍ خرۍ غوښې یې راووتلې. هغې د کوچونو شاته ځان پټ کړ. بادام بله له اوږو راکاږله. هغه په شا ولوېدله. کنځلې یې وکړې. په پای کې ښځې غلې شوې. د کمال شاه مخ شکېدلی و. سا یې سوزېدله. پر کوچ کېناست. ویې ویل:

– اصل کې ښځې لکه د ډاکټر ګولۍ، که دې یوه وخوړه جوړېږې، که دې ډېرې وخوړې بترېږې.

شینخالې احمدزۍ ملکې غږ کړ:

– په تا یوه ښځه ام دوه خوراکه ایضافه ده.

ملکو کټ کټ وخندل. د بادام له خولې بې واکه ووتل:

– اخله نو.

هاخوا میوند له سلطان او مسلم پاچا سره د مارکېټ د دویم منزل د سپورتي سامان په ځانګه کې منتظر وو. خوشې خوشې یې کله د فوټبال توپ رااخیست، کله د کرېکټ بیټ. شا یې پلورونکي ته اړولې وه چې ویې نه پېژني. سرتاجه او شېوه ګل ورسېدل. میوند ورته د مخالفینو کیسه وکړه. سرتاجې نرۍ پزه په ګوتو کېکاږله. وپسېدله:

– شوکر. که اغه تصادف نه وای موږ به ټول عمر فکر کاوه چې مخالفین سم خلک دي.

میوند سر وښوراوه. ویې پوښتل:

– شازادګۍ څنګه ده؟

– ټوله ورځ تا ته دوعا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چې یو ځل مې لیدلې وه.

سلطان یې په خبرو کې ودانګل:

– خیر دې وي، ته دې یارانې پرېږده! اوس د وطن ازادي مو همه ده.

دوه کسه راغلل. د کرېکېټ بیټونه یې کتل. میوند شاکره. کرمچې یې ملګرو ته وښودلې:

– منې زما دا خوښې دي. سپکې دي. والیبال پې ښه کېږي. څو جوړې په کارې دي؟ شل جوړې...

دوو تنو بېټ واخېست. د پلورنکي څنګ ته لاړل. میوند بېرته ملګرو ته تاو شو. وپسېد:

– منې ما د ازادي لاره ام د شازادګۍ سره د واده دپاره نیولې.

ملګري یې اندېښمن وو چې دده له لاسه به پټنځی رسوا شي. سرتاجې وویل:

– وروره! موږ ام امدا وایو. واده به د وطن د آزادۍ نه پس وکې.

میوند د اعتراض په توګه په سږمو کې وپشېد. خپلو دوو ملګرو ته یې لاس ونیو:

– په موږ شپږ ویشتو کسو وطن آزادوئ؟ کېنئ نو!

– موږ دوه نه ایسابوئ؟ خدای شته نور به راولو. ډېر به شي. که شازادګۍ ناریالین ته ولېږو...

میوند برګ شو:

– اغه ایچېرته نه ځي! ما خپل سر د څه دپاره په لاس کې نیولی؟

شېوه ګل د سرتاجې په غوږ کې وپسېد:

– د سترملا صیب د خولې ورته ووایه!

سرتاجه اول پوه نه شوه. وروسته یې مخ میوند ته کړ:

– خدای شته دا زه نه وایم. پلار ته مې کیسه وکړه. اغه ویل شازادګۍ دې ام ناریالین ته ولېږي. ما ویل اغه کس شرط د واده دپاره قبول کړی. پلار مې ویلې اوس دې واده نه کوي. دا یې په خیر ده.

میوند بیا سر وڅنډه. مسلم پاچا تېرې وکتلې:

– ته د سترملاصیب خبره نه منې؟ توبه توبه! د خدای په عذاب به مو اخته کې ګوره.

دواړه ملګري یې داسې پشېدل لکه اوس چې به یې وخوري. میوند وډار شو. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما یې کله خبره نده منلې؟ وایم زه به اغوئ ونشم لېږلی. نو واده به ام نه کوم؟ دا خو...

شېوه ګل یې خبره پرې کړه:

– وبه شي خانه.

د ټولو سترګې ورواوښتلې. هغه غبرګه کړه:

– الوتکه به وتښتومه. خپل بچي به ام بوځمه. که وشوه زه به پټ بېرته راشمه.

دا ځل میوند برګ شو:

– دا دونه وخت په ما مېچنې وګرځېدلې. او ته غلی لکه خښنه تیږه.

– نه کنه. ایله مې مشرانو سره انډیوالي اچولې. ای خانه! د جومې ماښام ښه دی. اغوئ په کور وي.

پلورونکي غبرګ کړ:

– ای وروره! که څه شی اخلئ واخلئ، که نه ځئ! دا د مجلس ځای ندی.

سبا سرتاجې کمال شاه د تګ له پلان څخه خبر کړ. ملکو د خوښۍ ټوپونه ووهل. شاهزادګۍ خیالونو په مخه کړه. په سختۍ یې خوشحالي پټوله. سرتاجه یې کوټې ته بوتله. دواړه په تخت کېناستلې. شاهزادګۍ پزه جګه ونیوله:

– میوند خو خراب شوی ندی؟

– نه. التبه یې ښه ډوډۍ ورکوله.

شاهزادګۍ موسکۍ شوه. سرتاجې ته یې د شیانو لېست ورکړ چې له بازاره یې راوړي. هغې وپوښتل:

– دا د څه دپاره؟

– چې پلار او مور مې لاړ شي موږ واده کوو.

– اغوئ به پکې نه وي؟ خدای شته سم کار ندی.

– هیله کوم. ته مداخله مکوه! ماته یې روغ صورت موهم دي. واده کې دې نه وي کنه.

د جمعې په ماښام میوند او سرتاجه شیشکباغ ته ننوتل. شاهزادګۍ د سالون په منځ کې لکه بُت ولاړه وه. نظر یې په میوند کې نښتی و. له ډېرې خوشحالۍ یې سترګې مشي هېره شوه. مګر دده د زړه مراندې سستې وې. د بې وسۍ احساس یې کاوه. سرتاجې وښوروه. میوند بیدار شو. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اعلی حضرته! اوس الوتکه راځي. پینځو دیقو کې به‌رته الوځي.

کمال شاه ترملکو مخکې باغ ته ووت. میوند د شاهزادګۍ څنګ ته لاړ. په ښویه وېښتانو یې لاس تېر کړ. د څټ په زخم یې وسولاوه. په شنو سترګو یې روغبړ وکړ. شاهزادګۍ د کوټې دروازه پرانیسته. دېوالونه او چت په ګلانو رنګین وو. پر تخت د نقره یي لیکو سپینه سرتختي پرته وه. په منځ کې یې دوه تک سره زړونه ښکارېدل. د پاسه د ګلابي ګلانو سپینې جالۍ څپره وهلې وه. میوند وپوښتل:

– دا چا؟

– ما خپله ګنډلې.

ده برند برند کتل. د ویلو یې څه نه لرل. شاهزادګۍ تکه سره شوه. سترګې یې ښکته واچولې. وپسېدله:

– زه ام په خپله وعده ولاړه یمه.

د میوند ستونی تنګ او تېر کېکاږل شو. ټلېفون ته یې زنګ راغی. د پیلوټ غږ و:

– دا دی در رسېږم خانه!

میوند او شاهزادګۍ باغ ته منډه واخېستله. وړه الوتکه پر لنډ پوخ سرک کېناسته. نیمه د شېوه ګل په پینځه لسو بچیانو او دریو ښځو ډکه وه. په کمال شاه پسې ملکې هم وختلې. شاهزادګۍ ورسره له دروازې څخه خدای پاماني وکړه. کمال شاه له قهره په چوکۍ کې سور او شین شو. چیغه کړه چې وخېږه. هغې په موسکا رد کړه. سرتاجه میوند ته په غوږ کې وبنګېدله. دی د شاهزادګۍ څنګ ته لاړ. سترګې یې ځمکې ته واړولې. ویې ویل:

– ته ام ورسره ځې!

هغې اول سرتاجې ته تروې وکتلې. وروسته یې سترګې میوند ته واړولې:

– زه نه ځمه. اغې درته څه وویل؟

– اغه څه کوې؟ منې تاته دلته خطر دی.

شاهزادګۍ په شا لاړه:

– څه پروا کوي؟ تاته چې دی؟

د میوند په سترګو کې نم وځلېد. برګ شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– کلکېږه مه! بله لاره نشته.

له متې یې ونیوله. هغې شاته زورونه وهل. تاکاوی ته یې سترګې اړولې وې:

– وه زما کوټه. زما زیامت.

سرتاجې یې بله متره کلکه کړه. په زوره یې وخېږوله. د میوند او ښکې وڅڅېدلې.

■■■■■

کمال شاه د الوتکې له کړکۍ لاندې کتل. د ښار په څېره کې ډار او غریبي له ورایه ښکارېدله. په زیاتره کورونو کې تیاره وه. که جبري نه وای د کور د مخ څراغ یې هم نه لګاوه. سر له ماښامه کوڅې تشې وې. خلکو د چکر تنده د کورونو له بامونو څخه په سیل ماتوله. یو نیم دولتي موټر په سرک تېرېده. هغه بارکزۍ ملکې ته مخ کړ:

– اصل کې دغو کمقلانو امدا غوښتل. اوس وخورئ! خدای مو ددې نه ام بدتر که!

هغې سوړ اسویلی وکړ. الوتکه په مړو څراغونو د ودانیو له پاسه روانه وه. خلکو په بامونو کې سرونه ټیټول. کمال شاه غږ کړ:

– الکه! ارتفاع ونیسه! د برق له خادې سره ونه لګېږو.

شېوه ګل په دقت مخامخ کتل. ویې ویل:

– بیا مې رادارويني.

کړس شو. د جګ کور په سر یې د تلوېزیون انتن وواهه. کمال شاه په قهر وبنګېد. شېبه پس له ښاره ووتل. کورونه په فاصلو کې مخې ته راتلل. الوتکه د ناریالین ستوري په لور سیخه شوه. ټولو د هوسایۍ سا واخېستله. شېوه ګل تنۍ ووهله. په سالون کې رڼا شوه. کمال شاه غږ کړ:

– لور مې څه شوه لور مې؟

ټول حیران شول. بارکزۍ ملکې په چیغو پیل وکړ:

– اله لور مې غورځېدلې ده. وه خدایه مړه شوه!...

شېوه ګل وویل:

– نه نه، ما دروازې بندې کړې بیا والوتمه. تشناب کې به وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارکزۍ ملکې او د شېوه ګل تورکۍ ښځې ټول کونجونه ولټول. هغه نه وه. کمال شاه د بېرته ګرځېدو امر وکړ. نابېره د پروژکتور رڼا ددوئ سترګې وبرېښولې. د ملکو چیغې وختلې. د شېوه ګل سورمخې ښځې غږ کړ:

– وه مورې ې ې!!!

ددوئ هرې خواته جېټ الوتکې روانې وې. شېوه ګل خپلو ښځو ته کړ:

– تاسې چیغې پرېدئ! د بچو د چوکۍ پټې کلکې کړئ!

په یوې جیټ الوتکې کې قمر اقبال و. شېوه ګل یې تسلیمېدو ته باله. د جزا د نه ورکولو ژمنه یې کوله. خو ځواب یې وانهورېد. څنګ ته یې د مقدسپالو چاغ جنرال وویل:

– خدای دې وبښه! څه ته ګورې؟ ژر تې جیګ که!

قمر اقبال سترګې تېرې کړې:

– تانه به ژر جیګ کم. التـه شازادګۍ ده.

شېوه ګل لیدل چې یوازې لاندې خوا تشه ده. څراغونه یې مړه کړل. ویې ویل:

– دلته ځنګل دی. ما پکې ښکار کړی. توکل په خدای! ځانونه کلک کړئ!

الوتکه یودم د ونو تر سرونو پورې ټیټه شوه. د ښځو او ماشومانو چیغې وختلې. شېوه ګل مخامخ چنارونه ولیدل. بیا یې ناڅاپه ارتفاع کمه کړه. د ونو لاندې روان شو. شاتنۍ الوتکه په چنار کې ولګېدله. له چاودنې سره سپینه رڼا شوه. نور ملګري یې په ونو واوښتل. قمر اقبال د ټکر ځای ته راوګرځېد. د الوتکې له ټوټو او له ونې لمبې ختلې. د پروژکتور رڼا یې وګرځوله. د شېوه ګل الوتکه نه وه. ټولو ته یې امر وکړ چې تیت شي. شېوه ګل د خوړ د پاسه پټ روان و. یو مهال مخامخ جیټ پیدا شوه. دی ژر د څنګ په ونو ننوت. شاخونه یې ووهل. الوتکه کږه وږه شوه. په ځمکه ونښېدله. پوزه یې له خاورینې پښتې سره ولګېد. کږه پرېوتله. جیټ تېره شوه. ماشومانو ژړل. شېوه ګل دوه ډک بیکونه په اوږو کړل. تور ځنګله ته ووت. نوره ډله ورپسې وه. په فضا کې د جیټانو وحشتناک غږونه تاوېدل.

قمر اقبال ایله سبا غرمه د شېوه ګل الوتکه وموندله. هېڅوک پکې نه و. ویې ویل:

– بل ډول نه کېږي. ځنګل به له یو سره کونج په کونج ولټوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپوه ګل په ځنګله کې روان و. په لاس کې یې څلور غټې مرغاوۍ ځړېدلې. لنډ او تنګ خوړ ته ورسېد. د چینې دپاسه د غټو ګټونو ترمنځ تنګې لارې ته یې ځان برابر کړ. ښه وړاندې لاړ. په رڼې پلاستیکي پردې طبیعي کوډلې ته ننوت. غشي، لینده او مرغاوۍ یې په ښویه تیږه کېښودلې. په کوډله کې له پخوا څخه ښکاریانو تول سوري کانکرېټ کړي او دېوالونه سپین کړي وو. دده واړه بچیان د لرګیو په وړو چوکیو اوښتل را اوښتل. خندا یې کوله. غټانو په کونج کې ګرده کرښه اېستلې وه. وړې تیږې یې په ګوتو ویشتلې. چې له کرښې یې وباسي. تورکۍ ښځې یې له فلزي نغري څخه سور دېګ واخېست. ماشومانو ته یې ناري کړې چې ډوډۍ وخورئ. په یوه شېبه کې د دېګ بېخ تک سپین واوښت. پاچا له شپږو واړه ملکو سره پر وچ لرګین تخت ناست و. په غټو غټو یې کتل. وبنګېد :

– اصل کې دا اینسانان دي که ځناور؟

د ټولو ماشومانو سترګې ورواوښتلې. د احمدزۍ ملکې د شین خال زنه وخوځېدله:

– که سبا وږي شي او خواړه نه وي؟ وه خدایه ومو ساتې!

هغه له ډاره ولړزېدله. د پیلوټ په مېرمنو ښه ونه لګېدله. مېړه ته یې وکتل. هغه لکه بېخي چې اورېدلې نه وي. په بیکونو کې یې لاس واهه. فلزي ډبې یې اړولې را اړولې. ویې ویل:

– دوه ورځې نور ام کنسروا لرو.

د بارکزۍ ملکې غومبرور مخ تک سور واوښت. غږ یې کړ:

– دوه ورځو نه مخکې د وتلو لاره وګوره! وه خدایه! لور ته مې خیر کې!

شپوه ګل سر وښوراوه:

– زه پوهېږم. تاسې ته سخته ده. زما بچي ام د پولادو نه ندي جوړ.

ملکې سترګې برګې کړې:

– ستا دلایل زده دي که کار ام کولی شې؟

د شپوه ګل سورکۍ ښځه وبنګېدله «اوس خو دې پاچایي نده» شینخالې احمدزۍ ملکې واورېدل. غږ یې کړ:

– الماس په هرځای کې الماس وي.

شپوه ګل سوړ اسویلې وکړ. په چوکۍ ډوله تیږې کېناست. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دا ځای ښه دی. اغه دی عسکر تېر شول، ویې نه لېدلو. چې اغوئ د ځنګله نه لاړل، بیا وځو.

ماشومانو نېغ نېغ کتل. احمدزۍ ملکه وبنګېدله:

– څو چې عسکر د ځنګله نه ځي موږ به د دوئ په خېټو کې یو.

کمال شاه غږ کړ:

– غلې شه ورکه شه! خپله ورته چل ښیې.

دوه ورځې نورې هم تېرې شوې. په ځنګله کې شرپ شرپ و. د عسکرانو اوږده لیکه د بوټو له منځه د لوی ډنډ غاړې ته ووتله. مرغاوۍ والوتلې. شېوه ګل تر بوټو لاندې ځان غلی کړ. د مقدسپالو چاغ جنرال نور حوصله له لاسه ورکړې وه. قمر اقبال ته یې کړ:

– عالي قدره! خدای دې وبښه! اغوئ د سپین ساحل ښار ته اوښتي دي. عسکر به دلته ګرځي. موږ به الته لاړ شو.

قمر اقبال د تېرې پزې څوکه وګروله. کږې یې وکتلې:

– اغوئ تا غوندې په شا دراندہ دي. په غره کله ختلی شي؟ څه خیر. ته یې دلته لټوه! زه الته ځمه.

هغه روان شو. جنرال غاښونه جینګ کړل. په سږمو کې وبنګېد. قمر اقبال شاته وکتل. جنرال ژر ځان نورمال کړ. کله چې قمر اقبال له سترګو پناه شو، دی په تیږه کېناست. ببرږیري افسر ته یې کړ:

– څه لکه بلدې سپی رانه تاوېږې؟ وګرځه! شاوخوا وګوره!

پینځه ورځې پس د شېوه ګل په اوږدې شوې ږیرې د باران اوبه روانې وې. له یو غېږ سابو سره په کوډله ننوت. کمال شاه او ملکې پر تخت بې حاله پرتې وې. ماشومانو د میندو په غېږ کې ژړل. دده تورکۍ ښځې وپوښتل:

– وۍ خدایه! دادې بیا ولې راوړل؟

– څنګه وکمه؟ د ښکار په ځای کې عسکر دي؟ او مېوې نشته. ونیسه په اوبو کې یې وایشوه!

– څه ګټه؟ د ټولو پې کانګې راځي. درې ورځې یې خوړلې دي.

– څه پروا لري؟ وچه ډوډۍ سروکال خورو. کانګې خو مو نه راځي.

نابېره عسکر په کوډله ننوتل. چیغې یې کړې« ونه خوځېږئ! لاسونه پورته کئ!» ببرږیري افسر په مخابره کې چاغ جنرال خبر کړ. شېبه پس هغه راورسېد. کمال شاه یې له غومبري کش کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چېرته تبښتې پاچا ګله؟

ماشومان له ډاره د میندو په غېږ کې ننوتي وو. جنرال سترګې په کوډله کې وګرځولې. د ملکو مخونه تک زېړ او ښتي وو. غلې غلې سونګېدلې. دده څېره تروه شوه. شېبه ګل یې له ګرېوانه ونیو:

– شازادګۍ چېرته ده شازادګۍ؟

– نه پوهېږم. اغه موږ سره رانغله.

جنرال چورتي شو. د مقدسپالو بېرېږیري افسر وویل:

– زه به په عالي قدر شازاده زېرى وکم، هه؟

جنرال هغه له لاسه ونیو. کونج ته یې کش کړ. په غوږ کې یې وپسېد:

– دوئ چېرته پټ که! په قمراقبال به یې خرڅ کو.

افسر له تعجب سره موسکی شو. سترګه یې ووهله.

شاهزادګۍ په ښار کې د څلورم منزل کړکۍ ته ودرېده. په دوربین کې یې وکتل. لاندې سپین موټر له پارکېنګ څخه سرک ته ووت. په پلې لار کې اکثرو ځوانانو د مقدسپالو تورې جامې اچولې وې. دا وبنګېدله «ټول سړي د وخت سره پوستکی بدلوي» دوربین یې د سرک هاخوا د دېوال په غېږه کې لوېې ساحې ته برابر کړ. په ټولو چمنونو کې نلونو د فوارې په شان او به شیندلې. دوو باغوانانو د ګلانو په پټیو کې خېشاوه کوله. ډله ډله خلک سپینې لس منزله ودانۍ ته تلل راتلل. په سر کې پر شنې ګمبدۍ لیکل شوي وو «د ستر ملا دفتر» شاهزادګۍ دوربین احاطوي دېوال ته څېرمه شیرچایي کورته واړاوه. څلور منزله یې لرل. په انګړ کې یې ماشومانو ټال خوړ، ښوینده یې کوله، په لرګینو الوتکو سپرېدل. دوو نوکرو یې پالنه کوله. څنګ ته د سپینې یو منزله ودانۍ په حویلۍ کې سرتاجه وه. نوکرې ته یې له تناب څخه د ځینو جامو د ټولولو ویل. شاهزادګۍ دوربین د کړکۍ مخ ته کېښود. هنداري ته ودرېدله. طلايي وېښتان یې په ګوتو د غوږ شاته بند کړل. خپل تور ګرد کمیس او سپین پرتوګ یې له هرې خوا وڅېړه. د سرتاجې عکس یې له هنداري سره ونیو. اول یې ځان ته وکتل، بیا هغې ته. په بل لاس یې د میوند عکس راپورته کړ. ویې پوښتل:

– ښه ګرانه! په دې ملاګۍ کې مانه څه شی زیات دي؟ مرداري غوښې؟آ؟

غاښونه یې وچیچل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زه به ستا غوښې دې ته ورکم، ددې تاته. پوه شوې؟ ویمه چې یو په بل ماړه شئ.

دروازه وټکېدله. هغې ټادر په سر کړ. ورغله. پخې ښځې په پتنوس کې ډوډۍ راوړې وه. وپسېدله:

– الا سړی دې کله راځي؟ پولیس ګرځي. د هوټل خاوند وېرېږي. مجردې ښځې ته دلته ایجازه نشته کنه.

شاهزادګۍ پتنوس واخېست. پزه یې جګه ونیوله:

– رابه شي. ورور یې مریض دی.

– الا ته یې څنګه بو نه تلې؟

– زه ښه نه یمه.

ښځې سر وړاندې او غږ ټیټ کړ:

– د هوټل خاوند ویلې اسې نه چې خطرناکه ښځه وي. تا ښیي. وایي سوالګر ته به یې پیسې ورکړې وي چې ووایه زه یې مېره یم. چې کوټه ونیسي. ما ویلې نه نه. مېړه یې بند پاتې دی. ما ام تا غوندې خبره جوړه کړه.

شاهزادګۍ پیسې په لاس ورچوخې کړې. ویې ویل:

– خیر یوسې!

دروازه یې وتړله. دخولې سازیې وواهه «ما ام تا غوندې خبره جوړه کړه. چاغومبۍ، روې. ښه پوهېږي»

د تاکاوۍ په سالون کې د میوند نیمو ملګرو په خپلو بیکونو کې وسلې او جامې کېښودلې. نیمو نورو ورسره مرسته کوله. په څېرو کې یې ناراحتي وه. میوند له کوټې څخه راغی. ټولو ته یې یو یو کاغذ ورکړ. ویې ویل:

– ښه یې وګورئ!

خپله یوه شېبه غلی کوز او بر وګرځېد. ملګرو یې کاغذونه وکتل. ده ورباندې بیا غږ کړ:

– ما چې څه لیکلي روښانه دي؟

هغوئ سرونه وښورول. ده دوربین ته سترګه برابره کړه. په تنګه کوڅه کې تیاره وه. ویې ویل:

– کراره کراري ده.

نیمو ملګرو یې بیکونه اوږو ته واچول. رازق یو دم میوند ته غېږه ورکړه. دی حیران شو. هغه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مرګ او ژوند دی ورور. چې پاتې نشي. ما فیکر کوه چې زما بچیانو ته پیسې شیخ لېږلي. اغه ته وې. خیر ویسې! ستا ښه به ایڅکله هېر نه کم.

– غلی خوار شې! موږ یو بل ته له سره تېریو. پیسې څه شی دي؟

میوند حرکت وکړ. نور ورپسې شول. نیم ملګري یې ولاړ وو. ده مخ ور واړاوه:

– دوعا کوئ!

دوئ لکه پېریان ښویه ښویه له کوڅې ووتل. دوو ټکسیانو ته وختل. پینځه لس دقیقې پس رنګارنګو څراغونو ته نارسېده کېوتل. دوه دوه هوټل ته ننوتل. نیمه شپه د پینځم منزل له شاتنیو کړکیو رسۍ ځوړندې شوې. دوئ د پولیسو په برګو جامو کې د خاصې قطعې بام ته وښویېدل. په لاسونو کې یې چړې پړکېدلې. د ګوتو په څوکو د بام پهردار خانې ته ننوتل. د چا غږ جګ نه شو. وروسته په زینه کېوتل. میوند اشاره وکړه چې نیم د دهلېز برې او نیم کوزې خوا ته لاړ شئ. په کوټو کې دروند دربهار و. رازق په دهلېز کې بلې کوټې ته تېرېده. شاته یې یو مقدسپال له برچې سره غلی غلی نژدې کېده. اخ شو. رازق شاته وکتل. میوند نیمژواندی مقدسپال غلی په ځمکه پرې اېست. رازق خوله لکه شپېلۍ کړه. سا یې د شمال له غږ سره وویستله. نیم ساعت پس بېرته د هوټل کړکیو ته وختل.

سبا یې په تاکاوۍ کې تلویزون کوت. ویاند ویل چې مخالفینو پر خاصې قطعې حمله کړې. دولت ورځېرمه هوټل او روغتون وتړل. لوی شمېر خلک بیا بې کاره شول. میوند مېز ته سوک ورکړ:

– د ګورګټې زامن. اوس چې په عسکري قطعو حمله کوو ام کمپنۍ تړي.

کبیر غږ کړ:

– دوئ ام اغه ځای کېکاږي چې درد کوي.

– منې دا ځل په مرکزي قرارګاه ورځو. چې دا مشر جنرال ته جزا ورکو.

دوه ورځې پس جنرال هم ووژل شو. خو بیا په تلوېزیون کې د کمپنیو د تړل کېدو خبر راغی. میوند سر وځنډه:

– نه، بله لاره باید وسنجوو.

زخمي ملګري یې زګېروي کول. سلطان یې ملا په نوې لتې وتړله. غږ یې کړ:

– خیر دې وي. چې ښګا غوندې ګوزارونه زیات کو، د ښنو نه غورځېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تلوېزون کې يې ويل د ستورو شورا د غنمين د امنيتي وضعيت په هکله اندېښمنه ده. ميوند مخ ملګرو ته کړ:

– منې د ستورو شورا يو کار کولی شي.

ملګري يې پوه نه شول. ده ټلېفون راواخېست. هاخوا اشرف موبايل سرتاجې ته ورکړ. ميوند وويل:

– د ښځو د بازار شاته ميدان دی. ټيک يو ولس بجې الته راشه!

په هوټل کې شاهزادګۍ په کوچ کې په ناستو ويده وه. شټ يې وهل. په منډه تشناب ته ننوتله. د لوند کميس له جيبه يې د ميوند عکس ووېست. پر ټټر يې وچ کړ. د هغه پر مخ يې ګوتې نرمې ووهلې. د بالښت لاندې يې کېښود. په دوربين کې يې وکتل. سرتاجه له دوو نوکرو سره ووتله. دې هم حجاب واغوست. د هغوئ موټر د ښځو د بازار مخ ته ودرېد. دا له رکشا کېوتله. د بازار په ټپلماټېل ورګډه شوه. زياتره ښځې د ساعت تېرۍ لپاره راتللې. د سرتاجې دوه نوکرې د بازار شاتنۍ دروازې ته ودرېدلې. خپله لوی ميدان ته ووتله. ډله ډله هلکانو کرکېټ او فوټبال کاوه. سرتاجه دختو د زړو کورونو په اوږدو روانه وه. شاهزادګۍ هم ميدان ته راغله. سترګې يې وګرځولې. هغه يې وليد له چې رنګ دېوال ته ودرېدله. بلې خوا ته ميوند و. شاهزادګۍ له لېرې راتاوه شوه. ميوند سرتاجې ته کړ:

– تاويلې نور کسان به راولو. کومه دې؟ امغه زړه په زړه ده.

– خدای شته په چا باور سخت دی.

– خلک زمونږ د جنګ په باب څه وايي؟

– خلک مختلف دي. نظريات يې ام مختلف. ستا ملګري ښه دي؟

– څلور زخميان ګوزاره کوي. د يو حالت ښه ندی. مرمۍ يې نس کې بنده ده.

– زه ډاکټر ته وايمه. نن شپه يې بوځئ!

شاهزادګۍ په داسې ځای کې ښکاره شوه چې دواړه يې ليدل. ميوند وويل:

– يوه خبره مې کوله... اوهو... اغه ښځه زمونږ پلو را روانه ده.

شاهزادګۍ تومانچه ووېستله. دوئ وتښتېدل. ډزې شوې. هلکانو لوبې پرېښودلې. سرتاجه په بازار ننوتله. هلته هم ښځو منډې وهلې. شاهزادګۍ په کوڅه کې په ميوند پسې وه. په تنګو لارو کې ترې ورک شو. بېرته راغله. د سرتاجې موټر هم تللی و. پوليس د تش بازار په دروازه ننوتل. شاهزادګۍ رکشا ته وختله. حرکت يې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا غرمه سرتاجې دوو نوکرو ته په دروازه کې د درېدو وویل. خپله په میوند پسې د لېوني پیر زیارت ته ننوتله. د شنې چپنې ملنګ د ګلانو پتې ته د لښتي او به سیخولې. سرتاجې او میوند په خپل سیوري پښې اېښودلې. پر پخې لارې د مقبرې په لور روان وو. یوه کورنۍ له مقبرې راووتله. د دوئ تر څنګ تېره شوه. میوند د وسله والې ښځې په باب وپوښتل. سرتاجې نرۍ پزه په ګوتو کېکاږله. ویې ویل:

– خدای شته ایڅ مې سر کار نه کوي. چې مو ږنه څه غواړي؟ ای وروره! اغه زخمي څنګه شو؟

– خیر ویسې! د مرګه بچ دی.

– څه شوکر. ته دې خبره ولې په ټلېفون کې نه کوې؟

– منې دا اسې خبره نده. ځوک یې وانه وري.

سرتاجه یې شنو سترګو ته ځیر شوه. د هغه تېره زنه ورپېدله:

– ما ویل زموږ د کاره خو څه جوړ نشوه. که سترملا صیب د ستورو شورا ته اریضه وکي.

سرتاجه ودرېدله. غټې اوږدې سترګې یې تېرې شوې:

– ولې په تنګ شوې؟ او پلار مې د څه دپاره اریضه وکي؟

– ددې دپاره چې امروتین زموږ وطن اشغال کړی.

– خدای شته اغه له سیاسي مسایلو ځان لرې ساتي.

– نشي کېدی. له ټولنیز ژوند سره سیاست تړلی دی. بل دا یو ازې سیاسي مسله نده. بشري ام ده.

– سیاسي ده. او د ستورو شورا چې پوځي اشغال وي مداخله کوي. دلته خو کورنی جنګ دی.

– تاته خو مالومه ده. د پردې ترشا دواړه ډلې د امروتین عسکر دي.

– خو امروتینیان ندي. خدای شته زما دې سودا کړه. د ازادي پالو غورځنګ د منځه لاړ نشي.

– غورځنګ کومه دی؟ ټول سر او پېښې دوه کسه دي. غورځنګ.

دباندې شاهزادګۍ راغله. د سرتاجې نوکرو خلک درولي وو. ددې مخې ته یې هم لاس ونیو:

– لږ صبر وکه خورکۍ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهزادګۍ له حجابه تومانچه راوویستله. ښځې په کریکو وتښتېدلې. ولاړ خلک هم له زیارت کولو تېر شول. دننه میوند او سرتاجې غرېونه واورېدل. پښنه یې تېزه کړه. په مقبرې ننوتل. څوتنو قبر ته دعا کوله. مشر ملنګ پر تخت پلتۍ سمه ووهله. تسبېح یې واړولې. سرتاجې یې په کچکول کې پیسې واچولې. میوند داسې ودرېد چې دروازه ووینې. هک حیران شو. بیا هماغه ښځه وه. ده تومانچه وویستله. سرتاجې یې لاس ونیو. وپسېدله:

– زیارت دی.

دعاکوونکي تېز ووتل. ملنګ د څنګ دروازه نرمه ټېل وهله. دوئ د مقبرې شاته پټ شول. شاهزادګۍ مقبرې ته ننوتله. سترګې یې ګرځولې. ملنګ په لوړ غږ وویل:

– لورې دوعا وکه چې خدای دې خپل مراد ته ورسوي!

میوند او سرتاجه د ګوتو په څوکو د حویلۍ دروازې ته روان شول. شاهزادګۍ وپوښتل:

– ملنګ بابا! څه شول، عاشقان څه شول؟

ملنګ په چورت کې وکتل. لکه د هغې غږ چې اشنا وي. د شاهزادګۍ نظر په میوند ولګېد. ورپسې وځغاستله. ډزې یې وکړې. میوند له زیارته ووت. دروازه یې په ځان پسې بنده کړه. له سرتاجې سره موټر ته وخوت. شاهزادګۍ اول په دروازه زور وواهه. وروسته په دېوال واوښتله. خو هغوئ ډېر لېرې وو. د پولیسو موټر زیارت ته روان و. د شاهزادګۍ تر څنګ تېر شو.

د سرتاجې سودا د ازادې پالو غورځنګ ته وه. مازیګر له ورور سره د میوند پټنځي ته لاړه. هغوئ تلوېزون ته ځیر وو. هلته الله یار شاه غونډې ته په کاغذ لیکلې وینا اوروله. هغه په نرې غږ خبرې کشولې:

– ورونو! پر وطن سخت حالت دی. له یوې خوا داړه مار مخالفین هر څه له منځه وړي. له بلې خوا د میوند وحشي ډله بې ګونا خلک وژني. چور کوي. زموږ د خلکو پر ناموس تېری کوي. له عبادت څخه یې منع کوي. زه د ستورو د شورا څخه غواړم چې موږ سره په دغه سخت حالت کې مرسته زیاته کړي.

میوند چوست پاڅېد:

– داح، خدای وهلی داسې مکار دی.

سرتاجې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خدای شته اول باید د اغې ښځې غمه وخورئ! لکه پېری هرچېرته راشنه شي.

تورکي مسلم پاچا میوند ته وویل:

– فکر کوم دولت په تا پوه شوی دی. ښځه یې درپسې اچولې.

سرتاجې نری، پزه په ګوتو کېکاږله. لاس یې وښوراوه:

– نه نه، دا ښځه د بلې خوانه ده. یوازې ګرځي.

میوند شنې سترګې ورواړولې:

– منې اغه خطرناکه نده. که نه، وختي به یې دا ځای پیدا کړی و.

په تلوېزون کې نطاق د لېوني پیر په زیارت کې د ډزو وویل. میوند مخ ملګرو ته کړ:

– ما ویل څه وکو چې ام دولت زموږ د کار نه ګټه وانخلي، ام خلک بې کاره نشي؟

سرتاجې غږ کړ:

– آزادي. بله لاره نشته.

ټولو تایید کړه. سرتاجې میوند ته کتل چې څه وایي. هغه سر وخوځاوه:

– اغه خو ده. خو آزادي، ته رسېدل ام په بېلابېلو لارو کېږي.

ټول ورځیر شول. ده هم خبره وغوځوله:

– منې جنګ د امروتین په ګټه دی. اغوئ پې ام موږ وهي ام د ستورو د شورا نه مالي کومک اخلي.

اشرف غږ کړ:

– بالکل بالکل.

د سرتاجې سترګې په چورت کې تنګې شوې. وچ هډور سلطان میوند ته مخ کړ:

– نو ته څه وایې؟

– زه وایم راځئ خلک وپوهوو. یو لاس یې کو. بیا د سوله یز پاڅون د لارې آزادي واخلو.

سرتاجې ککره وخوځوله:

– خدای شته یو ځل دې وکه. د یاده دې ووتل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه، اغه ځل مو د زور ناري وهلې. وسلې راسره وې. اغوئ په امدې بانه زموږ وسلې د ستورو شورا ته وښودلې.

د کبير شناوی ږيره ورپېدله:

– نه کېږي. آزادي او د خلکو غريبي چاته مانا نلري. مدا چې خپل کار يې جوړ وي. او بل، خلک دونه ډار ېږي چې ولاکه په پړي يې ميدان ته وباسې.

ميوند وګرځېد. ويې ويل:

– منې زموږ جنګ اشغال ته مشروعيت ورکوي. داسې کار بايد وکو چې زموږ کار مشروع شي د دوئ نامشروع.

مسلم پاچا برګ شو:

– سم وو ايه چې تسليم شئ نو.

ميوند سوړ اسويلی وکړ:

– ما کله ويلي؟ زه وايم جنګ مه کوئ! اسې ام په زور کې ورسره برابر نه يو.

رازق سترګې تنګې کړې. په نري آواز يې وويل:

– نو بيا څه شی شو ورور؟ ته يې اخېستی يې. جاسوس يې.

د ميوند رنګ سور واوښت. هغه يې ټپل واهه. چيغه يې کړه:

– ته دي په خبره پوېږې کندو؟ زما ترمخه وشو، زما د مور مېړه شو. راکه وسله!

يو دم سلطان د ټوپک خوله ميوند ته واړوله:

– دا رښتيا جاسوس دی.

ټولو وسلې واخېستلې. سرتاجه د سلطان مخې ته ودرېدله. لاسونه يې وازونيول:

– خدای شته، که تاسې ډزې وکئ پاس مارکېټ خبرېږي. هرڅه به ختم شي.

د دروازې ګړز شو. دا ميوند وتښتېد. رازق چټک په دوربين کې وکتل. خپل ورون ته يې سپېړه ورکړه:

– لاړ، دا ځای افشا شو. اله زر ځانونه باسئ ورور!

سرتاجې لاس او ککره وښورول:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه نه، غور ځنګ وساتئ! دا د آزادۍ یوازینی امید دی. میوند دې نه وي کنه. مورِ خو یو. خدای شته زما زړه وایي اغه به دسې ونکي. خو تاسې بیا هم تیت شئ! مورِ ګورو. که ستونزه وه خبر درکوو.

خوراو وروړ په تیارې کې میوند د مور پر قبر پروت و موند. د خپل کور د مېلمنو برخې ته یې بوت. اشرف ورته یوازینۍ کوټه او تشناب وښودل. په پای کې د سالون پر جیګرې کوچونو کېناستل. څو سرتاجې خبره کوله سترملا لکه طوفان دروازه خلاصه کړه. دوئ یې په احترام پاڅېدل. هغه پر لور برګ شو:

– دا دلته څه کوې؟ ته نه پوهېږې چې حکومت ماته بانه لټوي؟

اشرف وبنګېد «دغه حال دی» د سرتاجې رنګ سپین واوښت. څو یې خبره جوړوله میوند وویل:

– عالي قدر سترملا صیب! تاسې دې خدای زمورِ له سره نه کموي. چې بل ځای پیدا کم خپله وځم.

– نو صاحبه مهربانه تر اغو به ددې ځایه جنګ کوې؟

– نه نه، منې جنګ د آزادۍ د اخېستلو لار نده.

سرتاجې د هغه بې منطقۍ ته سر وځنډه. سترملا وروځې بره کش کړې. د میوند تېره زنه بیا وخوځېدله:

– سوله ییز پاڅون په کار دی. او د اغه دپاره د خلکو پوهاوی او یو والی ضرور دی.

د سترملا ښی سترګه ورپېدله. سر یې وځنډه:

– زه په دې کارو کې نه یم. او دلته بل چاته ام ایجازه نه ورکوم.

میوند په احترام سر وخوځاوه. څه یې ویلی شول؟ دا د هغه کور، او هغه سترملا و. مګر غلی هم نه کېناسته. له شاهزادګۍ ځخه د لېرې توب هره شېبه ورته قیامت و. بل پلو یې د جنګیو ډلو له خوا د خلکو ځورول هم زغملی نه شو. او د دواړو دردونو علاج آزادي وه. چورت یې واهه چې اوس څه وکړي. سترملا روان شو. له دروازې څخه یې غږ کړ:

– څوک باید پوه نشي چې ته دلته یې!

دوئ درېواړو د هوسایۍ سا واخېستله. سرتاجې ګرد مخ میوند ته کړ:

– خدای شته ته په غلطه یې. ټول خلک یو کول ناممکن دي.

– هر څه چې په ذهن کې ممکن وي په عمل کې هم دي.

سرتاجې سوړ اسویلی وکړ. میوند کېناست. ویې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښه که یو کس ستا مخالف ام وي، او ته په حقه یې. قانع کولی یې شې؟ یوازې یو کس.

سرتاجه یې په مقصد پوه نه شوه. ګرد کې اشرف غږ کړ:

- چې حق منلو ته تیار وي.

- هرڅوک حق منلو ته تیار دی. د حق لید لو لارې یې بېلې دي.

سرتاجې وویل:

- بیا نو ولې نه. یو کس دی. لاره یې سړی پیدا کولی شي.

- منې امدا یو یو کس نه میلون جوړېږي کنه. زه وایم ټول قانع کېږي. فکر او زیامت غواړي.

- مقدسپال هم؟

- مقدسپال هم، مخالفین هم. ټول زموږ خلک دي. تنها موږ باید په آزادۍ کې د اغوئ ګټه وروښیو.

سرتاجې سروڅنډه:

- خدای شته، باور مې نشي. تا خپل ملګري قانع نه کړل.

میوند پوهېده چې هغه رښتیا وایي. خو دا یې د نظریې کمزوري نه، بلکې د ځان کمزوري بلله. سبا یې د موبایل له لارې د سلو نایانو غونډه تنظیم کړه. ماښام ټولو په کورونو کې ټلیفونونه غوږ ته نیولي وو. میوند وویل:

- ورونو! امروتین ستوري زموږ وطن اشغال کړی. زموږ طلا او الماس خپل هېواد ته وړي. کمپنۍ او دفترونه تړي. څو خلک وږي شي. د معاش دپاره مقدسپالو او مخالفینو ته لاړ شي. دواړه ډلې دوئ جوړې کړې دي. چې دوامداره یې وجنګوي. څو لا زیات خلک مړه شي، معیوبه شي، احتیاج شي. او دو نه په تنګ شي چې د ژوندي پاتې کېدو دپاره هرڅه ومني. دوئ به د بشري حقونو د تامین په پلمه د ستورو له شورا ایجازه واخلي، څو غنمین له امروتین سره یوځای کې. زه باور لرم چې تاسې خلک له بدبختیو او وطن له اشغاله ژغورلی شئ. ځکه چې ټول خلک تاسې ته راځي. اغوئ د دوښمن په دغه چل وپوهوئ! له سوله یزې لارې یې له امروتین څخه د آزادۍ اخېستلو ته وهڅوئ! که تاسې ټول یو یو کس د آزادې پالو شبکې ته راولئ، نو بل ځل به دوه سوه کسان شي.

مګر د اټکل خلاف په دویمې غونډې کې اته سوه کسان وو. آن سرتاجې د دغه کار په کامیابۍ باور پیدا کړ. له کوره ووتله. شاهزادګۍ په ټکسي کې ورپسې وه. سرتاجې د مدرسې په یو صنف کې ښځې راټولې کړې. د وطن د اشغال

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سوله يزې مبارزې له لارې د آزادۍ په اړه غږېدله. شاهزادګۍ په تور حجاب کې له ښيښې غلې کتل. بېرته وګرځېدله. په هوټل کې بيا هنداري ته ودرېدله. د ميوند او سرتاجې عکسونه يې سترګو ته ونيول. ويې پوښتل:

– ميونده زړګيه! ماشوقه دې ولې قانون ماتوي؟ ولې ملايانې په سياست ګډوي؟

د سرتاجې په عکس کې يې سترګې خنبې کړې. غاښونه يې وچيچل:

– مرداره! ورور ورور يې ويل، اخېر يې رانه واخېستلې. دا بايد مړه شي، خو تاسره يو ځای.

بېرته يې نظر د ميوند عکس ته لاړ. سترګې يې ډکې شوې. ويې ويل:

– ای ګرانه! تا رانه مخ وګرځاوه. خو زه دې نه پرېږدم. لاس نيولی به دې خدای ته بيايم.

دوه اونۍ واوښتلې. د آزادي پالو په شبکه کې خلک لکونو ته ورسېدل. مګر د مقدسپالو له ډاره يې مظاهرې ته د وتلو جرئت نه ليدل کېده. ميوند د موبايل له غونډو تېر شو. له خلکو سره د مخامخ کتو نيت يې وکړ. احتياط يې کاوه چې څوک يې د اوسېدو ځای ونه مومي. ډېره يې اوږده کړه. د ځان ښودو ملايانو په شان به يې سپين ټادر د لونګۍ له پاسه په مخ راوځړاوه. ټيټ سر به ووت. شاهزادګۍ څو ځله په دوربين کې وليد. خو ويې نه پېژاند.

هاخوا د سرک په غاړه بېرېيري افسر شېبه په شېبه ساعت ته کتل. دوه د تورو ښيښو موټر راغلل. افسر ور وخوت. قمراقبال او د هغه دوو خاصو کسانو ته يې لاس ورکړ. موټر روان شول. قمراقبال وويل:

– وروره مننه. ته او جنرال صيب راسره په ځنګله کې سترې شوئ. تاويلې ماته د کمال شاه ځای مالوم دی؟

افسر سر وخنډه:

– عالي قدره! ماته چې مالوم وای غم به څه و؟ دسې ګونګوسې مې اورېدلي. ما ويلې که ستاسې ايجازت وي. زه به کوشش وکمه. خو خرچه راځي. غټه خرچه. ماسره دو نه نشته. غريب خلک يو.

– څونه؟

– سل ميلونه.

– دا خو دونه پيسې ندي. زه به يې نن تيارې کمه. مقصد ته امدا نن د کمال شاه کورنۍ راوله.

د افسر له وازو سترګو برېښېده چې پارېدلی دی. ويې ويل:

– نن خو نه کېږي. ددې هفتې تر اخيره يې پيدا کومه. خو پيسې به نن واخلمه. په کار يږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قمراقبال او ملګرو يې معنادار وکتل. موټر د نظامي قطعې دروازې ته ودرېد. افسر قمراقبال ته کړ:

– عالي قدره! زه نو ځمه.

– ته ودرې! پيسې واخله کنه!

افسر موسکی شو. دوئ بې فرشه او بې کړکۍ کوټې ته ننوتل. قمراقبال ورته مخامخ ودرېد:

– ښه وايه يارو! د کمال شاه کورنۍ چېرته ده؟

افسر سترګې بندې دروازې ته واړولې. ويې ويل:

– څه خبر يمه؟ پيسې چې وي زه يې پيدا کومه. بې غمه اوسه!

قمراقبال خپلو کسانو ته اشاره وکړه. هغوئ لښتې ورواړولې. افسر چيغې وهلې. په پای کې يې غبرکړ:

– وايمه وايمه.

هغه له جنرال سره په ځنګله کې د کمال شاه د کورنۍ د پيدا کولو کيسه وکړه. په پای کې يې وويل:

– کمال شاه د جنرال صيب د زاړه کور په تاکاوۍ کې دی.

هغوئ د افسر لاس او پښې وتړلې. درېواړه ووتل.

سهار طوفاني شمال ونې خوځولې. ميوند ته زنګ راغی. سپينږيري نايي ژړل. ويل يې دده ملګري په چوک کې ځړېدلي دي. يو پکې د هغه زوی دی. دده هم او ښکې لکه چينه وبهېدلې. له کوټې ووت. اشرف ګرد مخ و څنډه:

– کېدای شي تاته يې دام ايښی وي.

خو ميوند ته ځان د هغوئ په نه ژغورلو کې ملامت ښکارېده. فکر يې کاوه که وروستی ديدن يې ونه کړي دا به يې په زړه کې بل داغ شي. اشرف سپين پټکی په سر کړ. شترينګ ته کېناست. په چوک کې يو تن مقدسپال خلکو ته د اعدام شوو په اړه معلومات ورکول. ميوند له تورې ښيښې کتل. شمال د دوو کرېښنو ترمنځ په او سپنيزې ميلې پسې ځوړند اوه ويشت جسدونه زنګول. پينځه ويشت دده ملګري، يو د مقدسپالو چاغ جنرال او بل ببرږيری افسر و. د ځينو ملګرو څېرې يې دومره بدلې وې چې په سختۍ پېژندل کېدې. سرتاجې خوله د ټيکري په پلو پټه کړې وه، چې ژړا يې ونه وځي. بدن يې غورځېده. ميوند هم سلګۍ وهلې. له دغه درد څخه يې زړه د مور په غېږه کې پټېدل غوښتل. خو هغه نه وه. په لاره کې جومات ته کېوت. سر يې په سجده کېښود. ډېر يې وژړل. ماسپښين درېواړه د سرتاجې انګړ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننوتل. د میوند زړه تنګ و. څادر او لونګۍ ورباندې داړې لګولې. ویې غورځول. لاس یې د څټ زخم ته تېر کړ.

شاهزادګۍ په دوربین کې د هغه شالیدله. سر یې د ونې څانګې پټ کړی و. شکې شوه. په غږ یې وویل:

– دا سړی ملا نه ښکاري؟

تر ناوخته یې څار ته دوام ورکړ. مګر سړی ونه وت. میوند پړمخې پر تخت پروت و. د شپې ډوډۍ یې هم ونه خوړه. سرتاجه یې څو ځله پوښتنې ته راغله. اشرف ویل هغه ویښ پروت دی. هغې مزاحمت ونه کړ. شاهزادګۍ سهار وختي له دوربین سره کړکۍ ته ناسته وه. تر غرمې هېڅ پېښښ نه شول. ماسپښین اشرف سرتاجې ته په حویلۍ کې وویل:

– داسې نو نه کېږي. ته مه راځه! زه ورته وایم چې ته سخته ژوبله شوې یې.

هغه د مېلمنو برخې ته لاړ. میوند وارخطا حویلۍ ته ووت. د خور او ورور په خندا یې ماغزه وخوټېدل. لاس یې د څټ زخم ته تېر کړ. اشرف ته برګ شو:

– تا ته زه مسخره ښکارم؟ داسې ټوکې بیا اېڅکله ونکې!

هغه بېرته کوټې ته روان شو. سرتاجې غږ کړ:

– ته په موږ خفه کېږې موږ په تا نه خفه کېږو؟

میوند شاته وکتل. زړه یې ډک شو. په دروازې ننوت. دلته د شاهزادګۍ سترګې غټې غټې راووتلې:

– اووو مرګ مرګ! ای ګرانه! پوستکی دې څنګه ښه بدل کړی دی؟

سمدلاسه یې د ښځینه ملایانو تور حجاب وکړ. ووتله. د ستر ملا د دفتر ساتونکې ښځې ور څخه وپوښتل:

– خورې! چاسره دې کار دی؟

– د سرتاجې بي بي نه سبق وایمه.

هغې تلاشي کړه. شاهزادګۍ تومانچه د کتاب شاته جګه نیولې وه. د سرتاجې انګړ ته ننوتله. تر حجاب لاندې کرېچې شو. مرمۍ یې تېره کړه. نه یې منډه کړې وه، نه یې اورېده لاره وهلې وه. مګر سا یې سوزېدله. د سالون له جیګرې کوچونو تېره شوه. له کوټې څخه د ښځینه خنداګانو غږ راته. حجاب یې وغورځاوه. طلایي وېښتان یې په اوږو خواره شول. په ټول زور یې دروازه ټېل وهله. میوند پر تخت پروت و. سرتاجې په مېز باندې کاغذونه لوستل او اشرف کمپیوټر ته رسول. د شاهزادګۍ په لاس کې تومانچې ټول حیران کړل. دې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– تاسې زما د مرګه اورېدلي وو؟ آ؟

سرتاجې په طلايي وېښتانو کې وپېژندله. غږ یې کړ:

– عالي قدرې...

شاهزادګۍ چيغه کړه:

– چوپ! چوپ مردارې! ام يارانې کوې ام مکارې؟

ټولو شېټ وهل. بيا ښځينه خندا جګه شوه. شاهزادګۍ مخ تاو کړ چې بله ښځه څوک ده؟ مګر دا یې خپل غږ و. ميوند هاغه ويډيو کتله چې دواړو د واورې جنګ کاوه. شاهزادګۍ په کوټې کې سترګې وګرځولې. په هر دېوال باندې سکرين و. پکې ددې د مختلفو ختونو ويډيو ګانې چالانې وې. دا ځل خپله هکه حيرانه شوه. سرتاجې غږ کړ:

– لېونۍ! خدای شته ميوند يوه شېبه بې تا تېره کړې نده.

د شاهزادګۍ لاسونه يو دم ځوړند شول. له سترګو يې اوښکې وڅڅېدلې. په چوکۍ کېناستله. سر یې په مېز کېښود. سلګۍ يې ووهلې. سرتاجې اشرف ته اشاره وکړه چې وځو. له دروازې څخه یې ميوند ته مخ کړ:

– يوڅو نومه د لېست نه پاتې شول.

هغه، لکه دم شوی، په غټو غټو یې کتل. خو سر يې کار نه کاوه. يو دم تېز ووت. په سالون کې له سرتاجې او اشرف څخه تېر شو. په حويلۍ کې يې لويې دروازې ته وکتل. بېرته تېز راغی. په شاهزادګۍ برګ شو:

– ته ولې ناريالين کې نه يې؟ خبره يې دا څونه خطرناکه ده؟

شاهزادګۍ سر پورته کړ. اوښکې يې روانې وې. ويې ويل:

– اسې مې نشو کولی.

ميوند په ښويه وېښتانو لاس تېر کړ. د څټ زخم يې وسولاوه. ټول رېږدېده. د مېز بلې خوا ته مخامخ کېناست. سر يې وځنډه:

– منې ښه دې ونکړه. صبر به دې کړی و، چې حالات ښه شوي وه. اوس... اوس که په تا څه وشي...

سينه يې کېکاږل شوه. آن د بد حالت له ويلو وېرېده. شاهزادګۍ سلګۍ ووهلې:

– نور بس که! زه ستا په تشويش نه ارزمه. تا زما د آرامۍ فکر کاوه، او ما ستا د مرګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند ورځیر شو. هغې په ګرځېدو پیل وکړ. ګردې شونډې یې وخوځېدلې:

– زما د اوله‌په‌تا او سرتاجې شک و. خو اغه ورځ چې تا ته نزدې نزدې شوه، په غور دې کې دې وبنګېدله، شک مې په یقین بدل شو. بیا چې دې راته وویلې ناریالین ته‌لاړه شه، سمه لمبه شومه.

میوند ورته خفه شو، چې څومره ځورېدلې ده. نژدې ورغی. موسکی شو:

– کېنه‌لېونی! منې ته چې په یو میلیون سرېو کې یې. زه په تا باور لرم.

هغې په سلګیو کې یو دم غاړې ورواچوله. وپسېدله:

– زه نو تا ته رسېدلی شمه؟

د هغې نازک بدن په میوند لکه په زخم مرهم ولګېد. په غاړه یې د هغې د پوست مخ او د تنفس د شمال احساس سم د جنت وېم و. زړه یې تخنېده چې کاش نوره هم نژدې شي. لاپسې نژدې شي. څو داړه یو وجود شي. خو خپل لاسونه یې ورڅخه نه تاوول. ډارېده چې پام یې نه شي. ځان به لېرې کړي. هغه له سلګیو سره ټوله بنورېدله. وروسته آرامه شوه.

میوند یې خوشې کړ. غابنونه یې وچیچل:

– دغه مردار زړه ته مې هرڅونه ویلې چې داسې نده. نه یې منله. اورپې لګېدلی و.

هغه د میوند وازې خولې ته متوجه شوه. له شرمه تکه سره‌واوښتله. وپسېدله:

– وبښه!

د میوند خوله هماغسې خلاصه‌وه. هغه بیا وپسېدله:

– زما دین په دونیا مېړه یې. یو نیکاح ده. وبه شي.

د میوند ستونی ډک شو. سر یې وښوراوه. ویې ویل:

– پروا نه کوي. موږ ام خدای لرو.

د مېز دواړو خواوو ته مخامخ کېناستل. میوند یې طلایي وېښتانو ته ځیر شو:

– ته خو سمه پېژندل کېږې. ښه دی چې په میدان کې یې نیولې نه یې.

– نه کنه. زه بېخي ناریالین ته تلې نه یمه. اغه شپه په تیاره کې ټول د چوکۍ د پټۍ په تړلو لګیا وو. زه غلې د الوتکې نه کېوتلمه. ددغه مخامخ هوټل نه مې د سرتاجې څارشرو که. د ښځینه بازار شاته او زیارت کې زه ومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند کټ کټ وخندل. هغې حیرانې وکتلې. ده وویل:

– منې ته خو سمه بدماشه یې. داسې په دېوالونو اوښتلې.

شاهزادګۍ هم موسکۍ شوه. سر یې وښوراوه:

– زه په ځان نه پوهېدلمه.

هغه کمپیوټر ته کېناستله. چې لېست ته د پاتې نومونو په رسولو کې مرسته وکړي. مګر د میوند ټول فکر او پام په هغې کې و. ګرد ورڅخه تاوېده. ځکه یې نه احساسوله. لکه په هوا کې چې ګرځي. د هغې د خوشحاله ساتلو لارې چارې یې لټولې. په تشناب کې یې ډېره وخرېیله. ماسخوتن دواړه په بام ناست وو. د څراغتته رڼا د شاهزادګۍ په مخ لګېدله. میوند یې په سیل نه مړېده. هغې یې په اوږه لاس کېښود. د میوند په بدن خوږه څپه تېره شوه. هغې د بل لاس ګوته جګه ونیوله:

– هر اینسان په آسمان کې ستوری لري.

میوند غبرګه کړه:

– د عاشقانو ستوري څنګ په څنګ وي.

– هو. کله چې اینسان خوشاله وي ستوری یې ډېر ځلېږي.

میوند لاس اوږد کړ:

– منې او غه به زما وي.

– نه نه، زما دی.

– ولې؟

– ځکه چې ټولو نه ډېر ځلېږي. اغه څنګ ته ستا دی. ته زما په راتګ خفه شوې.

– ته څه خبره یې؟ زما ستوری به د ډېرو ځلېدو نه سوزېدلی وي.

دواړو کټ کټ وخندل. میوند د هغې څېرې ته دوامداره کتل. خوند یې ترې اخېست. شاهزادګۍ وروځې واچولې چې څه خبره ده. میوند سر وښوراوه. وروسته یې سترګې ښکته کړې:

– راځه چې واده وکو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– امدا اوس؟

– منې امدا اوس.

شاهزادګۍ له خندا شنه واوښتله. ویې ویل:

– لېونیه!

میوند له موسکا سره سوړ اسویلی وکړ:

– زموږ نصیب خراب دی. آبل ځل ام بېخي نزدې شوي وو. ونه شو.

شاهزادګۍ ورباندې برګه شوه:

– ستا دلاسه.

زړه یې ډک شو:

– اغه زما کوټه. واده املته کوم.

– زه څه خبر وم چې ته پاتې کېږې. که نه، تیار دې مور او پلار ام وو.

شاهزادګۍ ژوره سا واخېستله. سترګې یې آسمان ته جګې کړې:

– اغوئ ته مې ام سودا ده. ناریالین ته د رسېدو خبر یې نشته.

د میوند ایله اوس پام شو. ټول ور وګرځېد:

– شېوه ګل ام ویل بېرته راځم. رانغی.

دا وخت سرتاجې له لاندې څخه غږ کړ:

– خدای شته بس مو دی نو. ما عالي قدرې ته په خپله کوټه کې ځای جوړ کړی.

د دوئ سینې له هوا ډکې او تشې شوې. شاهزادګۍ لاړه. خو د بدن خوږ بوی یې د میوند په دماغو کې و.

قمر اقبال په ډنډ کې لامبو کوله. لمر یې د کوپړۍ د ګرداړې پوستکی ځلاوه. اوږد مخی کس راغی. د کاغذ پاڼه یې ورکړه. هغه لانده وېښتان شاته واړول. د کاغذ تر لوستلو وروسته تېز ووت. جاوېد اقبال له الله یار شاه سره په باغ کې له میوو ډک میز ته ناست و. وزیرانو د خپلو کارونو راپور ورکاوه. قمر اقبال خپل ورور لېرې بوت. ویې ویل:

– پوېږې لالا؟ شازادګۍ ام پیدا شوه. د ستر خبیث په دفتر کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروريې حيران شو :

– کېدای شي وضاحت راکړئ چې د دغه عالي لقب مستحق څوک ګڼئ؟

– سترملا یادومه. زه يې په زوره تې راباسمه. دا به ثبوت ام شي چې ملا د دولت دښمنان ساتي.

وروريې ومنله. قمر اقبال د ښار نوی قوماندان راوغوښت. ډنګر لکه یونیفورم چې په لرګي واغوندې. ده امر وکړ:

– ته دې یو موټر تکړه عسکر راوله! د عدالت واړ ته ځو .

قوماندان عسکري تعظيم وکړ، لاړ. په څو شېبو کې له پوليسو ډک موټر له شاهي حصار څخه روان شو . نيم ساعت بعد د عدالت واړ ته ننوتل. قمر اقبال له ځان سره په خندا شو . د قوماندان په خواره اوږه یې لاس کېښود :

– ویم چې شازادګۍ ورنه راوباسو ، د ستر ملا خوله به سخته جينګه شي.

موټروان بريک ته پښه واچوله. ټولو جيټکه وخوړه. عسکر له مخې کېوتل. ټوپکان يې په ځمکه کېښودل. قمر اقبال حيران شو . قوماندان په خواره ږيره لاس تېر کړ. ویې ویل:

– عالي قدره! دوئ د سترملا په دفتر نه ورځي.

– ولې؟

قمر اقبال هغوئ ته مخ وګرځاوه. یو تن په ټيټو سترګو ځواب ورکړ:

– سترملا دې خدای زموږ د سره نه کموي. اغه ته بد کتل خدای ته بد کتل دي.

د قمر اقبال مخ له قهره وپړسېد :

– اغه تا غوندې سړی دی، احمقه!

– نه صيب. اغه د خدای نازولی دی. که چا ته ښېرا وکي ايره کېږي.

قمر اقبال له حيرانتيا ډک مخ قوماندان ته واړاوه:

– ته ام امداسې فکر کوې؟

قوماندان غټې غټې کتلې. خو ځواب يې نه ورکاوه. قمر اقبال ځمکه په لغته ووهله:

– وه ستاسې بېخ شين شه! تاسې پښتانه د خدای نه زيات په ملا ايمان لرئ. ورک شئ! يو ازې ځم.

سترملا د اوږد مېز په سر کې ناست و . څېره يې د تل په شان جدي وه. د مېز په پای کې بوډا ته يې کتل. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خپلو زومانو ته ووایه! د کافرانو پیښنې مه کوئ! زموږ په کتاب کې لور د پلار په مال کې حق نه لري.

بوډا منته وکړه. کچل کچل له دروازې ووت. سترملا د بل کس د بللو لپاره د زنګ تڼۍ کېکاږله. ډنګر سړی راغی. سر یې ټیټ نیولی و. دده لاس یې ښکل کړ. خپلې سترګې یې وړباندې ولګولې. د مېز په پای کې کېناست. ویې ویل:

– عالي قدره! زما په ځمکه چا دعوه کړې. جرګې فیصله وکړه چې نیمه شي. قاضي وایي جرګه چې څه کوي ښه کوي. ستا مشوره غواړم چې خدای مکه د ګونا کار رانه ونشي.

سترملا وپوښتل:

– تا جرګې ته واک ورکړی و؟

– هو. ما ویلې اغه کس خو ناحقه دعوه کړې. جرګه به جزا ورکي. زه نو څه خبر...

– بیانو مه پسې ګرځه! د جرګې فیصله سمه ده. د دونیا دپاره دې اخرت مه خرابوه!

سړي په ټټر لاس ونیو، ووت. دروازه له ګړز سره پرانېستل شوه. قمراقبال دده مخ ته ودرېد. پرته له سلامه یې وویل:

– ای غوږ کېده! زه خبر یمه شازادګۍ دلته ده. تاته پته ام نشته چې څونه په مرداری کې خښ یې.

د ستر ملا ښی سترګه ورپېدله. ژوره سا یې واخېستله:

– که تاسې د خبرو طریقه بدله کئ ښه به وي.

قمراقبال کټ کټ وخندل:

– خبره مه اړوه! تا د خپلو مذهبي اصولو نه سرغړونه کړې.

– اشتباه کوئ! په اصولو کې باید مېلمه ته احترام وشي. تاسې د مملکت مېلمه یئ. اغه مې د کور مېلمنه ده.

– زه دې باداریم یارو. او اغه ام مېلمنه نده. سیاسي مخالفه ده.

د سترملا سترګه بیا ورپېدله:

– ماته ټول انسانان د خدای بنده ګان دي. زما کره اېڅوک سیاسي فعالیت نشي کولی.

– څه خیر! ددې ایساب بېل کوو. شازادګۍ ته ووایه! په خپله خوښه ماڼۍ ته راشه! ماسره واده وکه!

د سترملا تندی ګونجې شو. قمراقبال د جګې پزې څوکه وګروله. د کمپیوټر چیپ یې په لاس ورکړ:

– که داسې ونکې، څلرویشت ساعته پس یې ټوله کورنۍ وژنمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتاجې او اشرف پر مېز نقشه خلاصه کړه. میوند له پخلنځي څخه په قاب کې د غنمو نینې راوړې. دوئ ته یې ست هم ونه کړ. د شاهزادګۍ څنګ ته پر تخت کېناست. هغې له ډېرې خوشحالۍ سترګې غټې کړې. سمدلاسه یې په خوړلو پیل وکړ. میوند ورته په هوس کتل. اشرف هم موسکی و. خو د سرتاجې تندی تریو شو:

– وروره! لرې مه کېنه! راشه ووایه چې بله غونډه چېرته ونیسو؟

میوند لاس په هوا کې وڅنډه:

– ته دا پرېده! زموږ د واده غمه وخوره!

– راشه نو. خدای شته بیا دې یوې خوا ته مخه شوه.

میوند کټ کټ وخندل. اشرف مخ ورواړاوه:

– بختور یې. خلکو ته عادي جونې څوک نه ورکوي. تا ته د پاچا ماما لور مفته په لاس درغلې.

شاهزادګۍ له موسکا سره سترګې ښکته واچولې. سرتاجه په ورور برګه شوه:

– غلی کېنه! زه څه وایم ته څه وایې؟ سړیانو بېخي مرداره کړه. ټول فیکر یې امدا یوې خبرې کې دی.

دواړو هلکانو هررر وهل. میوند وویل:

– منې تاسې شاهدان شئ کنه! او نیکاح به سترملا صیب وتړي. ثواب یې لا ډېر دی.

– ودې خوړله! خدای شته چې اعلی حضرت نه وي اغه دا کار نه کوي.

اشرف غبرګ کړ:

– دغه حال دی.

شاهزادګۍ په ټیټ سر وبنګېدله:

– زه به ورته ووایمه. زما منې.

دا ځل درېواړو په زوره وخندل. شاهزادګۍ له شرمه تکه سره واوښتله. دا وخت سترملا ننوت. ټول ودرېدل. یو بل ته یې وکتل چې دا دی راغی. میوند شاهزادګۍ ته په سترګو کې اشاره وکړه چې ورته ووایه. سترملا یوه شېبه کوټه له نظره تېره کړه. وروسته یې وویل:

– کمال شاه او ملکې د قمر اقبال رذیل لاس کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاهزادګۍ مخ له ډېرې وارخطايۍ اوږد شو. ميوند سترګې له هغې څخه ستر ملا ته واړولې. ويې پوښتل:

– تاسې چا خبر کړئ؟

– دا چيپ کې شته.

د شاهزادګۍ ګوتې لړزېدلې. چيپ يې کمپيوټر ته واچاوه. په ويډيو کې ټول د کوټې په کونج کې ناست وو. د کمال شاه بار خوګان شنه او پړسېدلي ښکارېدل. د سترګو شاوخوا يې تورې کړۍ تاوې وې. سترملا وويل:

– اغه ملحد غواړي چې شازادګۍ په څلرويشتو ساعتو کې شاهي حصار ته حاضره شي. که نه ټول وژني.

شاهزادګۍ سمدلاسه بوټونه پښو کړل. ګردې شونډې يې ورېږدېدلې:

– زه ځمه.

د ميوند زړه سست او ټټر کېکاږل شو. لکه وجود ته راغلې سا چې يې بېرته وځي. د سترملا غږ بيا د ټولو پام واړاوه:

– ګوره جينۍ! ونه وايې چې ستاسې نايي دلته دی!

مخ يې ميوند ته کړ:

– او ته صاحبه مهربانه! امدا اوس دا ځای ترک که!

ميوند د هغه خبرې بېخي وا نه ورېدلې. يو قرار يې شاهزادګۍ ته کتل. سترملا خپل څلور منزله کور ته روان وو. لور او زوي يې ځان ورساوه. سرتاجې وويل:

– پلاره! خدای شته ميوند لوی مشر دی. ديرش سلنه خلک ورپسې دي. چې پاڅېږي پاچايي چپه کوي.

اشرف د سر په خوځولو تاييدوله. سترملا برګ شو:

– لاحولو! دا تاسې وايئ؟ تا چېرې ليدلي چې د سترملا اولادونه ډم ته مشر وو ايي؟

اشرف وبنګېد «دغه حال دی» پلاريې غاښونه وچيچل:

– دا ډم مې دلته ځکه پرېښی چې زموږ دپاره کار وکي. نه چې مشر شي. چې دېرش سلنه خلک ورسره دي نو زر دې پاچايي چپه کي! که نه، زما د کوره دې ووځي!

دننه شاهزادګۍ خپلې جامې په بکس کې اچولې. د ميوند سپېرې شونډې ورپېدلې:

– منې ته لږ فکر وکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې پزه جگه ونیوله:

– دې کې د فکر کولو ځای چېرته دی؟ زما قسمت به د قمر اقبال سره وي.

د میوند شنې سترګې بوتې را ووتلې:

– ته څه وایې؟

– پلار مې رښتیا ویل. تاسره ما څه لاس ته راوړل؟ آ؟ بدبختي، غم او درد. که د اوله مې د قمراقبال سره واده کړی و،

ام به مو پاچایي وه، ام به دو نه خلک نه تبا کېدل.

د میوند سر وګرځېد. پښې یې سستې شوې. له درب سره په ځمکه کېناست. له خولې یې ووتل:

– او زموږ مینه؟

– کومه مینه؟ دا ټول خلک مینه کوي؟

سرتاجې او اشرف له دروازې څخه غټې غټې کتلې. شاهزادګۍ بکس واخېست ووتله. لکه د میوند روح چې هم

ورسره وتی وي. شا یې چوکۍ ته ولګوله. هغه ونښوېېدله. دی په ځمکه پرېوت. اشرف او سرتاجې له دواړو متو ونیو.

تخت ته یې ورساوه. پښې او لاسونه یې وروسولول.

قمر اقبال د اولې ماڼۍ په دروازې کې هرکلي ته ولاړ و. شاهزادګۍ ورسېدله. دی له خندا شین شو. په زینه کېوت. د

موټر دروازه یې خلاصه کړه. سر یې په احترام ټیټ کړ:

– په خیر راغلې عالي قدرې شازادګۍ!

هغې د سترګو په اشاره سترې مشي وکړه. شاوخوا یې نظر واچاوه. د قمراقبال موسکۍ شونډې وریږدلې:

– دونه تغیر ندی راغلی. او ستا د لاس نښې خو مې امغسې ساتلي یارو.

هغه هم ورته موسکۍ شوه:

– زه یارو یمه؟

قمر اقبال کټ کټ وخندل:

– هو رښتیا. مېرمن خو تر یارو نږدې وي. راځه چې خسر جي ته ځو!

قمراقبال لاس اوږد کړ چې شاهزادګۍ له منګولې ونیسي. هغې ځان لیرې کړ. پزه یې جګه ونیوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د نیکاح نه مخکې ګونا لري.

قمراقبال بیا وخندل. په خپلو متو یې ورغوي وسولول. هغه یې لویې کوټې ته بوتلله. خپله دباندې پاتې شو. دننه کمال شاه او ملکې له کوچونو پاڅېدلې. شاهزادګۍ له هر یو سره غاړې واچوله. پلار یې وپسېد:

– اصل کې ته خوشې راغلې لورې! اغه چې خزانه واخلې مووړ تول وژني.

د ملکو سترګې ډکې وې. شاهزادګۍ د پلار په شین مخ لاس تېر کړ:

– اندېښنه مکوه پلاره! نه مو وژني.

– ته یې نه پېژنې لورکۍ.

– زه یې ښه پېژنم.

کمال شاه ورځیر شو. هغې پزه جګه ونیوله. قمراقبال له دروازې غږ کړ:

– عالي قدرې! ژورنالیستان راغلي.

– زه ورسره نه غږېږمه.

– مه غږېږه! د لرې نه څو تصویره اخلي.

ماښام میوند په تلوېزیون کې دواړه ولیدل. د شاهي حصار په باغ کې له خندا شنه ګرځېدل. پر سکرین عاجل خبرو «د روانې میاشتې پر شلمه د شاهزاده او شاهزادګۍ واده» د میوند وینه وایشېدله. سترګې یې آسمان ته جګې کړې:

– خدایه نو. څه ووایم؟

وروسته یې تلوېزون ته غاښونه وچیچل:

– زه به مرم، تاسې به واده کوئ؟ په خوشالۍ خو یې منې که رانه وکئ!

■■■■■

کارګرو د څلورواړه ماښیو تر جګو څوکو د څراغونو پړې کشول. په حویلۍ کې یې له اسپنیزو لکړو د ودانیو شکلونه جوړ کړي وو. اوس یې په څراغونو پټول. دننه په لوی سالون کې یې د شاه او ناوې پر ستېج کار کاوه. پر دېوالونو یې ګلان لګول. لکه لوی جشن ته چې تیاری روان وي. ځوان کارګر له پوخ سړي څخه وپوښتل:

– اورې ماما! شازادګۍ به خوشاله وي که خفه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دې ته ګوره! خولۍ دې اسمان ته واچوي. بېرته شازادګۍ شوه. اغه ام د امروتین.

قمراقبال د مشرورور دفتر ته راغی. خوله یې له خندا څخه نه راټولېدله. کمال شاه او وزیران د اوږد مېز له چوکیو پاڅېدل. ده ته یې په واده کې د مرستې ټټر وواهه. قمراقبال وویل:

– سمه ده. په تاسو یو جانانه اتڼ کوم یارو.

هغوئ یو بل ته وکتل. په خندا ووتل. ده د مېلمنو لېست د ورور مخ ته کېښود. هغه وویل:

– په دې کې د ناریالین د مالیې د وزیر او د ملي بانک د ریس د نومونو مشاهده د پوښتنې وړ ده.

قمراقبال په زوره زوره وخندل. پېږې شونډې یې ورپېدلې:

– پرېده! چې د خزانې په راکولو کې ځنډ ونکي.

جاوید اقبال سر وښنډه:

– د غنمین سره د اغوئ د دوستۍ له مخې اټکل کېږي چې تر خپلې وسې به د خنډونو د موندلو هڅه وکي.

– نه کنه، آزاد یې نه پرېدو. چېرته چې موږ وایو الته به ځي.

– فکر کوم چې اغوئ به اصولن او اخلاقن مکلف نه وي چې زموږ د سپارښتنو پلې کولو ته غاړه کېدي.

– داسې غاړه کېدي لکه حلال سوخندر. د مخالفینو په نوم دوه خطایي ډزې وکه! بیا ګوره!

له موسکا سره د جاوېد اقبال غومبري وپړسېدل. خو د ممپلي په شان وړه پزه یې په خپل حال وه. ویې ویل:

– ستا پلان سنجونه د ستایلو ارزښت لري.

– ای لالا! ته اوس ام زما په لیاقت شک لرې؟ هههههه.

بله خوا میوند تر پخوا ډېر جدي و. خبرې یې کمې کولې. شپه او ورځ په کارونو پسې ورک و. ستړیا یې نه پېژندله. یو ماښام سرتاجې د تېرې غونډې په اړه پوښتنه وکړه. ده ځمکې ته کتل ځواب یې ورکړ:

– خلک میدان کې نه ځایېدل. بامو ته ختلي وو. په منځ کې پولیس راغلل. ښه و، پالوانانو دستي غېږه ونیوله.

سرتاجې سر وښوراوه:

– د لوبو په پلمه جلسې کول ښه چل دی. خدای شته زړه مې وايي دا حکومت دوه میاشتې نه پاتې کېږي.

میوند سترګې جګې کړې. برګ شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه شی؟ د شلم تاریخ نه چې واورې بیا یې څه کوم؟

– شلم ولې؟

– زه دا منډې ناحقه وهم؟ په شلم د شازادګۍ او قمر اقبال واده دی.

سرتاجې مخ بلې خواته واړاوه:

– زه وایمه تېر هېر که!

میوند غابښونه وچیچل. زړه یې له درده وپړسېد. تېره زنه یې وخوځېدله:

– څنګه یې هېر کم؟ زما په زړه یې چړې خښې دي.

– خدای شته ته اوس لوی مشر یې. په دې وړو خبرو پسې مه ګرځه!

– دا وړه خبره ده؟ منې تر دې لویه خبره نشته.

– خدای شته، که په تا څه وشي د آزادې پالو غورځنګ به ام ختم شي.

– چې په ماشوه دونیا تېره خدای دې نکې دونیا ډېره. غورځنګ ماته څه کړي؟

د میوند شنې سترګې ډکې وې. سرتاجې حیرانې وکتلې:

– ګوره! ته دستې بدل شوې. خپلې خبرې دې د یاده ووتلې؟ غورځنګ شخص ته نه، ملت ته کار کوي.

– چې ماته کار نه کوی بیا دې مانه ام څه نه غواړي.

– وه دا څه...؟ وروره ځان مه بایله! زه در سره یمه. خدای شته په ژوند کې هر څه پېښېدی شي.

– هر څه پېښېدی شي. خو دا واده باید پېښ نشي.

سرتاجې یوه شېبه کتل. روانه شوه. میوند په حویلۍ کې کېناست. هماغو ستورو ته یې کتل چې شاهزادګۍ ښودلي وو. زړه یې وپړسېد. اوښکې یې وڅڅېدلې. کوټې ته لاړ. سرتاجه له یو ګیلاس تورو اوبو سره راغله. دېوالونو ته یې پام شو. سکرینونه لېرې شوي وو. میوند ته پرمخې پروت ځان بد ښکاره شو. پاڅېد. هغې ګیلاس وړاندې کړ:

– دا د ممانې اوبه دي. لږه دوا مې ورسره ګډه کړې ده.

میوند ګیلاس ته وهم نه کتل. تېره زنه یې وخوځېدله:

– دوا په جسم تاثیر لري. د روح له درد سره ایڅ نشي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما اوس راوړې ده. تاوان نلري.

میوند ګیلاس واخیست. په مېز یې کېښود.

قمراقبال له شاهزادګۍ سره د شاهي حصار باغ ته ووت. بیا یې د پخوا په شان ټوکې کولې. خوله یې له خندا ډکه وه. مګر خاصو کسانو یې د شاهزادګۍ کوټه تلاشي کړه. په پای کې یې هرڅه بېرته په خپل ځای کېښودل. د زهرو وړوکی بوتل او د میوند عکس یې د قمراقبال دفتر ته راوړل. هغه د عکس شا وکتله. لیکل شوي وو «یا الله! زما د ګران زړه رانه دومره تور کړه چې په مرګ مې خوښ شي. چې پرته له ماخوشحاله ژوند وکړي. خو په هغې دنیا کې یې بېرته ماته راکړه» قمراقبال موسکی شو. وبنګېد «ته یو وار ما سره واده وکه یارو! بیا دستي مړه شه!»

د تورو موټرو کاروان په ښار کې روان و. د خلکو سترګې ور اوښتلې. په منځني موټر کې شاهزادګۍ له کمال شاه او ملکو سره ناسته وه. پلار یې سر وړاندې کړ. وپسېد:

– الته د باغچې شاته دروازه ده. د سترملا کس به خلاصه کړې وي. مور به بوځي.

ملکو سرونه وښورول. شاهزادګۍ وویل:

– نه پلاره. دوئ مو یوازې نه پرېدي. دسې به وکو. زه به درزي کاکا سره یم. قمراقبال به د جامو په خوښولو بوخت کم. تاسې به په چکر باغ ته ووځئ. امغسې به لاړ شئ.

بارکزۍ ملکې سترګې ورواړولې:

– ته به څنګه شې؟

– زما غم مکوه!

– قوربان دې شمه! ستا غم څنګه ونکمه؟ ته خو مې د زړه ستنه یې.

– تانه وګرځمه مورې. زه اوس وړه نه یمه. په خپل کار ښه پوهېږمه.

د موټرو کاروان ودرېد. یوازې د کمال شاه کورنۍ کېوتله. د سپینږیري درزي سترګې نمجنې شوې. د کمال شاه لاسونه یې ښکل کړل. دوئ یې تور او سپین ځلور منزله کور ته وبلل. شاهزادګۍ له دروازې څخه شاته وکتل. هېڅا نه بدرګه کول. کمال شاه لور ته په سترګو کې وویل چې دا ښه کار دی. درزي نیمه توره نیمه سپینه دروازه پورې کړه.

کمال شاه د ښویه حویلۍ په بل سر کې ورې دروازې ته لاس ونیو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– الکه! اول به ستا په باغچه کې لږ وګرځو.

درزي ژر ژر سر وښوراوه. ورسره روان شو. پاچا ودراوه:

– اصل کې زه دوئ ته ستا باغچه ښیمه.

درزي په سینه لاس کېښود. سر یې ټيټ کړ. دوئ باغ ته ووتل. څټک بلې خوا ته تېر شول. هتله دروازې ته ودرېدل. زور یې وواهه. خو هغه له بهره کلکه وه. غلې غلې یې وډبوله. چا خلاصه نه کړه. کمال شاه وپسېد :

– د سترملا کس ورک دی. زه به په دېوال واوړم. خلاصه به یې کم.

شینخالي احمدزۍ ملکه وبنګېدله «کرین ورته د کومه کو چې دا خرواري جګ کي؟» پاچا مخ ور وګرځاوه:

– ستا په ملا به وخېږمه.

هغه شاته لاړه:

– نه نه، دې مرګ نه امغه د قمراقبال زندان ښه دی.

دوو ملکو پخ وهل. شاهزادګۍ وپسېدله:

– پلاره! زه به ستا په اوږه جګه شمه.

– څه شي؟ ته ډېره درنده نه یې؟

احمدزۍ ملکه بیا وبنګېدله «ده ته ښځه درنده ده، موږ ته غرسپک» کمال شاه زړه نازړه دېوال ته ودرېد. شاهزادګۍ د ملکو په مرسته د هغه اوږو ته جګه شوه. کمال شاه تک سور واوښت. شاهزادګۍ بېرته کېوتله. وپسېدله:

–آخوا د شاهي حصار عسکر دي.

د کمال شاه رنګ بدل شو. د باغچې له بلې دروازې څخه د قمراقبال غږ راغی:

– عالي قدرې! راځئ! د جامو فرمایش ورکئ چې ځو!

دوئ یې ترڅنګ تېر شول. قمراقبال له څېرې څخه بې اندازه خوشحاله برېښېده. هو نو، شاهزادګۍ یې په لاس کې وه. هېچا یې د واده مخه نیولی نه شوه. په تلوسه یې د خزانې ترلاسه کولو ته شېبې شمېرلې.

هاخوا میوند خلک په نولسم تاریخ پاڅون ته هڅول. هرچا سر خوځاوه، خو ژمنه یې نه کوله. ورځې تېرېدلې. نېټه نژدې کېدله. خو خلک د سرخوځولو له حالته مخکې نه تلل. هغوئ به غلي غونډو ته راغلل، غلي به بېرته ووتل. تا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل دا هرڅه اتومات کوي. نه یې په معنا پوهېږي، نه په ارزښت. د میوند ورته زړه تنګ و. یوه ورځ یې په غونډه کې هم په قهر خبرې کولې:

– ای ای! اورئ که نه؟ یا به ټول د ولږې مرئ، یا په جنګ کې. پاڅېږئ! ژوندي شئ!

ټولو شخ شخ کتل. لکه هغه چې تیږو ته ګډ وي. اشرف پاڅېد چې خلک په نرمۍ وهڅوي. خو چا سترګه ونه رپوله. په سبا یې هم داسې ننښې نه وې چې څوک دې پاڅون ته تیار وي. لوی تور موټر په بازار کې روان و. میوند له ښېښې کتل. خلک ورته لکه پسونه ښکارېدل. کرکه یې ورڅخه کېدله. د مارکېټ مخ ته یو مقدسپال پروت د کاندار ته لغتې نیولې وې. چا جرئت نه کاوه چې وړاندې ورشي. مقدسپال سیل کوونکو ته ګوته وځنډوله:

– ښه یې واورئ! څوک چې حکومت ته بد وایي لکه دین ته چې بد وایي. وهل یې ثواب لري.

هغه لاړ. خلک غلي ولاړ وو. لاس یې نه کاوه، چې هغه بېرته ونه ګرځي. میوند غاښونه وچیچل. تېز ووت. پروت سړی یې له ځمکې جګ کړ. په خلکو یې چیغه کړه:

– ای ای دروغجنو! کومه دی؟ ستاسې غیرت څه شو؟ چېرې ده اغه چیغه چې جهان پې لړزېږي؟

خلک شاته شاته تلل. اشرف ولیدل چې عسکران را روان دي. میوند یې له لاسه کش کړ. هغه زورونه وهل:

– ای ماغزه لرئ که نه؟ تاسې چې ودرېږئ د ایچا زور درباندې نه رسي...

خلک ترې روان شول. پولیس تېز نژدې کېدل. دوئ موټر ته وختل. میوند په ژړا شو. موټر حرکت وکړ. د شپې یې د بېلابېلو ښارونو د آزادي پالو له زرو مشرانو سره د موبایل غونډه لرله. هغوئ هم نهیلي وو. ویل یې داسې ښکاري لکه د مقدسپالو ظلم چې له خلکو تریخی ویستی وي. ټول په دې باور وو چې ممکن د سترملا په خوله مظاهرې ته ووځي. ده چورت واهه چې هغه ته څنګه ووایي؟ سبا یې بادام پوښتنې ته راغی. د اشرف له ډاره د لوی انګړ په چمن کې منتظر و. میوند ورڅخه وغوښتل چې سترملا همکارۍ ته وهڅوي. هغه موسکی شو:

– اخله نو. زومان یې بدې شي. لکه دده په ایزت چې تېری کوي.

میوند په سرمو کې وپښېد:

– ده چې د خلکو څلور لوښې راوستي؟

– اغه نه ویني. ای مشره! ولې خپله ورته نه وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– منې ماته ځان بد ښکاري. وايي به خپل کومک په دا سترګو سترګو رامنډي.

– نه کنه. ستا خو پکې شخصي ګټه نشته. د وطن دپاره وايې. اغه دی. راروان دی. ورشه، ورشه!

بادام د بوټو پناه شو. میوند زړه نازړه ورغی. ستر ملا غټ غټ کتابونه په تخرګ کې نیولي وو. ده یې لاس ښکل کړ.

هغه سترګې تېرې کړې:

– ته تر اوسه دلته یې؟

– وځم صیب. لږه پاتې ده. بیا به مې ونه وینئ.

ستر ملا روان شو. میوند د درولو جرئت نه کاوه. بادام د ونې له څنګه کتل. دی ورڅخه وشرمېد. منډه یې کړه. د ګلانو د پټیو په منځ کې یې ستر ملا ودراوه. هغه پورته ښکته وکتل:

– صاحبه مهربانه! امر وکړئ!

– عالي قدره! تاسې ته خو مالومه ده چې زموږ په خلکو ظلم روان دی.

– ما دا خبره د الله یار شاه سره یاده کړې ده.

میوند په ښویه وېښتانو لاس د څټ زخم ته تېر کړ. ویې پوښتل:

– د وطن د اشغال مو ام ویلي؟

– نه. پاچا او وزیران زموږ خپل دي. اشغال دې ته نه وايي.

میوند شنې سترګې ورپولې:

– منې یو ام د امروتین د امر نه بغیر خبره نشي کولی.

– دا بیا ددوئ بې غیرتي ده.

– غم امدا دی کنه. زه کوشش کوم چې خلک آزادي اخېستلو ته پاڅوم.

– ستا خپل کار دی.

– خو خلک نه پاڅېږي.

– خوشاله به وي.

– نه کنه، وېرېږي. زما دوستان وايي که تاسې ورته ووايئ بیا پاڅېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر ملا ژوره سا واخېستله. مخ يې بلې خواته واړاوه. له راګرځولو سره يې وويل:

– په ما الله پاک دا مقدسه وظيفه لورولې ده. پوهېږې ولې؟

ميوند برند برند کتل. نه يې هو ويل نه نه. د ستر ملا غتهه رېيره و خوځېدله:

– په ټولو کې ورته صادق ښکاره شوی يم. نو زه به ولې خيانت کوم؟

ميوند مخ مړاوی کړ:

– هيله کوم. د وطن او ملت د ژغورنې دپاره يې وکړئ!

– ماته اول دين دی.

– منې اينسان خدای ته تر دين مخکې دی. که دين نه وي اينسان به وي. خو که اينسان نه وي دين بيا څه کوي؟

– پام پام! کافر کېږې.

هغه لاړ. د ميوند غړي سست شول. بادام له بوټو څخه راووت. شاوخوا يې وکتل چې څوک يې وانه وري. وپسېد:

– اغه داسې کله کوي؟ ډاربږي. دا موقف يې د لاسه وځي.

سبا ميوند له يوې غونډې ووت. دويمې ته روان و. خبر شو چې دولت يې څو کسه ونيول. دده رنګ سور واوښت. اشرف ته يې د موټر د درولو وويل. سرتاجې په شک وکتل. ميوند زنګ وواهه. دويمه غونډه يې لغوه کړه. له موټره کېوت. په تنګو کوڅوګلۍ شو. سرتاجه ورپسې وه. هغه د پوليسو ترڅنګ تېرېده. سرتاجې په زړه لاس کېښود. ښه و. د پوليسو پام نه شو. ميوند د يوناني طبيب په دکان ننوت. غونج سپينږيري ورته ټيټ او پاس وکتل. ويې پوښتل:

– ځوانه! زېړي وهلی يې؟

– نه. ولې؟

– چرسي يې؟

ميوند ژوره سا واخېستله. ويې پوښتل:

– ماما! ګلمير دې په ياد دی؟

– کوم ګلمير؟

– اغه د زوی واده کې چې يې پيسې په پور درکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اووو، هو، هو. خدای دې وبښي! امغسې ګل ځوان و. سرطان ډېر ناځوانه مرض دی.

– زه یې زوی یم.

سړي په ناستو لاسونه خلاص کړل. میوند یې په غېږ کې ونیو. کیسه یې وکړه چې خوشې یې ځان پورو ړې کړ. هاغه زوی یې بې سُره و. ورک شو. دواړه ښځې یې ناستې دي. نه یې بل زوی ته نکاح کولی شي، نه یې پرېښودلی شي.

میوند یې خبرې لنډې کړې:

– منې زما یو شی په کار دی.

– ویم چې هرڅه وو ایې ستا دسره ځار. څه شی درکم؟

– زهر.

سړي کټ کټ وخندل. میوند غبرګه کړ:

– ټوکې نه کوم.

د سړي غونج مخ جدي شو. یودم یې سر وړاندې او غبرټیټ کړ:

– ورو وایه! څه یې کوې؟ چا درته بد رسولي؟

– بس امداسې یې وبوله.

– لس کاله بند راځي.

– بې غمه اوسه! زه به په مرګ ونه وایم چې چېرته مې اخېستي دي.

هغه سر وخوځاوه. وړوکی بوتل یې له زړې الماری راواخېست:

– هه! د ګلمیر دپاره.

دی ووت. سرتاجه ترې مخکې موټر ته وختله. هغې په کور کې تورې جامې بدلې کړې. ګڼ وېښتان یې تر ټیکري لاندې د جیګرې کمیس په اوږو خواره وو. د میوند کوټې ته راغله. اشرف تروې وکتلې. هغې پرې خیال رانه وړ.

میوند په کوچ کې غلی ناست و. د لاس شا یې ګروله. سرتاجه مخامخ کېناستله. ویې پوښتل:

– وروره! سبانۍ غونډې ته ځو؟

میوند سر وښنډه. د اشرف تندی ګونجې شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وېرېږې؟

میوند شنې سترګې جګې کړې. موسکی شو. تېره زنه یې وربېدله:

– تاسې لاړ شئ! التهامن دی.

– دغه حال دی. خلک تا ته راځي.

میوند بیا سر وښوراوه. سرتاجه پاڅېدله. له الماری څخه یې د زهرو بوتل واخېست. د اشرف ګردې ورږې سترګې راووتلې. میوند لاس اوږد کړ. ګرد کی سرتاجه په درندو ګامونو شاته لاړه. میوند برګ شو:

– منې ځان راباندې مه خفه کوه! راکه!

هغې بوتل ورکړ. اشرف ته یې مخ وګرځاوه:

– پوه شوې چې څه کوي؟ خدای شته مور ته تکړه مشر ښکارېده.

اشرف وازې سترګې میوند ته واړولې. هغه سر وښوراوه:

– زه چې د شازادګۍ نه غچ وانخلمه کله یې پرېدم.

برقي چاینکه وایشېدله. سرتاجې له الماری څخه د وچ چای قطۍ واخېستله. ویې ویل:

– ناممکنه ده. څنګه غچ اخلې؟

– ته یې څه کوې؟

سرتاجه خفه شوه. سر یې ټیټ واچاوه. نری پزه یې په ګوتو کېکاږله. دوه ګیلاسه یې ډک کړل. خپل یې پرېښود.

غوښتل یې ووځي. میوند وویل:

– سهار دې د پلار موټر تښتوم. اغه په شاهي حصار کې نه تلاشي کوي. التهبه شازادګۍ او قمر اقبال ختم کم.

سرتاجې ګرد مخ راوګرځاوه:

– او دا زهر؟

– دا که ناکامه شوم.

– او اغه د مینې جادو؟

چوپتیا شوه. میوند سوړ اسویلی وکړ. وروسته د سرتاجې غږ جګ شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خدای شته د قمر اقبال وژنه د آزادۍ په ګټه ده. خو ځانته نه کېږي. زه درسره ځمه.

میوند پوهېده چې دده لپاره قرباني ورکوي. سریې وځنډه. سرتاجه کلکه شوه. ګوابې یې وکړ چې پلان یې ناکاموي.

میوند حیران و چې دا په څه لانجه واوښت. اشرف وویل زه به ورسره لاړ شم. دا وخت بادام له دروازې سر ښکاره کړ:

– تاسې یو نه ځئ. زه ځم.

ټول ورتاو شول. سرتاجې وویل:

– ایځوک نه پرېږدم.

د اشرف ګرد مخ تک سور واوښت. بادام ته یې کړ:

– تاته ما ندي ویلي چې واده پورې به نه راځې؟ وځه! چټک!

هغه لکه بېخي چې اورېدلي نه وي. میوند ته یې د لاس په اشاره سرتاجه وښودله:

– مشره! دا به پاتې شي. که په تا څه وشي دا د آزادۍ پالو مشري کولی شي. او اشرف ځکه نه پرېږدم چې بې تجربې دی. د بېرته وتلو چانس یې نشته.

اشرف تېره تېره کتل. بادام خبرې وغځولې:

– د موټر تښتولو ته حاجت نشته. لور به یې واخلي! دباندې به کېوځي. موږ به ځو.

سهار میوند او بادام سپینې جامې، سپینه لونګۍ او تور واسکټان په تن کړل. سپین څادرونه یې په اوږه واچول. منتظر شول چې اته بجې شي. تر وتلو مخکې بادام پاڅېد. اشرف ته یې لاس اوږد کړ:

– بخشش کوه روکی! که مانه غلطي شوې وي.

اشرف اول ځل لاس ورکړ. تېز خپلې کوټې ته لاړ. سرتاجه غلې وه. میوند لیدل چې هغه او بادام یو بل ته دوامداره ګوري. دده ورته زړه ناآرام و. دربواړه ګاراج ته روان شول. نابېره یې سترملا ولید چې موټر ته خېږي. دوئ ځای په ځای میخ شول. پلان یې اوبو یوړ. سرتاجه د دروازې ساتونکو ته ورغله. هغوئ نه پوهېدل چې سترملا چېرته لاړ.

میرې یې هم له موضوع خبرې نه وې. دوا یې په مېز پاتې وه. میوند وپوښتل:

– دوا ورته ځونه موهمه ده؟

– خدای شته زه یې ورباندې په زوره خورمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند سوړ اسویلی وکړ. د بادام اوږده ږیره وخوځېدله:

– بېرته به راشي کنه.

میوند لویې دروازې ته مخامخ ناست و. هره دقیقه ورباندې لکه کال تېرېدله. هېڅ د غرمې ډوډۍ ونه خوړه.

ماسپښین شو. لاهم موټر رانغی. بادام ناآرامه ګرځېد. یودم سرتاجې ته مخامخ ودرېد:

– تاسره یوازې غږېدی شم؟

سرتاجې د توقع خلاف ومنله. په بادام پسې کوټې ته ننوتله. دروازه یې هم وتړله. میوند حیران و. دا هاغه سرتاجه نه وه چې ده پېژندله. په کوټه کې دواړو مخامخ یو بل ته کتل. د بادام اوږده ږیره ورپېدله:

– خدای خبر که زه ژوندی راشم.

سرتاجه وسونګېدله. سوړ اسویلی یې وکړ:

– وی خدایه! نو ولې ځې؟

– چې ته نه یې اغې نه داسې ښه ده.

د سرتاجې اوښکې وځلېدلې. بادام موسکی شو:

– ما ویلې لږ خو دې سمه وګورمه. چې آرماني لاړ نشم.

د سرتاجې اوښکې وڅڅېدلې. حجاب یې له مخې شاته واړاوه. په سپین کمیس کې ښکلې ښکارېده. وپسېدله:

– ما وبښه! ته مې ډېر وځورولې.

د بادام سترګې هم ډکې شوې. په اوږده ږیره یې لاس کش کړ:

– په ما ستا ځورول ام ښه لګېدل.

سرتاجې سلګۍ ووهلې. بادام زړه نازړه غوښتل له لاسه یې ونیسي. هغې یودم غاړې واچوله. بادام وویل:

– اخ! کاش چې مخکې مرګ ته تللی.

د سرتاجې سلګیو لا زور واخېست. دباندې میوند سپین دیوالي ساعت ته وکتل. دوه بجې وې. د لویې دروازې د ساتونکو خنداوې راتللې. بادام او سرتاجه له کوټې ووتل. سترګې یې سرې وې. میوند ورته وهم نه کتل. بجې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېو واو ښتلې. هېڅ نه پېښېدل. پينځه کم څلور وې چې تور موټر سر دننه کړ. په ميوند کې سا وچلېدله. چوست پاڅېد. سترملا کېوت. موټر د ګاراج په لور روان شو. سرتاجه يې مخې ته ودرېدله:

– کيلي راکه ماما! زما موټر خراب دی. دلته نږدې کار لرم.

بادام موټر د باندې ودراوه. سرتاجې دعا وکړه چې په خير بېرته راشي. هغې د موټر شاتنۍ دروازې ته ګړز ورکړ. په ټوله لاره چې به چا دا موټر وليد، سر به يې په درناوي ټيټ کړ. يو ځای کې سرې اشارې ته ودرېد. خلکو ور وځغاستل. موټر يې ښکل کړ. لاسونه يې پرې ولګول او په خپل تندي يې وسولول. د شاهي حصار په لويه دروازه کې يې تلاشي نه کړ. هغه مخامخ د اولې ماڼۍ په لور روان و. له دويم سيټ څخه آواز شو:

– په شاتنۍ دروازې ننوځو. خدای شته الته عسکر نه وي.

دواړو په تعجب مخو نه تاو کړل. سرتاجې وويل چې بې له بادامه ژوند څه کوي. د کوژدن سترګې يې نمجنې شوې. ميوند لاس په ښويه وېښتانو کش کړ. زخم يې وسولاوه. اوس يې پام شو چې دده لپاره بله مينه بربادېږي. امر يې وکړ:

– وګرځوه! موټر وګرځوه! وځو.

دا ځل سرتاجه او بادام حيران شول. ميوند وروځې بره کش کړې. ويې ويل:

– سبا نولسمه نېټه ده. د مظاهرې ورځ ده. يو وروستی زور وهم.

سبا د موټر ساعت نهه بجې ښودلې. د ميوند، سرتاجې او اشرف سترګې په مرکزي چوک کې وې. موټران د معمول په شان تلل راتلل. ميوند کله نوکان ژوول، کله يې د څټ زغم سولاوه. يو مهال درې کسه د محراب شکله څلي مخ ته ودرېدل. دوئ تازه شول چې مظاهرې ته راغلي دي. مګر هغوئ څلورم کس ته منتظر وو. په ګډه لاړل. دوئ تر يوولسو بجو صبر وکړ. ميوند رېږدېدونکی لاس په ښويه وېښتانو شاته کش کړ. سرتاجې اشرف ته اشاره وکړه چې ځو. په لاره کې ميوند غوښتل کېوځي. هغې له لستوڼي ونيو. ده شنې سترګې ورواړولې:

– منې په ما ابڅ نه کېږي.

– رښتيا وايې؟

– تاته ابڅکله دروغ نه وايم. خوشې که نو!

هغه د خلکو په جموجوش کې ورک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهي حصار مکمل په رنګه څراغونو او ګلانو ښکلی و. شاهزادګۍ له کورنۍ سره د اولې مانۍ د سالون په منځ کې تېره شوه. حویلۍ ته ووتله. د څراغونو په تونل کې روان شول. کمال شاه د لاس ساعت ته اشاره وکړه. وپسېد:

– اصل کې شل دیقې شته. اخوا دېخوا وګرځئ!

د مرغیو برخې ته لاړل. شاهزادګۍ جالۍ ته ودرېدله. ټولې مرغۍ راغلې. چغ او پغ یې شروع کړ. له شاهزادګۍ سره د هغوئ مینې ته د ملکو اول ځل پام شو. په وازو خولو یې لاسونه کېښودل. ساتونکي د دانې سطل راوړ. شاهزادګۍ ډک موټی وشینده. ټولې په دانې پسې کېوتلې. یوه نیمه لا هم ناسته وه. چغېدله. شاهزادګۍ سلګۍ ووهلې. کمال شاه چې د هغې ځورېدل ولیدل له متې یې ونیوله:

– ځو لورې! پاتې لس دیقې به ګلان وګورو.

تر ګلانو وروسته د بوټو پناه په اوږدو چوکیو کېناستل. ډبه شکله موټر راغی. پخواني باغوان چلوه. کمال شاه ته یې تور مخ او سپین سر ټیټ کړ. د موټر ډاله یې جګه کړه. دوئ شاو خوا وکتل. غلي وختل. لوی څادر یې په ځانونو کش کړ. باغوان موټر د خوسا پاڼو ډېرۍ ته ودراوه. په شاخې یې واچولې. موټر حرکت وکړ. لږ وروسته کمال شاه وپسېد:

– د مانۍ نه به وتي یو؟

– امداسې ښکاري پلاره. د سترملا کور کې به څونه یو؟

– یوه شپه. اصل کې بل ښار ته ځو.

موټر ښایسته وخت وروسته ودرېد. دوئ تر څادر لاندې په تپه تیاره کې غوږ غوږ وو. د ډرېور دروازه خلاصه شوه. د پښو ترپهار یې نژدې کېده. د ډالې د خلاصېدو کړسس او غنګس شو. باغوان غږ کړ:

– اعلی حضرته! ورسېدلو.

دوئ څادر له سره لیرې کړ. پاڼې تیتې شوې. مخامخ الله یار شاه له خندا شین ولاړو. خو جاوید اقبال جدي کتل. شاهزادګۍ تکه زېړه وا وښتله. دوئ له شاهي حصاره بېخي وتي نه وو. کمال شاه پر باغوان سترګې برګې کړې:

– خاینه!

هغه پخ وهل. په تور مخ کې یې ګلابي شونډې ورپېدلې:

– په یاد دې دي؟ چې پاڼې رانه تیتې شوې وې. په عسکر دې ووهلمه. اغه مې هېرېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاوېد اقبال الله یار شاه ته مخ کړ:

- باوري يم چې د خوسا پاڼو لاندې د پاچايانو د پټېدو به دا لومړۍ تجربه وي.

الله يار شاه بيا کټ کټ وخندل. نرۍ غړيې جګ شو:

- عالي قدره! مطمين اوسئ! دا اتلولي به د ريکارډونو په کتاب کې ثبته کو.

- ډېر عالي! او دوئ ته سم پام کوئ! چې د نورو ريکارډونو په قايمولو کې ژوبل نشي.

سهار په تلوېزون کې تود خبر د شاهزادګۍ او قمراقبال د واده و. يوتن د کمال شاه پر کورنۍ د الله يار شاه د ترحم ويل. د هغه د بشردوستانه سياست ستاينه يې کوله. وروسته يې شاهي حصار وښود. له ځراغونو څخه د ودانيو په څېر شکلونه جوړ وو. ميوند تلويزيون بند کړ. په کمپيوټر کې يې ويډيو چالانه کړه. شاهزادګۍ کمرې ته ويل «ته وايې څوک مې بدې شي؟ امم، بې وفا خلک. ويمه سر تې غوڅ کم» دده غوني زيږه شول. د ملايانو جامې يې په تن کړې، ووت. غوښتل يې د سترملا موټروان په ګاراج کې بند او موټر وتښتوي. مګر په نيمه لاره کې ودرېد. موټر په حويلۍ کې ولاړ و. دوو ساتونکو له موټروان سره ټوکې کولې. په ده سر وګرځېد. نور نو د غچ اخېستلو چانس نه و. په درندو قدمونو بېرته راغی. جامې يې بدلې کړې. پر تخت پرېوت. خو په کوټې کې يې سا بندېدله. تېز ووت. تازه هوا هم ګټه نه کوله. سترملا يې مخ ته تېر شو. په ځيريې وکتل. خپل موټر ته وخوت. ويې ويل:

- اوستاده! د جوماتونو د کومک ادارې ته ځو.

ميوند سلګۍ ووهلې. د زهرو د بوتل سر يې خلاص کړ. دننه مايع ته يې کتل. نابيره په دروازه کې د ساتونکو شور شو. د مخپټو پوليسو دوه موټره په زور ننوتل. سترملا يې کېباسه. خپل موټر ته يې وخېژاوه. په ساتونکو يې ټوپک نيولی و. ميوند بوتل په جېب ننوېست. په منډه کې يې چيغه کړه:

- ای ای! دا څه کوئ؟

سرتاجه او اشرف هم راووتل. د پوليسو موټر پر عمومي سرک روان شو. باډۍ يې خلاصه وه. د سترملا لاسونه او ملا په پړي تړلي وو. دوئ ورپسې منډې وهلې. بادام هم ورسره ملګری شو. پوليسو ته يې چيغې وهلې:

- ای کافر شوئ! خدای به مو ورمېږ مات کي! پرېدئ! ستر ملاصيب پرېدئ!

ميوند په موبايل کې عکسونه واخېستل. خپلو دوستانو ته يې ولېږل. اولې شمېرې ته يې زنګ وواهه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اله چې دولت کافر شوی دی. په ستر ملا صیب یې ګوزار وکه. په زوره یې د کوره وباسه. بندي کوي یې.

دویمه شمېره یې ووهله:

– اله چې دولت کافر شوی دی...

ده ته په کتو نورو هم جېبونو ته لاس کړ. په لاره کې ډله ډله خلک ورسره یو ځای شول. ورو ورو پولیس او مقدسپال هم ورګډېدل. آن مخالفین د خپلو قوماندانانو خلاف له سمځو راکېوتل. په ټولو ښارونو کې مظاهرې راووتلې. الله یار شاه عسکرو ته د مظاهره چیانو د ویشتو امر وکړ. خو چا نه منله. د طلاوو په کانونو کې امروتینیانو ځانونه الوتکو ته رسول. د مقدسپالو مشران او واده ته راغلي مېلمانه له میدانه په تېښته الوتل. د امروتین ستوري شاهي کورنۍ له هوا څخه بېرته وګرځېدله. جاوېد اقبال په اولې ماڼۍ کې د واده له تالار څخه بهر منډه کړه. قمر اقبال د شاه ګرۍ په طلایي جامو کې په دهلېز ننوت. مشر ورور یې نارې کړې:

– چېرې لاړې؟ راځه وخت نشته!

د قمر اقبال سترګې سرې وې. سر یې وښنډه:

– زه تش لاس نه ځم. ته راته منتظر شه!

په میدان کې یوازې یوه الوتکه پاتې وه. جاوید اقبال د پیلوټۍ خولۍ پر سر، ورور ته منتظر و. قمر اقبال د ناوې کوټې ته ننوت. د تخت پر سر جالۍ یې وشکوله. تازه ګلان یې تیت کړل. هلته یوازې نوکره وه. ویې ویل چې شازادګۍ امدا اوس له پلار سره ووتله. قمر اقبال منډه واخېستله.

له ماڼۍ څخه لېرې سرتاجه د مظاهره چیانو په بدرګه زندان ته ورسېدله. د مقدسپالو عسکرو ورته دروازې خلاصې کړې. سرتاجې له یو سترګي عسکر څخه وپوښتل:

– وروره! اغه پیلوټ چېرته دی چې کمال شاه سره نیول شوی و؟

عسکر مخته شو. کوټه یې وښودله. شېوه ګل له بچیانو سره شین مخ ناست و. سرتاجې په جګ غږ وویل:

– وروره! خدای شته وطن آزاد شو.

شېوه ګل اول حیران وکتل. وروسته له دړیواړو ښځو او ډله بچیانو سره په منډه ووت. لمر یې سترګې وبرېښولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله خوا خلک شاهي حصار ته ورسېدل. لویه دروازه یې په سوکانو وډبوله. دننه قمر اقبال تاکاوی ته کېوت. شاهزادګۍ او ملکو د تونل د مخ تختې لېرې کولې. کمال شاه منتظر ولاړ و. دده په لیدو د ټولو رنګونه وتښتېدل. ملکې وسونګېدلې. قمر اقبال شاهزادګۍ ته ډیکه ورکړه. هغه د واده په اوږد سپین کمیس کې وکولېدله. له ویښتو یې ونیوله. مور او پلار یې کمک ته ودانګل. قمر اقبال تومانچه ور واړوله. شاهزادګۍ ته یې کړ:

– چټک زموږ الوتکې ته وخېږه! که نه، دوئ وژنمه.

شاهزادګۍ لاسونه جګ کړل:

– صیبي ده، صیبي ده.

هغې په زینه منډه واخېستله. له ماڼۍ ووتله. د څراغونو په لوی تونل ننوتله. شاته شاته یې کتل. میوند یې په بل تونل کې ولید. د ماڼۍ په لور یې منډې وهلې. پر شاهزادګۍ یې د تومانچې نښه ونیوله. هغه پښه نیولې شوه. بېرته یې قمر اقبال ته وکتل. هغه کمال شاه او ملکو ته په تومانچه نېخسکي ورکول. دې ته یې غږ کړ:

– درېږه مه! الوتکې ته وخېږه!

شاهزادګۍ بیا ګامونه واخېستل. له لاسه یې د زهرو بوتل او د میوند عکس ولوېد. ورپسې تېټه شوه. همدا مهال میوند ورباندې ډزه وکړه. مرمۍ یې له سره تېره شوه. قمر اقبال د اولې ماڼۍ مخ ته پر زینې کوزېده. په میوند یې فیرونه وکړل. دی له وار خطایۍ پر ځمکه ولوېد. تومانچه یې واره شوه. ځان یې د دېوال شاته پټ کړ. قمر اقبال تومانچه پورته کړه. کمال شاه او ملکې یې د هوایي میدان په لور تېل وهلې. د وسلې نښه یې د میوند د پټېدو ځای ته نیولې وه. هغه نابېره له بوټو څخه راووت. غېږ په غېږ شول. د قمر اقبال له لاسه دواړه تومانچې ولوېدلې. خو میوند یې په زنګون واړاوه، په ځمکه یې وویشت. سوکان یې مخ ته ونیول. ده هڅه کوله چې ځان خلاص کړي. کمال شاه له ملکو سره رډې رډې کتلې. میوند د قمر اقبال خېټې ته پښې برابرې کړې. له ځانه یې لېرې وغورځاوه. هغه بېرته راغی. بیا یې سوک مخامخ دده په خوله ورخوشې کړ. میوند په تېز حرکت څنګ ته شو. قمر اقبال یې تر غځېدلي لاس ونیو. چټک پر خپل ځای وڅرخېد. د زینې بېخ ته یې وارکړ. قمر اقبال پاڅېد. ویې ویل:

– ښه، دا چلونه دې ام یاد کړي؟

– منې ستاسې کسانو راښودلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قمر اقبال له حملې سره وویل:

– په دې نشې خلاصېدلی.

میوند په تېز حرکت بیا لېرې وغورځاوه. قمر اقبال له ځمکې تومانچه واخېستله. چټک پاڅېد. میوند ته یې واړوله. ډز شو. یوه شېبه دواړو یو بل ته کتل. وروسته قمر اقبال له درب سره په ځمکه ولوېد. میوند له تومانچې سره په شاهزادګۍ پسې منډه واخېستله. اول ځل په لوخو زړور ننوت. میدان ته ورسېد. شاهزادګۍ نه لیدل کېده. وروستۍ الوتکه والوتله. دده له سره تېره شوه. جاوېد اقبال له هوا څخه خپل وروړ په ځمکه پروت ولید. الوتکه یې کېنولو ته تیټه کړه. پام یې زرګونو خلکو ته شو چې په شاهي حصار ننوتل. دی بېرته د امروتین په لور روان شو. میوند د هغه الوتکې ته کتل. پوه شو چې شاهزادګۍ یې له لاسه ووتله. په ځمکه سست کېناست. د سترملا غږ یې واورېد. هغه د خلکو مخ ته ولاړ و. په لوډسپیکر کې یې وویل:

– ورونو! وطن آزاد شو. الله به یې اجر درکي! اوس نو په آرامه بېرته ووځئ! ګډوډي مه جوړوئ!

خلکو سرونه ټیټ کړل. شاید وګرځوله. شېبه پس د دریمې ماڼۍ په تالار کې کمال شاه او سترملا له ملکو سره ولاړ وو. سرتاجه هم ورسېدله. ژورنالیستانو د سرو چوکیو مخ ته کمرې عیارولې. خلکو دا هرڅه په تلوېزون کې لیدل.

سرتاجې پلار ته غاړه واچوله. ویې ویل:

– خدای شته زما تاته سودا وه. پولیسو چېرته بوتلې؟

سترملا موسکی شو:

– اغه د پولیسو په جامو کې د میوند کسان وو. زه یې بوتلم چې خلک د دولت په ضد پاڅېږي.

کمال شاه غږ کړ:

– امروتین غواړي موږ غلامان کي. پلار یې نشي کولی. زموږ ډمان دونه او ښیار دي.

شپږو ملکو او سترملا هم ورسره کټ کټ وخندل. سرتاجې پلار ته مخ کړ:

– پلاره! میوند باید ستا او د اعلی حضرت ترڅنګ وي. چې په تلوېزون کې خبرې وکي.

سترملا هغه په غېږ کې ونیوله:

– وه زما ګرانې لورکۍ! خلک زما او د اعلی حضرت وینا ته منتظر دي. نه د ډم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– داسې نه وايمه. صيي ده. خداى شته آزادي خو اغه اخېستې.

کمال شاه غږ کړ:

– لورې! احساساتي کېږه مه! اصل کې د عسکر وظيفه جنګ وي. خو قهرماني قوماندان اخلي. او بل ميوند به خلکو ته څه وواېي؟ چې وېښتان څنګه جوړېږي؟ که په وريجو کې څونه مالګه واچول شي؟

پاچا بيا له خندا څخه ټول وشرپېده. وروسته جدي شو. په غاړه کې تنوتې زنه يې وخوځېدله:

– هو زما يې خدمت هېر ندى. د مانۍ نايي به شي. نور څه غواړې؟ زموږ قانون دا نه مني چې کم اصل سړى دې د مشرانو په ځاى کېني.

سرتاجې سرو څنډه:

– اعلى حضرته! اينسانان ټول د يو مور او پلار نه پيدا دي. نو په کسب کولو څنګه کم اصل شول؟ دا شاوخوا چې هر څه وينې، دا چې موږ پې نازېږو، ټول د کسبونو برکت دى. که نه موږ به ببرمبر او لڅ لپړ په سمڅو کې اوسېدلو. هه، عجيبه ده. کمال دارو ته کم اصل وايو. بې کمالو ته اصيل.

د کمال شاه سوړ اسويلي وخوت. سترملا پر لور سترګې برګې کړې. د مطبوعاتي کنفرانس جوړونکى بنويه ځوان راغى. سريې ټيټ کړ:

– اعلى حضرته! تاسې او سترملا دې خداى زموږ له سره نه کموي. هرڅه تيار شول.

کمال شاه مايکونو ته مخامخ په لويې چوکۍ کېناست. د کاغذ په لوستلو يې پيل وکړ:

– قدرمنو هېوادوالو! اسلام عليکم! خوشحاله يم چې يو ځل بيا د آزادۍ په فضا کې له تاسو سره خبرې کوم، او تاسو ته زموږ د هېواد د سترې بريا مبارکي وايم. ډاډ درکوم چې د اشغالګرو او د هغوئ د مزدورانو مشران يا ونيول شول يا وتښتېدل. بايد ووايم چې دا آزادي د ملت د ډېرو قربانيو په نتيجه کې ترلاسه شوې. د ټولنې مختلف قشرونه سره يو ځاى شول. د امروتين د اشغال په وړاندې يې پاڅون وکړ. تاسې ټول زما اتلان يئ. زه او تاريخ به ابڅکله ستاسې سربښندنې هېرې نه کړو.

د سترملا وار شو. هغه پرته له کاغذه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– درنو هېوادوالو اسلام علیکم ورحمت الله وربرکاته! زه هم ددې ستر بري او آزادۍ په ویاړ ځان او تاسو ټولو ته مبارکي وایم. تاسې نه یوازې وطن بلکې دین هم د مشرکینو څخه آزاد که. خدای تعالی به یې په بلې دونیا کې اجر درکي. نور نو ټول خپلو کورونو ته لاړ شئ! او د خدای شکر ادا کئ. اسلام علیکم ورحمت الله و برکاته.

کمال شاه په شاهانه شوخۍ په ښویه ځوان غږ کړ:

– الکه! څنګه وه؟ که څه خبره وي چې بیا یې ووایو. آ؟

سترملا موسکی شو. ځوان د تالار په پای کې وړوکي سکرین ته اشاره وکړه:

– اعلی حضرته! اغه دی مخامخ خپرېږي. ستاسې وینا ډېره علمي او عالي وه.

کمال شاه په تایید سر وخوځاوه. دا مهال په سکرین کې د میوند تصویر راغی. هغه له شاهي حصار څخه د وتلو په حال کې و. سرتاجه او سترملا هم ورځیر شول. ژورنالیست له مایک سره میوند ته ورغی. ویې پوښتل:

– ښاغلیه! امدا اوس اعلی حضرت او عالي قدر سترملا خلکو ته د آزادۍ مبارکي وویله. ته د آزادي پالو مشر وې. خپلو هېوادوالو ته څه نه وایې؟

میوند مړاوې موسکا وکړه:

– منې زه د خپلو وطنوالو نه مننه کوم چې ماسره ودرېدل. آزادي یې واخېستله. مبارک دې وي. خو یوه خبره کوم. که موږ د ژوند کولو زړې لارې ونیسو، اشغالګر بیا راځي. نو د اعلی حضرت او عالي قدر ستر ملا صیب نه څو غوښتنې لرم. اول دې ټولو ته خپلې وظیفې بېرته ورکي. دویم دې د طلاوو او الماسو عایدات د قبیلو په مشرانو نه، د وطن په پرمختګ ولګوي. چې ټولو ته ګټه ورسي. دریم دې داسې سیستم جوړ کي چې خلک د وړتیا د مخې د دولت مشر وټاکي. څلورم دې د ناریالین په بانک کې خزانه په تعلیم ولګوي چې موږ له نورو ستورو سره سیال شو. د وخت سره ځان برابر کو.

کمال شاه لاس سکرین ته ونیو:

– لېونی شوی دی.

میوند دوام ورکړ:

– ګورئ وخت مو له ځان سره بیایي. څوک چې نه ځي په کشېدو یې هڅه ونه ماتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د فضايي ځېړنو په مرکز کې ټولو په دېوال باندې همدا شعار ته وکتل. چکچکې شوې. چاغ مشر غږ کړ:

– مور که هرڅونه لرې يو اروا وې مو سره نژدې دي.

د ميوند غږ بيا ټول غلي کړل:

پيڅم دې د پښتو په قرآن د سره غور وکي! کسب، هنر، ادبيات، نوښت او پرمختګ دې ګونا نه ګڼي. بل، مور وطن آزاد که. منې چې فردي آزادي نه وي ايڅ مانا نلري. زمور نيم نفوس غلامان دي. ښځې يادومه. اغوئ ماشومان روزي. يو ماشوم چې د غلامۍ له ذهنيت سره لوی شي نو له ژونده به څه خوند واخلي؟ پرېږدۍ چې ښځې او نر د اينسانيت په چوکاټ کې آزاد او برابر ژوند وکي. مينه وکي. ژوند لنډ دی. چې اغه هم بې مينې شي نو...

د ميوند ستونی ډک شو. په جېب کې يې د زهرو بوتل په ګوتو کې ونيو. ژورنالست وپوښتل:

– دا رښتيا ده چې تا او شازادګۍ مينه لرله؟

د ميوند اوښکې وبهېدلې. وپسېد:

– ما لرله. اغې نه.

يو دم يې څېره تروه شوه. دا يې شاهزادګۍ وليدله. د واده په سپين اوږد کميس کې يې له دريمې ماڼۍ څخه منډې وهلې. ميوند غاښونه وچيچل. په جېب کې يې د زهرو بوتل پرېښود. تومانچې ته يې لاس کړ. شاهزادګۍ سا نيولې ده ته مخامخ ودرېدله. ويې ويل:

– هيله کوم! ما مه پرېږده!

ميوند د هغې سترګو ته وکتل. په زړه کې يې وويل«هه، دې ته زه څونه کمقله ښکارم؟» په سړمو کې وپشېد. تېره زنه يې وخوځېدله:

– تا ولې پرېښودم؟

– د مور او پلار د پاره.

– او س څنګه راغلې؟

– زما او ستا د پاره.

ميوند بيا په سړمو کې وپشېد. مخ يې بلې خواته واړاوه. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چې بيا مې په مينې ملنډې ووهې؟

– ويمه چې بيا ابڅکله د مينې درد ونه وينې.

ميوند د هغې په لاس کې خپل عکس وليد. په زوره يې ترې کش کړ. د هغې او ښکې وځلېدلې:

– هيله کوم! ما په اغه باغ کې خپلې کوټې ته بوځه!

ميوند شنې سترګې کږې کړې:

– مور او پلار پرېږدې؟

شاهزادګۍ سر وخوځاوه. ميوند مکمل ورتاو شو:

– ولې؟

– ما يې حق پوره ادا که! نور د ځان دپاره ژوند کومه.

د ميوند پام د عکس شاته متن ته واوښت. ويې ليدل چې هغې يوه شېبه هم هېر کړی نه دی. يو دم يې په زړه باندې د مينې د خوږو طوفان راغی. سترګې يې ډکې شوې. موسکی مخ يې آسمان ته کړ. دواړه منګولې يې په ښويه وېښتانو کش کړې. شاهزادګۍ ورجوخته شوه. د هغه لاس يې ونيو. په ګډه له اوښکو او موسکا سره د دروازې په لور وخوځېدل. دوه سرخلاصي بوتله په سرک وکولېدل. د زهرو اوبو د چليپا علامه جوړه کړه.

دباندې د زرګونو خلکو په سر کې بادام او شېبه ګل شعارونه جګ نيولي وو «ميوند د آزادۍ اتل دی. موږ له ميوند سره يو. ميوند زموږ پاچا دی» شېبه پس يې هغه په اوږو اخېستی و، په شاهي حصار ننوتل. همدا شعارونه يې په جګ غږ تکرارول. شاهزادګۍ هم ورسره په مضبوطو ګامونو د اولې ماڼۍ په لور روانه وه. د کمال شاه او سترملا رنګ تک سپين شو. سرتاجې له سکرين څخه سترګې واړولې. ويې ويل:

– پلاره! زه باور لرم چې تاسې او اعلی حضرت د خلکو له ارادې سره مخالفت نلرئ!

هغوئ په تښتېدلو رنګونو تلويزوني کمرو ته وکتل. سرونه يې وښنډل.

د افغانستان د فضايي څېړنو په مرکز کې چاغ مشر د هوسايۍ سا واخېستله. مخ يې همکارانو ته واړاوه:

– بلا وهلو! موږ بايد له خپلو خلکو سره فيزيکي تماس ولرو. په بېړۍ کې ورشو.

هغه ګوته عينکۍ پېغلې ته ونيوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا کار ته کولی شې.

- زه؟

- ته د خپل کار سره بې حده مینه لرې. او اعلی حضرت میوند ثابته کړه چې ریښتینې مینه خامخا کامیابېږي. نن نه پس ته زموږ د فضايي څېړنو د مرکز مرستیاله یې. بریا دې غواړم.

د ټولو خولې وازې شوې. بیرسرې او بېرېږیرې ځوان چکچکې وکړې. ویې ویل:

- ارزي، ارزي.

ټولو همکارانو مبارکیانې ورکړې. عینکۍ پېغلې د میوند په شان مخ آسمان ته کړ. منګولې یې په سر شاته کش کړې. د همکارانو خندا ګانو یې په تالار کې انګازې وکړې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**